# کـــائـــنـــات

## له تحت الثری نه تر عرشه

## کتاب لنډیز (خلاصه)

مؤلف : نجیب الله عابد دساینسي علومو لسانس اودننګرهار
پوهنتون مرکزي کتابخانې عمومي مدیر

دیوي نمبر: ۰۳۰
کال :۱۳۰۱هـ ش =۱۴۴۴هـ ق
دوهم ایډیشن
مسلم کتاب پلورنځی : اسحاق زی مارکیټ زیرزمیني

**قیمت = ( ۷۰ ) افغانی**

دا کتاب دننګرهار اطلاعات وفرهنګ محترم ریاست سره رسمًا ثبت شوی

**دچاپ ټول حقوق دلیکوال سره محفوظ دي**




## علامه مفتي عبدالواسع صابر د اسلام او ساینس استاد تقريظ

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام على رسوله الکريم محمد وعلى اله وصحبه وسلم ! قال الله تعالی في کتابه الکريم (( سَنُرِيهِمْ اياتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ )) (( فصلت : ٥٣ )). په کائناتو کې غور او تفکر دالله عز وجل دمعرفت او پیژندنې ښه وسیله ده ، هر څومره چې دا شناخت او معرفت زیاتیږي هومره الله تعالی ته تقرب او نزدیکت زیاتیږي ـ زما محترم کشر ورور حاجي مدیر صاحب نجیب الله عابد چې کوم کتاب لیکلی په هغې کې دکائناتو او مخلوقاتو په زړه پورې معلومات وړاندې کړي چې دالله تعالی دمعرفت لامل ګرځي ـ په کتاب لیکلو کې دمختلفو منابعو او مأخذونو څخه استفاده شوې چې دلیکنې اهمیت یې لا زیات کړی دعزتمندو لوستونکو څخه هیله لرم چې خپل ځان له دی مهمو معلوماتو څخه خبر کړي او بیا ددی په رڼا کې نوره مطالعه هم وکړي او بالاخره دخپل دین او هیواد لپاره دخدمت مصدر وګرځي                په احترام

عبدالواسع صابر ٥ /١٣٩٣/١٠هـ ش

## فضیلۀ الشیخ الدکتور عبدالقیوم «مدني» تقریظ:

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده ! وبعد : دالله تعالی جل جلا له دوینا مصداق چې فرمایي :(( سَنُرِيهِمْ اياتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ    (( فصلت : ٥٣ )).

دمحترم الحاج نجیب الله عابد صاحب علمي اثر« کائنات له تحت الثری نه تر عرشه »تر عنوان لاندې کتاب مو په بشپړه توګه ولوستلو او دلوستلو نه پس خپل نظر داسې څرګندوم

١ ـ محترم لیکوال خپل کتاب نهه فصلونو کې له تحت الثری نه تر سدرة المنتهى او عرشه پورې تفصیلي معلومات یې دمهمو مأخذونو او منابعو څخه راجمع کړي چې کتاب ډیر دلچسپ او په زړه پورې دی ځکه چې دلازیات وضاحت لپاره یې تقریبي نقشو او انځورونو څخه کار اخستی

٢ ـ نو موړې کتاب په پښتو ژبه لیکل شوی زما په اند په دی مهم علمي موضوع کې چا په پښتو ژبه کې لیکنه نه ده کړې او دا یو ستر خدمت دی

٣ ـ دتکنالو ژۍ په دی مترقي دور کې دالله تعالی دقدرت نښې دساینس او فلکیاتو دعلم په ژبه خلکو ته څرګندول دا یو ستر جهاد بلل کیږي

په اخره کې محترم لیکوال ته دزړه له کومې دعاء کوم چې الله تعالی دی ددوی په علم او عمل کې برکت واچوي تر څو لا دخدمت مصدر وګرځي        په درنښت

دکتور عبدالقیوم ( مدني )

دننګرهار پوهنتون دژبو او ادبیاتو پوهنځي دعربي څانګې استاد

## دکتور استاد پوهنوال مولوي دل اقا نقيب زاده تقريظ

الحمدلله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على رسوله محمد واله واصحابه اجمعين اما بعد: قال الله تعالى في كتابه المجيد وفرقانه الحميد: إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ۝ الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ۝ ال عمران ) وبعد : محترم ورور حاجي نجيب الله عابد چې د (كائنات له تحت الثرى نه تر عرشه ) تر عنوان لاندې كتاب ليكلې مايې ځنې برخې په دقت سره ولوستلې واقعا د خاصو او عامو لپاره زړه راښكونكي مستند مفاهيم لري اوهر شخص ته په لوستلو سره تر يو حده سكون او اطمنان حاصليږي او هر لوستونكي ته دالله تعالى په دې لويو لويو مخلو قاتو كې دفكر كولو زمينه برابروي سره له دې چې دا كتاب دمعلو ماتو يوه حيرانونكي مجموعه ده چې هر لوستونكى ورڅخه خوند اخلي نو هيله مند يم چې هر تعليم يافته شحص يې خامخا ولولي او مؤ لف ته دزړه له تله دعا وكړي والسلام

دكتور پوهنوال مولوي دل اقا نقيب زاده
دننگرهار پوهنتون دشرعياتو پوهنځي استاد

## دزراعت پوهنځي استاد عبدالهادي «عاصم» تقريظ :

الحمدلله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على رسوله محمد واله واصحابه اجمعين اما بعد : په قرآن عظيم الشأن كې دكائناتو دپيدايښت په هكله ځاى پرځاى بحث شويدى ، كله خو يې اسما نونه ، لمراو سپوږمۍ او كله كله ستوري او كهكشانونه او كله يې هم ځمكه غرونه ،دريابونه او ځنګلونو ته اشاره كړيده چې دا كائنات ،غرونه ، سيندونه او دريابونه ، زمكي ، اسمانونه ، لمر ، سپوږمۍ ، ستوري او كهكشانونه بې ځاى ، عبث او تصادفي نه دي پيدا شوي بلكې هغه ذات چې دكامل علم او قدرت خاوند دى پيدا كړي. محترم ورور الحاج نجيب الله عابد صاحب چې كوم كتاب د كائناتو د پيدايښت او د هغې دتسلسل په هكله ليكلې ځوكاله پرله پسې يې له ډيرې خوارى او شوګيرۍ ، مهم ،اړين او ګټور معلومات راټول كړي ، الله جل جلاله دى ورته په دُنيا او اخرت كې اجر عظيم وركړي . رښتياچې نوموړې كتاب په ساينسي او عقيدوي لحاظ ډير په زړه پورې معلومات لري ، چې د الله جل جلاله په وحدانيت ، قدرت او پراخه علم باندې دلالت كوي ، زما د ټولو استاذانو ، محصلينو او پوهانو څخه دا هيله ده چې له نوموړي كتاب څخه ګټه واخلي او خپله ديني او ساينسي تنده پرې ماته كړي ، په اخركې بيا هم دالحاج نجيب الله عابد څخه مننه كوم چې په دې حساس وخت كې يې ډيرګټوركتاب ټولني ته وړاندې كړ.          والسلام

عبدالهادي عاصم دننگرهار پوهنتون كرنې پوهنځي استاد
۷/۷/ ۱۳۹۳ لمريز كال

# استاد پوهنمل سید شا علي «همت» تقریظ

الحمدلله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی رسوله محمد واله واصحابه اجمعین اما بعد : الله تعالی دکائناتو اوزمکې دمخ مخلوقاتو دپیدایښت په باره کی فرمایلی چې ایا دامی عبث پیداکړی دی ؟ نه بلکی دانسان دژوند دتامین دپاره پیداشوي دي.
الله پاک په قران عظیم شان کې دکائناتو دخلقت په هکله په ډیرو ایاتونو کې بحث کړی کله یی اسمانونه لمر اوسپوږمی او کله یی دکایناتوخاص نظام باره کی یادونه کړی چه دا دسالم عقل لرونکی انسان لپاره دالله پاک دوحدانیت او قدرت نښی دی
د محترم ورور الحاج نجیب الله عابد صاحب لیکلی کتاب ( کائنات له تحت الثری نه تر عرشه ) کې دکایناتو سترو جوړښتونو څخه تر واړه اتوم پوری معلومات وړاندی شوي دي . ما دکیمیا د علم له نظره مطالعه کړو هغوی ته دساینسي وړتیا ډاډ ورکوم او له بله اړخه څرنګه چې عابد صاحب دکیمیا او بیولوژي څانګې لیسانس په سویه فارغ شوی دکتاب کیمیا وی برخو لیکنه دنوموړي حق دی او د ښونکي الله څخه ورته دنورو لیکنو توفیق غواړم او د پوهنتون د زده کونکو او مسلکی استاذانو لپاره ددې کتاب مطالعه کتوره اواړینه بولم . دنجیب الله عابد صاحب دزیاتو بریالیتوبو نو په هیله .

پوهنمل سید شاعلی (همت)

دننګرهارپوهنتون ساینس پوهنځی برحال استاد

# استاد پوهنوال عزت الله تقریظ

دایوڅرګند حقیقت دی چې د موجوده عینی شرایطو په پام کې نیولو سره دیوعلمی اثر لیکنه دعلمی نویو او معتمدو کتابونو او اثارو دنشتون له امله ساده او اسانه کار نه دی ددی ستونزو سره سره محترم نجیب الله عابد توانیدلی دی چی یو اثر د( کائنات له تحت ثری نه ترعرشه) ترسرلیک لاندی تکمیل او دمسلک خاوندانو او لوستونکو ته وړاندی کړی .
دغه اثر دبیلابیلو موضوعاتو لرونکی دی په مناسبه سریزه پیل وریسی په لمړی څپر کی کی تحت ثری په دوهم څپر کی کی اتوم په دریم څپرکی کی انسان په څلورم څپرکی کی جنیات په پنځم څپرکی کی مرک په شپږم څپر کی کی نجوم په اووم څپرکی کی اسمانونه اتم څپرکی کی جنتونه نهم څپرکی کی دالله ﷻ په هکله مهم او کټور معلومات وړاندی کړی دی ماددی اثر شپږم څپرکی چې دنجوم په هکله لیکل شوی ټول متن په دیقت ولوست ددی فصل ترسرلیک لاندی یوشمیر فرعی عنوانونو ته ځای ورکړل شوی لکه ستلایټونه ،اسمانی تیږی ،سیاری ،نابولاګانی ، کهکشانونه ، بلیک هول او نوروموضوعاتو په هکله ډیراهم او مهم موضوعات یی راټول کړی چی لوستونکو ، مینه والو او دمسلک خاوندانو ته کټور دی او داثر په وروستی برخه کی اخځلیکونوته ځای ورکړل شوی دی لیکونکی ددی اثر په لیکنه کی ډیر زیاراستلی دی ژبه یی روانه عام فهمه کلیمی یی کارولی او دموضوګانو تسلسل یی په پام کی نیولی دی همدارنګه دښه پوهاوی په خاطر یی مختلف جدولونه اوانځورونه داثر دمتن په مناسبو ځایونو کی ځای پرځای کړی دی ددغه څیرنیز اثر لیکنه

چې په پښتو رسمی ژبه ترسره شوی یو کټور کاربولم او لیکونکی ته یی دلوی الله ﷻ څخه دلابریوغوښتونکی یم ( په درنښت)

پوهنوال عزت الله
دننګرهارپوهنتون ښوني اوروزني پوهنځی
تاریخ اوجغرافیا دیپارتمنت برحال استاد

## استاد پوها ند جانس ( زړن ) تقریظ

« کائنات له تحت الثری نه تر عرشه » کتاب چې کله ما ولوسته نهه څپرکي « فصلونه » لري هر څپرکی یې په خپل ځای کې ډیر مهم او ارزښتناکه دی او چاپ یې یوه مهمه اړتیا ده ، ،علامه سید جمال الدین افغان وایي « چې کله اروپا ته لاړم مسلمانان نه وه خو اسلام وه ، چې کله اسلامي هیوادونو ته راغلم مسلمانان وه خو اسلام نه وه » داسلام د مبارک دین فلسفه امر بالمعروف او نهې عن المنکر ده داسلام دین دعمل دین دی او دانسانیت په خدمت کې دی له دی وجه هر مسلمان مکلف دی په خپل ژوند کې دخیر کارونه وکړي او نورو ته هم خیر ورسوي . داچې دننګرهار پوهنتون مرکزي کتابخانې عمومي مدیر مولانا نجیب الله « عابد » صاحب چې کومه نایابه ملغلره لیکلې دا په پښتو ژبه کې یو نوښت او ابتکار دی ، زه مولانا صاحب نجیب الله « عابد » ته ددی کتاب دلیکلو اجر د الله ﷻ له درباره غواړم او دعا کوم چې الله پاک دی ورته نور هم توفیق ورکړي چې داسې نایابه کتابونه ولیکي ، او دخپلو مسلمانانو، پښتنو ، افغانانو او هیوادوالو په واک کې ورکړي په پای کې دا وایم چې « کائنات له تحت الثری نه تر عرشه » کتاب ډیر مهم او ارزښتناک علمي اثر دی او چاپ یې ډیر اړین دی

پوهاند جانس « زړن »
دژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد
۱۳ / ۱۱ / ۱۳۹۳ هـ ل

## دکتور استاد پوهندوی مولوي اسرار الحي منیب تقریظ

یارب لک الحمد کما ینبغي لجلال وجهک وعظیم سلطانک والصلاة والسلام علی خیر خلقه محمد وعلی اله واصحبه اجمعین اما بعد : قال الله تعالی في محکم کتابه : لَا الشَّمْسُ يَنْبَغِي لَهَا أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ (٤٠)یس

دننګرهار پوهنتون دعمومي کتابتون دامر محترم نجیب الله عابد لیکنه « کائنات له تحت الثری نه تر عرشه » دمحترم استاد عبدالواسع صابر سپارښت لیک چې دموضوع په اړه ښه معلومات لري جرأت را وباښه تر څو پرې یو څو کرښې ولیکم

هره لیکنه ځانګړې اهداف او موخې لري ، چې ددې لیکنې ستر هدف به هم په کائناتو کې دغور او سوچ له کبله دالله ج وحدانیت او مغیباتو په لور دایمان تشویق ، هڅونه او قوت وي . په پښتو ژبه کې دا لیکنه یو ستر علمي ګام دی زه یې محترم لیکوال ته مبارکي وایم او دلیکنې دلا کره کیدا او مسلسل تحقیق هیله یې لرم او په اړه یې محترم مولانا صاحب

فرقان الله ته سپارښتنه کوم چې دخپل والد ماجد داستر خدمت دنبوي احاديثو دتخريج او دعلماوو دويناوو دصحت اوضعف په ګاڼه سمبال کړي .
الله ج دې په خپل دربار کې قبول او دلوستونکو داستفادې وړ وګرځوي . امين .
پوهندوى اسرارالحى منيب
دننګرهار پوهنتون دشرعياتو پوهنځي داسلامي تعليماتو دڅانګې آمر

## دننګرهار داطلاعات وفرهنګ رئيس استاد اورنګ صميم تقريظ

الحمدلله وکفى والصلاة والسلام على عباده الذين الصطفى اما بعد : ( فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ، {وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ} [الْعَنْكَبُوتِ: ٦٩] ښاغلى استاد نجيب الله عابد زما دهغه نږدې دوستانو له ډلې يو دى چې له ډيرو غوره خويونو عادتونو او دژوند طرز يې ماته دخپلې دوستۍ وياړ رابخښلى حاجي صيب عابد نه زما کليوال او کوڅه وال دى ، نه ټولګيوال او نه ددې فاني نړۍ کاروباري او ګډونوال ، خو تر منځ مو يو مشترک ټکي شته هغه هم ددعوت او تبليغ مشترکه مدرسه او دتوحيد سپيڅلي عقيده ده همداده چې تر اوسه مو تر منځه له اخروي ګټو پرته په هيڅ مادي او دنيوي ګټو سرخوږى نه دى کړى او نه مو ددنيا ساز وباز انديښنه کړې ده ، خو کله کله بسترې پرشا په دې او هغې جوماتو کې په ګډه دالله ميلمانه يو ، درې شپې او درې ورځې ( سي روزې ) ددعوت او تبليغ په نيت له يوې ډلې څوانانو سره له کوره وځو دالله ج او دهغه نازولي پيغمبر رسول الله ص مبارک حکمونه اورو او تر خپلې وسې يې نورو ته رسوو حاجي صيب ددې امر دتحقق لپاره دژمن مسلمان په توګه تل دالله ج په مخلوقاتو او کائناتو کې فکر کوي او تل په خپلو خبرو کې دهغه ذات دخالقيت مالکيت او رزاقيت ډيرې حيرانونکي بيلګې بيانوي دوى پوهيدلي دي چې همدا فکر دالله ج په الوهيت اوربوبيت باور پياوړى کوي همدا ده چې دعابد صيب په ويناکې رب العزت څانګړې اغيزه اچولې دا ژور فکر ددى لامل شو چې استاد عابد له « تحت الثرا نه تر عرشه » په الهي کائناتو او تخليقاتو له عجايبو ډک کتاب وليکي الله ج فرمايي{وَالَّذِينَ جَاهَدُوافِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ} [الْعَنْكَبُوتِ: ٦٩]څوک چې دالله په لاره کې کوښښ کوي زه به پرې خپلې لارې پرانيزم اوالله پاک دنيکانوسره دى
شاعروايي : چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي ــ چا ويل چې په درياب کې ګوهر نشته داستاد نجيب الله عابد دې مجاهدې هم ددې امر مصداق او تحقق وموند او کريم رب پرې خپلې لارې پرانستي دکتاب ډيرې په زړه پورې کيسې مې دښاغلي استاد له خوږې ژبې په بيلابيلو جوماتونو کې دبيانونو پر مهال اوريدلي دي . دعابد صيب په نه ستړي کيدونکي زيار ددې علمي اثر راتوله شوې منځپانګه سراسر دقرأن اوسنتو ، ساينس او تکنالوژۍ په رڼا کې دالله ج دحيرانونکي قدرت ستړې نښې دي ، په پاى کې ورته دکتاب دچاپ اوخپراوي له امله دزړه له تله مبارکي وايم نورو پنځونو ته يې ستړګې پر لار
اورنګ صميم
دننګرهار داطلاعات وفرهنګ رئيس

# مــقــدمــه

محترمو لوستونکو! دالیکنه دتیر ۱۳۹۴ش کال چاپ شوي کتاب (کائنات له تحت الثرى نه تر عرشه) لنډیز او خلاصه ده ددی لپاره چې هر څوک ورته لاس رسی پیدا کړي نو ومې غوښتل محتویات یې پخپل حال پریږدم اوغیر ضروري مضامین ترې لیرې کړم
دکائناتو باره کې هر انسان غواړي چې معلومات یې تر لاسه کړي نو له دی وجه دنړی لروبر کې ډیر علماء ، فلاسفه ،سا ینس دانان او نورتخنیکي ماهرین دډیرې مودې راهیسئ په دی کار مشغول دي چې دمعلوماتو په هکله لا پر مخ لاړ شي . زه هم یو له هغو پلتونکو څخه یم چې غواړم خپل معلومات خپل عزتمند مؤمن اومجاهد پروره ملت ته دقرأن ، حدیث او ساینس په رڼا کې دکائناتو له تحت الثرى نه تر عرشه ډالی کړم . ددی کتاب ترتیب دادی چې له ښکته مخلوق نه چې هغه تحت الثرى ده نیولې تر پورته مخلوق چې هغه عرش دی تشریح کیږي لکه یو څوک چې په زینه خیژي قدم په قدم مخ پورته روان وي اول تحت الثرى ، سجین ، جهنم او زمکې بیا په ځمکه کې څه دي بیا له هغې پورته سپوږمی ، لمر ، کهکشان ، اول اسمان ، دوهم اسمان دریم اسمان څلورم ، پنځم ، شپږم او اوم اسمان بیا جنتونه بیا علین ، صدرة المنتهی بیا کرسي او بیا تر عرشه معلومات وړاندې کړم او اخر کې دالله تعالی دلویې او عظمت یادونه هم شوې
الحمد لله ددی کتاب ټول معلومات په قرأن او احادیثو کې شته چې ددعوت او تبلیغ مشران همیشه په خپلو بیانونو کې اول دالله لویې بیانوي دوهم دلمانځه او دریم دعلم او ذکر ، څلورم داکرام مسلم او پنځم داخلاص او صحیح نیت شپږم ددعوت او تبلیغ خبرې او فضایل بیانوي چې ځما استادان هم همدا دي الله تعالی دی ددوی په عمر کې برکت واچوي ددی کتاب په متن کې فکري پوهنه ، اعجاز القرأن ، اسلامي عقیده  او اسلامي فلسفه موجوده ده الله تعالی دی وکړي ښه استفاده ترې وکړی شي .
په دی کتاب کې مو تصویرونه وړاندې کړي اکثریت یې تمثیل دی نه اصل له نټ او نورو کتابونو څخه مو راخستي لکه دجنت دمیوو او خوراکونو په بارکې چې الله تعالی فرمایي :
كُلَّما رُزِقُوا مِنْها مِنْ ثَمَرَةٍ رِزْقاً قالُوا هذَا الَّذِي رُزِقْنا مِنْ قَبْلُ وَأُتُوا بِهِ مُتَشابِهاً ( ۲۵ بقره)
ترجمه :کله چې دوی ته دهغو جنتونو څخه څه میوه دخوراک ورکړل شي نو دوی به ووایي داخو هماغه ده چې مونږ ته مخکې راکړل شوی وه او دوی ته به هغه یو له بله مشابه (یوشانته)ورکول کیږي ) تفسیر ابن کثیر، تفسیر الطبري او تفسیر عبدالرزاق ددی ایت په تفسیر کې لیکلي چې کله جنت کې میوی ووینې نو ددونیا میوې به ورپه یاد شي وبه وایي داخو مخکې هم راکړل شوې وې چې داتصویرونه هم تشبه او مثال دی.
سوال : ځینو ورونو سوال کړی وه چې تا دکائناتو دموجوداتو ترمنځ کومې فاصلې بیان کړې دي دا دومره لیرې لیرې شیان چا ګز او ګام کړل او فاصلې یې تعین کړې او دا څومره رشتیا او دمنلو وړدي؟
ځواب: یو وخت چې زه وړوکی ووم دا متل ما اوریدلی وو چې ( دې تر نملي چا کړي معاملې ) یعنې هغه وخت ځمونږ له کلي (طوطو) څخه نمله چې لس دولس کیلو متره فاصله کې به وي دومره لیرې خلکو ته ښکاریده چې هلته یې دکار وبار زړه نه ښه کاوه چې

لیرې ده او کله به چې څوک دشیرزادو ولسوالی طوطو کلي څخه به کابل ته لاړوچې سل کیلو متره فاصله به نه وي او بیا به راغلو خلک به یې سترې مشې ته راتله او ډوډۍ ګاني به یې ورته کولې اوس که یو سړی دلندن او امریکا څخه راشي نه ورته سترې مشې ته ورځي او نه ورته ډوډۍ کوی مونږ خلک اوس هم هغه مرحله دژوند کې یو دا فاصلې راته تعجبي ښکاري او دفیل په غوږ کې اوده یو چابه ویل چې ناست به په یوه کوټه کې وې او دټولې دونیا سره به په غیر له مزې په تلفون خبرې کوې
زمکه دشمسي نظام یو سیاره ده قطر یې ۱۲۷۵۶کېلو متره دی چې دلمړي ځل لپاره یو یوناني عالم اراتوستن (۲۷۶-۱۹۴ قبل المیلاد) کې داوړي په موسم کې دماسپښین دسیوري دحرکت له مخې دمصر په ژورو ځاګانو کې اندازه کړوچې ډېر کم تفاوت یې له اوسنۍ اندازې سره لرلو یعنې ۲۳۰۰ کاله وړاندې یې تعین کړی او اوس هم صحیح دی .
ویجر یک او ویجر دو دوه فضایي بیری دنن ۱۴۰۲ش=۲۰۲۳م =۱۴۴۴ق نه ۴۶شپږ ځلویښت کاله مخکې ناسا اداري خوشې کړي ۲۴ ملیارده کیلومتره وړاندې رواني دي ۲۳ساعتونو کې سګنال ورځي او ۲۳ ساعتونو کې بیرته یې ځواب راځي نو وایو چې دفاصلو په تعین کې به یوڅه غلطي موجود وي خو انسانانو ډېر پرمختګ کړی ردولی یې هم نشو

**مؤلف : نجیب الله عابد**
**دننګرهار پوهنتون مرکزي کتابخانې**
**عمومي مدیر**






# فهرست


| عنوان | ص |
|---|---|
| استاد عبدالواسع صابر تقريظ | ۲ |
| دکتور استاد عبدالقيوم مدني تقريظ | ۲ |
| دکتور مولوي صاحب دل اقا نقيب زاده تقريظ | ۳ |
| استاد عبدالهادي (عاصم) تقريظ | ۳ |
| استاد پوهنمل سيد شاعلي همت تقريظ | ۴ |
| استاد پوهنوال عزت الله تقريظ | ۴ |
| پوهاند استاد جانس (زړن) تقريظ | ۵ |
| دکتور مولوی صاحب اسرار الحی (منيب) تقريظ | ۵ |
| دننګرهار داطلاعاتو فرهنګ رئيس استاد اورنګ صميم صاحب تقريظ | ۶ |
| مقدمه | ۷ |
| اول فصل : ددی کتاب ليکلو هدف | ۱۰ |
| دکائناتو له ابتداء نه تر انتهاء پورې دپيدا کيدو هدف | ۱۰ |
| | |
| قلم ، لوح محفوظ | ۱۱ |
| تحت الثرى | ۱۲ |
| سجين | ۱۳ |
| جهنم | ۱۴ |
| پل صراط | ۱۶ |
| اتوم (ذره) | ۱۸ |
| کوچني واحدونه | ۱۸ |
| اتومي بمب | ۱۹ |
| دارزانه برق جوړولو اتومي بټی | ۲۰ |
| دډېرو سکرو په وسيله دبرښنا جوړول | ۲۲ |
| ماليکول | ۲۳ |
| حجره يا Cel | ۲۳ |
| شعاع ، شعاع دمذهب له – | ۲۹ |

| عنوان | ص |
|---|---|
| باد يا هوا | ۳۲ |
| اتش فشانونه او زلزلې | ۳۳ |
| طبعي ګاز او پطرول . انسان | ۳۴ |
| فوتوسنتيز يا ضيائي ترکيب | ۲۵ |
| جوړه (مثبت او منفي) اوزړه | ۲۶ |
| جنيات يا پريان | ۳۵ |
| دوهم فصل : | ۳۸ |
| زمکه ـ اوبه | ۴۰ |
| . اتوموسفير | ۴۱ |
| طول البلد: عرض البلد: دا ستوا کرښه : دځمکې قطبونه :حرکتونه : | ۴۳ـ۴۲ |
| سپوږمی ـ اسماني تيکي | ۵۱ـ۴۸ |
| عطا رد)غشئ ـ زهره. مريخ | ۵۱ |
| مشتري ـ زحل ـ او رانوس | ۵۴ |
| نيتون ـ پلوتون | ۵۵ |
| ستارې)لمرونه ـ شمسي نظام: | ۵۶ |
| سحاب يا نابولا | ۵۸ |
| کهکشان | ۵۹ |
| نوري کال ـ غټ ترين لمر | ۶۰ |
| خلورم فصل : سدرةالمنتهى | ۶۸ |
| جنت ، ميوې ،حورې ،غلمان | ۶۹ |
| عرش عظيم | ۹۱ |
| قيامت | ۹۷ |
| الله ﷻ | ۱۰۳ |
| مأخذونه | ۱۰۹ |

# لمړی فصل

## ددی کتاب لیکلو هدف

ددی کتاب دلیکلو هدف او مقصد دادی چې دالله تعالی لويي ، عظمت او قدرتونه دکائناتواو مخلوقاتو په ژبه دقرأن او حديثو په رڼا کې بيان شي او په مخلوقاتو کې د سوچ او فکر ذريعه وګرځي چې له دی سره به په ايمانياتو او عباداتو کې قوت راشي
ذره (اتوم) څومره ورکوټی مخلوق اوبيا زمکه اسمانونه ، جنتونه، کرسي او عرش څومره لوی او پراخه مخلوق دی منظم او تابع دي لکه ذره چې تابع او منظمه ده داټول سره له غټوالي دالله تعالی تابع او په منظم ډول روان او چليږي .
په کائناتو کې سوچ ، فکراو غور کول دالله تعالی حکم دی او عبادت دی، الله پاک فرمايي : قُلِ انْظُرُوا مَاذَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۰۰(يونس۱۰۱) ترجمه: ورته ووايه وګوری زمکه اسمان کې څه دي؟
بل ځای کې فرمايي:أَفَلَمْ يَنْظُرُوا إِلَى السَّمَاءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَاهَا وَزَيَّنَّاهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوجٍ (۶) وَالْأَرْضَ مَدَدْنَاهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْبَتْنَا فِيهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ (۷)تَبْصِرَةً وَذِكْرَى لِكُلِّ عَبْدٍ مُنِيبٍ (۸) ترجمه: ولې دوی پاس اسمان ته نه ګوري چې څه قسم مو جوړاو ښايسته کړی او هيڅ درځ پکې نشته او زمکه مو غوړولې او غرونه مو پرې ايښي او بيا مو په دی کې زړه وړونکې جوړې دنباتاتو راشنې کړي او دا نصيحت او پند دی هر توبه او رجوع کوونکي بنده ته )
بل ځای کې الله پاک فرمايي : ( الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ آل عمران/۱۹۱ ) ترجمه : هغه کسان چې الله يادوي په ولاړه په ناسته او په ملاسته او فکراوسوچ کوي په پيدايښت داسمانونو او ځمکه کې بيا وايي ای ځمونږ ربه داخو دی چېتي نه دي پيداکړې پاکي ده تالره او مونږ داور له عذابه وساته ) په مخلوقاتو کې فکر کول په ايمان کې قوت پيدا کوي او بهترين عبادت دی
حديث دی چې رسول الله وفرمايل : (( دالله ﷺ په مخلوق کې فکروکړئ خودالله ﷺ په ذات کې فکرمکوئ چې هلاک به شئ )) ځکه خمونږ فکر دالله تعالی دذات باره کې دسوچ او فکر کولو نه عاجز دی الله تعالی وراء الوراء دی دټولو مخلوقاتو نه پورته او لوړ دی

## دکائناتو له ابتداء نه تر انتها پورې دپيدا کيدو هدف

تفسير روح المعاني ددی ايت وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ (۵۶الذاريات) په تفسير کې حديث قدسي رانقل کړی كُنْتُ كَنْزاً مَخْفِيًّا فَخَلَقْتُ الْخَلْقَ لِيَعْرِفُوني (أي: فخلقت الخلق ليكون مرآة أشاهِدُ فيها جمالي)ترجمه:الله پاک فرمايي زه پټه خزانه ووم بيا مې مخلوق پيدا کړو دی لپاره چې ما وپيژني( مخلوق مې ددی لپاره پيدا کړو چې دا يوه شيشه او آينه شي چې ځما ښکلا پکې ښکاره شي ) امام بخاري ﷺ ( قل سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ) دسورة عنکبوت ۲۰ ايت لاندې يو باب ايښی ليکلي : ديمن نه څه خلک راغلل رسول ﷺ څخه يې

دکائناتو دپیداینښت باره کې سوال وکړو، عمر ﷺ فرمايي مونږ کې نبي علیه السلام پاڅیده او دکائناتو د پیدا کیدو له شروع څخه یې تر انتهاء پوري خبر کړو تردی چې اهل جنت یې خپلو ځایونو ته داخل کړه او اهل النار یې خپلو ځایونو ته چا چې څه یاد کړل هغه پاته شوه او له چا چې د یاده ووتل هغه هیر شول

عَمْرَو بْنَ أَخْطَبَ، قَالَ: «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْفَجْرَ، وَصَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبَنَا حَتَّى حَضَرَتِ الظُّهْرُ، فَنَزَلَ فَصَلَّى، ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ، فَخَطَبَنَا حَتَّى حَضَرَتِ الْعَصْرُ، ثُمَّ نَزَلَ فَصَلَّى، ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ، فَخَطَبَنَا حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ، فَأَخْبَرَنَا بِمَا كَانَ وَبِمَا هُوَ كَائِنٌ» فَأَعْلَمُنَا أَحْفَظُنَا (صحيح مسلم ۶ باب اخبار النبي صلى الله علیه وسلم )عمرو بن اخطبﷺ فرمايي : رسول الله ﷺ مونږ سره دسهار لمونځ وکړو بیا منبر ته پورته شو خطبه یې شروع کړه تر دی چې ماسپښین شو بیا راکوز شو لمونځ یې وکړو بیا منبر ته وخوت خطبه یې ویله چې مازدیګر شو بیا راکوزشو او لمونځ یې وکړو بیا منبر ته پورته شو خطبه یې ویلې تر دی چې ماښام شو مونږ یې له هغه څه چې شوي وه او څه چې کیږي ټول خبر کړو په څه چې مونږ پوه شولو هغه مو یاد کړل (صحیح مسلم )

# قـلــــم

اول شئ چې الله تعالی په ټول مخلوق کې پیدا کړو هغه قلم وو ، تفسیر ابن کثیر د (ن والقلم ومایسطرون) تر تفسیر لاندې د عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ﷺ حدیث رانقل کړی وایي : چې کله ځما پلار مړ کیدو نو ماته یې وویل :یقیناً ما درسول الله ﷺ څخه اوریدلي چې ویل یې الله تعالی اول قلم پیدا کړوبیایې ورته وویل ولیکه قلم وویل یا رب څه ولیکم ؟ الله تعالی ورته وویل : قدر ولیکه او هغه څه چې تر ابده کیږي (أخرجه ابن أبي حاتم، ورواه أحمد والترمذي، وقال: حسن صحيح غريب)

ددی قلم لویوالی حدیث کې راځي : « له حسن بن سفیان رضي الله عنه څخه روایت دی چې کرسي مرغلرې دي او قلم مرغلرې دي او طول دقلم اوه سوه کاله دی او اوږدوالی دکرسۍ دارنګه دی چې په هغې مخلوق نه پوهیږي »

# لوح محفوظ

هغه کتاب چې تر ځمکې اسمانونو پنځوس زره کاله مخکې ددی لویې قلم په ذریعه ولیکل شو لوح محفوظ وه فتح الباري(دصحیح بخاري شرح) لیکلي لوح محفوظ کتاب دعرش دپاسه دالله تعالی سره دی او امام قرطبي دابن عباس رضی الله عنه قول رانقل کړی چې : ددی کتاب لوحې یا پاڼې دسرو یاقوتونه جوړاو پاس برخه یې دعرش سره نښتي او لاندې برخه یې دماطریون په نامه ملائک ترڅنګ دی جاء في كتاب فتح الباري (ان اللوح المحفوظ هو فوق العرش)، وقد ذكر القرطبي عن ابن عباس أن: "اللوح من ياقوتة حمراء، أعلاه معقود بالعرش، وأسفله في حِجْر ملك يقال له ماطريون... ينظر الله عز وجل فيه كل يوم ثلاثمائة وستين نظرة)، وعن أنس أنه قال: (إن اللوح المحفوظ هو في جبهة إسرافيل).(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَمَّا قَضَى اللَّهُ الخَلْقَ، كَتَبَ كِتَابًا عِنْدَهُ: غَلَبَتْ، أَوْ قَالَ سَبَقَتْ رَحْمَتِي غَضَبِي، فَهُوَ عِنْدَهُ فَوْقَ العَرْشِ " صحيح بخاري

قرانکریم هم دهغه کتاب (لوح محفوظ) یوه برخه ده چې په یوځل اول اسمان ته رانازل شو بیا په ۲۳ کالو کې په محمد الرسول الله دموقع مناسب لږ لږ رانازلیدو چې دی باره کې الله پاک فرمايي بَلْ هُوَقُرْآنٌ مَجِيدٌ(۲۱)فِي لَوْحٍ مَحْفُوظٍ (۲۲) بلکه دا قرأن مجید په لوح محفوظ کې دی



دلوح محفوظ ټول متن او محتویات دکائناتو تکویني قانون دی کله چې الله تعالی قلم پیداکړو نو ورته یې حکم وکړ ولیکه هغه وویل یا الله څه ولیکم ؟ الله تعالی ورته بیا حکم دلیکلو وکړ او ورته یې وویل چې قدر ولیکه او څه چې کیږي تر ابده هغه ټول ولیکه چې داتکویني قانون دی یعني په کائناتو کې چې څومره کارونه تر ابده کیږي هغه ټول په دی کتاب کې لیکل شوي لکه د مخلوقاتو عمرونه ، ددوی رزق او خوراک ، نیک بختي او بد بختي ددوی کار او وظیفه ټاکل مثلاً سترګې به لیدل کوي غوږونه به اوریدل کوي زړدالو ونه به زړدالو نیسي ام ونه به امونه نیسي دمڼې ونه به مڼې نیسي په ځمکه به شپه او ورځ راځي میاشت او کال به دومره ورځې وي ملائکې به دا دا کارونه کوي جهنم به دعذاب ځای او جنت به دمکافات ځای وي چې په دی لیکلو بیا هیڅکله تبدیلي نه راځي لا تبدیل لکلمات الله داتکویني قانون دی

یوبل قانون دالله تعالی له طرفه جوړ شو چې هغې ته تشریعي قانون وایي په تکویني قانون کې پابندي نشته خو په تشریعي قانون کې بیا انسان مکلف اوپابند دی مثلاً په تکویني قانون کې سترګې دلیدلو وظیفه لري خو په تشریعي کې بیا پرې پابندیانې لګیدلي چې دی ته به ګورې او دی ته به نه ګورې، غوږونه په تکویني قانون کې داوریدلو لپاره دي خو په تشریعي کې پرې پابندي لګیدلي دا به اورې او دا به نه اورې لکه غیبت به نه اورې ددین خبرې اوره او داسې نورـ کله چې الله تعالی دمخلوق دپیدا کیدو فیصله وکړه قانون یې ورته جوړ کړو بیایې پیداکړو نو تر ټولو لاندینی مخلوق یې تحت الثری ده

## تحت الثری

تر ټولو لاندینی مخلوق هغه تحت الثری ده ( امام ابن ابی حاتم ﷺ له ضحاک ﷺ څخه دا روایت رانقل کړی چې الثری د لمدې ختې یوه کنده ده) الدر المنثورفي التفسیر بالمأثور : ج٥ _ ٥٥٢ص )).

امام ابن کثیر ﷺ ددې ایت په تفسیر کې لیکلي چې: لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرَى طه :٦ دځمکې او اسمانونو او ددې دواړو په منځ کې او د هغې څخه لاندې ټوله بادشاهي د الله ﷻ په واک کې او د ده د تصرف ، خوښې، ارادې او حکم لاندې چلیږي ، هغه خالق ، مالک او اله دی ، له ده څخه پرته بل رب او اله نشته.

(( تفسیرابن کثیر: ج٥_٢٧٣ص )).

تفسیرالقرطبي ١١جز ١٧٠ صفحه کې دسورة طه شپږم ایت (لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرى په تفسیر کې لیکلي: » دالثري نه مراد یعنې دتیکي نه

لاندې – هغې تيکي نه لاندې چې په غير دالله نه بل چاته دهغې علم نشته ـ او محمد بن كعب رضي الله عنه  فرمايي : يعني اوومه ځمکه ده ابن عباس رضي الله عنه  فرمايي :ځمکه په نون يا ماهي ده او ماهي په بحر او دماهي اطراف يعني  سر او لکۍ دعرش دلاندې سره لګيږي او بحر په شنه تيکه دی چې شين والي يې داسمان دشين والي په شان دی او داهغه ده چې الله پاک دهغې يا ره کې فرمايلي چې لقمان حکيم صاحب خپل بچي ته وويل : {يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ * [لقمان١٦-١٧] ترجمه : ای بچيه كه يوه دانه دوري په تيکه يا اسمان او يا زمکه کې وي الله پاک به يې راوړي يقيناً الله ډير باريک بينه او خبر دار دی ) اوتيکه ديو غوايي په ښکر ده او غويي په الثري او دالثري نه لاندې دالله نه پغير هيڅوک نه پوهيږي – او وهب بن منبه وايي: چې دځمکې په مخ اوه بحرونه دي او اوه ځمکې دي او دهرې ځمکې په مابين کې بحر دی **خو هغه لاندې بحردجهنم په لمبو پروت دی که چيرې ددې لويې والي او داوبو ډيروالي او يخوالي نه وي نو جهنم به هرڅه سوځولي وه** – او وايې چې جهنم دباد په منځ کې دی او منځ دباد دتيارو يا ظلمت په پرده کې دی چې دهغې لويوالي پغير دالله نه بل چاته نه دي معلوم او دا پرده يا حجاب په الثري باندې دی چې دي سره دمخلوق علم ختم شو  » لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرى) يُرِيدُ مَا تَحْتَ الصَّخْرَةِ الَّتِي لَا يَعْلَمُ مَا تَحْتَهَا إِلَّا اللَّهُ تَعَالَى. وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ كَعْبٍ يَعْنِي الْأَرْضَ السَّابِعَةَ. ابْنُ عَبَّاسٍ ------------ قَالَ: وَجَهَنَّمُ عَلَى مَتْنِ الرِّيحِ وَمَتْنُ الرِّيحِ عَلَى حِجَابٍ مِنَ الظُّلْمَةِ لَا يَعْلَمُ عِظَمَهُ «١» إِلَّا اللَّهُ تَعَالَى وَذَلِكَ الْحِجَابُ عَلَى الثَّرَى وَإِلَى الثَّرَى انْتَهَى عِلْمُ الْخَلَائِقِ.[تفسير القرطبي ١١جز ١٧٠ صفحه« الهدايه الى بلوغ النهايه »

## سجين

له تحت الثری نه راپورته مخلوق سجين دی ( ابن عباس رضي الله عنه دكعب رضي الله عنه  څخه دسجين په هکله پوښتنه وکړه هغه ورته وفرمايل : هغه اوومه ځمکه ده چې په هغې کې دکافرانو او فاجرانو روحونه دي. ( كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ (٧) سورة ويل للمطففين )







امام ابن کثير رحمه الله دسورة مطففين په تفسير کې ليکلي : سجين دفعيل په وزن دی اوله سجن څخه اخيستل شوې اوسجن تنګی ته وايي ،روايت دی چې داځای داوو ځمکو لاندې دی.
د براء بن عازب رضي الله عنه په اوږد حديث کې دي چې امام احمد رحمه الله په خپل مسند کې روايت کړی راغلي دي چې الله جل جلاله دکافر د روح په هکله پرښتو ته حکم کوي چې دده روح  سجين ته ورسوئ ! او سجين د اوومې ځمکې لاندې دی.

ويل شوي دي چي سجين د اوومي ځمکي لاندې يوه شنه غونډۍ ده او دا هم ويل شوي دي چي د جهنم يوه كنده ده.

حسن بصري رحمت الله عليه يو مرسل حديث رانقل كړى وايي: كله چي دنيكانو او مؤ منانو ارواح علين ته راوړل شي نو د مړو شويوخپلوانو مخكيني ارواح يې استقبال وكړي او خوشحاله شي بيا ووايي دى لږ پريږدى چي ددونيا له سختي او غم نه راغلي چي دمه وكړي بيا تري پوښتنه كوي ديو چا باره كي دى ورته دهغه دخير ذكر وكړي هغوى دالله حمد اوثنا ووايي او خوشحاله شي او ووايي يا الله دى نور هم سده كړي او كه دكوم سړي دشر خبر ووايي نو بيا ورته بخښنه غواړي او كه دداسي سړي پوښتنه وكړي چي هغه دده نه مخكي مړ شوى وي نو هغه ورته ووايي چي هغه ځما نه مخكي مړ شوى تاسو ته راغلي ؟ هغوى ټول ووايي إِنّا لِلّهِ وَإِنّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ هغه به لاړ وي خپلې مور هاويه ته ډيره بده مور ده او ډير بد مربي دى ان تر دى پوښتنه تري كوي چي فلاني واده كړى؟ او فلانۍ واده شوې ؟ هاويه دجهنم لاندېنى اخرنۍ دروازه او وادي ده او ټول جهنم دورځې ۴۰۰ كرتې دهاويه كندې نه په الله تعالى پناه غواړي چي هاويه او سجين سره نژ دى دي اويا خو همدا سجين دى عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((أَن أَرْوَاحكُمْ تُعْرَضُ عَلَى عَشَائِرِكُمْ وَقَرَابَتِكُمْ مِنْ مَوْتَاكُمْ؛ فَإِذَا مَاتَ الْمَيِّتُ اسْتَقْبَلُوهُ كَمَا يُسْتَقْبَلُ الْبَشِيرُ، فَيَقُولُونَ: دَعُوهُ حَتَّى يَسْكُنَ؛ فَإِنَّهُ قَدْ كَانَ فِي كَرْبٍ وَغَمٍّ فَيَسْأَلُونَهُ (ل ٣٩٨) عَنِ الرجل فإذ ذكر خَيْرًا حَمِدُوا اللَّهَ وَاسْتَبْشَرُوا وَقَالُوا: اللَّهُمَّ سَدِّدْهُ، وَإِذَا ذَكَرَ شَرًّا اسْتَغْفَرُوا لَهُ، فَإِذَا سَأَلُوهُ عَنْ إِنْسَانٍ قَدْ مَاتَ قَبْلَهُ قَالَ: أَيْهَاتُ مَاتَ ذَلِكَ قَبْلِي أَمَا مَرَّ بِكُمْ؟ فَيَقُولُونَ: إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، ذُهِبَ بِهِ إِلَى أُمِّهِ الْهَاوِيَةِ بِئْسَتِ الْأُمِّ وَبِئْسَتِ الْمُرَبِّيَةِ فَمَا يَزَالُونَ يَسْأَلُونَهُ حَتَّى يَقُولُونَ: هَلْ تَزَوَّجَ فُلَانٌ؟ هَلْ تَزَوَّجَتْ فُلَانَةُ؟)) .

## جهـــــنـــم

له سجين څخه پاس جهنم دى بخاري حديث دى:(جنت او جهنم په خپل منځ كي بحث او خبري وكړى، جهنم وويل : زه د هرمتكبراو جبار لپاره ټاكل شوي يم ! او جنت وويل :ما ته به كمزوري او هغه خلك راځي چي په دُنيا كي چاعزتمن نه ګڼل ! نو الله ﷻ جنت ته وفرمايل : ته زما رحمت يي ! په خپلو بنده ګانوكي چي څوك غواړم هغوى له به رحمت وركوم ، او جهنم ته يي وفرمايل : ته زما عذاب يي ! چاته چي غواړم عذاب وركړم نو په تا به عذاب وركوم ، دواړه به ډكيږي خو جهنمه ته به نه ډكيږي ! تردي چي الله ﷻ به خپل بلاكيف قدم دپاسه پري كيږدي نو وبه وايي : بس دى ! بس دى ! دا مهال به جهنم ډك شي اودده ټول بندونه به يخپلو كي سره رانژدې شي ، او ظلم نكوي الله ﷻ په خپل مخلوق كي پر هيچا باندې، او جنت ته به الله ﷻ نور مخلوق پيداكړي چي پرې ډك به شي ).صحيح البخاري_ ج۶_ ۱۳۸ص ۴۸۵۰







ځرنګه چې دنيکانو او صالحو خلکوځای دالله پاک ميلمستون يعنې جنت دی نو بل پلو ته د فاسقانو او بدکارو انسانانو ځای زندان يعنې جهنم دی چې ډېر سخت او بدځای دی ، دجهنم داوردسونګ مواد انسانان ، پيرېان او ډبرې دي.
په سنن الترمذي او سنن ابن ماجه کې راغلي دي چې دجهنم اور زر کاله بل کړې شونو سور شو بيا زر کاله بل کړې شونو سپين شو بيا زر کاله بل کړې شو نو تور شو اوس هغه بېخي تک تور دی لکه دتورې تيارې په شان دی.
( امام ابن جريج ﷺ ددې ايت ( لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ )( دجهنم اوه دروازې دي ) په هکله وايي : چې لومړی يې جهنم دی ، دويمه يې لظی ، دريمه يې الحطمه ، څلورمه يې سعير ، پنځمه يې سقر ، شپږمه يې جحيم ، چې په دې کې ابو جهل پروت دی او اومه يې هاويه ده )).(( صفة النارلابن ابی الدنيا:ج١_ ١٩ص_ ٨حديث ))
دجهنم اور ددونيا له اوره ( ٧٠ ) اويا چنده دی وهب بن منبه وايې: چې دځمکې په مخ اوه بحرونه دي او اوه ځمکې دي او دهرې ځمکې په مابېن کې بحر دی خو هغه لاندې بحردجهنم په لمبو پروت دی که چيرې ددې لويې والي او داوبو ډيروالي او يخوالي نه وي نو جهنم به هرڅه سوځولې وه دجهنمي يو غاښ به داحد دغره په اندازه وي ، که دجهنمي په خيټه کې لوی لوی غرونه واچول شي معلوم به هم نشي ، دجهنمي دغوږونو له نرميو څخه تر ولو پورې اوه سوه کاله مزل دی
ابو درداء ﷺ درسول الله ﷺ څخه روايت کوي چې : په جهنميانو به لوږه راوليږل شي چې دنور عذاب سره به برابره وي کوم چې به ده حواله دی ، بيا به دخوراک غوښتنه وکړي چې دوينو او زوو نه به خوراک ورکړل شي چې نه به پرې مړيږي او نه به پرې چاغيږي ، بيابه خوراک وغواړي ،دا ځل به داسې خوراک ورکړل شي چې له ستوني به يې نه تيريږي ورياد به شي چې په دنيا کې داسې خوراک به په اوبو تيريدلو نو اوبه به وغواړي ، چې ده له به داوسپنو په ګرمو لوښوکي اوبه ورکړل شي چې مخ له يې نژدې کړي نو دمخ ټوله غوښه او پوستکی به يې تويې شي او چې کله يې خيټې ته داخلې شي نوځه چې يې په خيټه کې دي هغه به ټول ټوټې ټوټې کړی شي ، بيا به دجهنم خزاندار ته اواز وکړي ، هغه به ورته ووايي [أَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا بَلَى قَالُوا فَادْعُوا وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ} ايا تاسو ته پيغمبر په ښکاره او واضحو دلايلو نه وه راغلی ؟ هغوی به ووايي هو! راغلي وه ، دجهنم خزانچي ملائکه به ورته ووايي چغې وهي خو دکافرانو چغې وهل هسې ګمراهي ده » « سنن ترمذي ج۴ ص ٧٠٧»
امام بخاري ﷺ د بي بي عائشې ﷺ روايت را نقل کړی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :( يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ، وَاللَّهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا وَلَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا )( صحيح البخاری : ج ٨ _ ١٢٩ص_ ٦٦٣١حديث ). ( ای د محمد ﷺ امته ! قسم په الله عزوجل ! که تاسو هومره پوهيدای لکه څومره چې زه پوهيږم نو ډير به مو ژړلي او لږ به مو خندلي وای )).
جهنم ډير بد ځای دی دهغې نه دخلاصې لار دالله تعالی اوامر دنبي په طريقه پر ځای کول او دګناهونو څخه ځان ساتل او دالله تعالی څخه دګناهونو استغفار غوښتل دي حديث کې راځي : " إِذَا انْصَرَفْتَ مِنْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ فَقُلْ: اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ سَبْعَ مَرَّاتٍ، فَإِنَّكَ إِذَا

قُلْتَ ذَلِكَ ثُمَّ مِتَّ فِي لَيْلَتِكَ كُتِبَ لَكَ جِوَارٌ مِنْهَا، وَإِذَا صَلَّيْتَ الصُّبْحَ فَقُلْ كَذَلِكَ، فَإِنَّكَ إِنْ مِتَّ فِي يَوْمِكَ كُتِبَ لَكَ جِوَارٌ مِنْهَا "سنن ابي داود) كله چې دماښام لمونځ اداء کړی او بيا اوه کرته وو ايي: اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ يا الله ماته له اوره خلاصون راکړې که چيري په دغه شپه دغه ويونکی مړ شي الله تعالی به ورته له اوره نجات وليکي او که دصبا لمانځه نه وروسته يې اوه کرته ووايي او بيا په دغه ورځ ويونکی مړ شي الله تعالی به ورته داور نه نجات وليکي، «لَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الْعُقُوبَةِ، مَا طَمِعَ بِجَنَّتِهِ أَحَدٌ، وَلَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الرَّحْمَةِ، مَا قَنَطَ مِنْ جَنَّتِهِ أَحَدٌ» مسلم شريف حديث دی که چيری مؤمن دالله تعالی دعذابونو نه پوره خبر شي دجنت له تلو څخه به نا اميده شي او که کافر دالله تعالی درحمت نه پوره خبر شي نو دجنت دتلو په اميد به شي

# پُل صــــــراط

حديث کې دي دتوري په شان به تيره او داور دانګار په شان به ګرم وي چې ځيني به دبرق په شان زر تير شي بعضې به دهوا په شان ، بعضي به دمارغانو په شان ، بعضي به داسونو په شان ، بعضې به دتيزو اوښانو په شان ، بعضي به دګړندي پياده بنيادم په څير او تر ټولو اخرنی مسلمان به چې دده دپښې غټه ګوته کې به نور وي او په پريوتو او پاڅيدو به پورو ځي او خلاصی به بيامومي






الله تعالی فرمايي : وَإِنْ مِنْكُمْ إِلاَّ وارِدُها كانَ عَلى رَبِّكَ حَتْماً مَقْضِيًّا (۷۱) ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا} [مريم: ۷۲] ترجمه: او نشته دی په تاسو کې هيڅوک مګر جهنم ته ورتلونکی دی او دغه ورتلل ستا درب په ذمه يقيني او فيصله کړی شوي دي، خو بيا به هغو کسانو ته نجات ورکړو چې دالله نه ويريدلي وي

تفسير مقاتل ليکلي : عَنْ نَافِعِ بْنِ الأَزْرَقِ: أَنَّهُ سَأَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنِ الْوُرُودِ فَقَالَ: يَا نَافِعُ، أَمَّا أَنَا وَأَنْتَ فَنَدْخُلُهَا فَانْظُرْ هَلْ نَخْرُجُ مِنْهَا أَمْ لا (نافع دابن عباس رض نه جهنم ته دورتګ پوښتنه وکړه هغه ورته وويل : ای نافع زه اوته به داخليږو بيا به وګورو چې وبه وزو او که نه ) مقاتل دا هم ليکلي :په دغه وخت کې به الله پاک اور په مؤمنانو يخ او سلامتيا والا جوړ کړي لکه په ابراهيم عليه السلام چې يې جوړ کړی وو (إلا دَاخِلُهَا فَيَجْعَلُهَا اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِ بَرْدًا وَسَلامًا كَمَا جَعَلَهَا عَلَى إِبْرَاهِيمَ) الطبري ليکلي :دابن عباس رض قول دی چې والله دا داخليدل جهنم ته د هر چا دي که هغه نيک سړی وی او که بد ( كان ابن عباس يقول: كل هذا الدخول، والله ليردن جهنم كل برٍّ وفاجر)

عبدالله بن رواحه رضي الله عنه يوځل دخپلې بي بي پر پندی سر ايښی ملاست وه چې په ژړا شو دده په ژړا بي بي هم په ژړا شوه ده ترې پوښتنه وکړه چې ته ولې ژاړې ؟ دی ورته ځواب ورکړو چې ته مې په ژړا وليدې نو ځکه مې وژړل ده ورته وويل ماته دايت (وان منکم) راياد شو او په ژړا شوم ځکه ماته معلومات نشته چې خلاصې به بيا موم او کنه ؟ دغه وخت دی مريض وو،

تفسير ابن کثير دپورته ايت وان منکم – تر تفسير لاندې ليکلي : مسند امام احمد بن حنبل کې يو غريب حديث کې دي چې ابو سميه فرمايي چې دکومو ورتلو په دی ايت کې ذکر دی په دی کې زمونږ اختلاف راغي چا ويل مؤمنان په دی کې نه داخليږي چا ويل داخليږي خو به ضرور خو بيا به دخپلې تقوا په وجه خلاصې بياموومي زه دجابر رضي الله عنه سره مخ شوم او ددی خبرې پوښتنه مې ترې وکړه نو هغوی وفرمايل ورځي خو به ټول بل روايت کې دي داخليږي خو به ټول که نيک وي که بد ليکن مؤمنانو لپاره به اور يخ او سلامتی والا جوړ شي لکه ابراهيم عليه السلام باندې چې ووخالد بن معدان رحمه الله فرمايي کله چې جنتيان جنت ته ورسيږي وايي به چې يا الله تا فرمايلي وه چې تاسو هر يو جهنم ته داخليدونکی يې او مونږ خو داخل نشونو دوی ته به وفرمايلی شي چې تاسو دهغې نه راتير شوي راغلې يې چې هغه وخت الله پاک دغه اور يخ کړی وو

ابو ميسره رحمه الله چې به کله خپلې بسترې ته تلو نو ژړل به يې او دخولې نه به يې بې اختياره ووتل چې کاش زه پيدا شوی نه وی يو ځل دده نه پوښتنه وشوه چې اخر دومره ولې ژاړې څه وجه ده ؟ نو وفرمايل دا ايت دی وان منکم چې ماژړوي او دا خو ثابته ده چې هلته به تلل وي خو دا معلومه نه ده چې خلاصی به مې وشي او کنه ؟ يو ښه سړي دخپل وررور نه پوښتنه وکړه چې تاته خو معلومه ده چې مونږ به دجهنم نه تيريږو ؟ هغه جواب ورکړو هو ! يقيناً معلومه ده بيا يې ورته وويل دا هم درته معلومه ده چې دهغه ځای نه به ووځو ؟ هغه ورته وويل ددی هيڅ معلومات نشته وررور يې ورته وويل بيا ځمونږ لپاره خندا او خوشحالي څه پکار ده بيا هغه داسې شو چې تر مرګه دهغه په خوله کې خندا رانغله

دعبدالله بن عباس او نافع رضی الله عنهما دواړو په دخول دجهنم اختلاف وو عبدالله ابن عباس رضي الله عنه ورته په دليل کې دا دوه اياته پيش کړل ( إِنَّكُمْ وَما تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنْتُمْ لَها وارِدُونَ (۹۸)الانبياء) اوبل ايت (يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيامَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارِ(۹۸هود) ګوره دی دواړو اياتونو کې دورود معنا دخول دی اور ته ، نو يوځل داخليدل زمونږ ضرور دي او معلومه نه ده چې له هغه ځايه به راووځو او کنه ؟ او دا يې هم فرمايل چې دمخکنيو دوعا داوه چې اللَّهُمَّ أَخْرِجْنِي مِنَ النَّارِ سَالِمًا، وَأَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ غَانِمًا ) يا الله مادجهنم نه صحيح وباسې او جنت ته مې په خندا او خوشحالی داخل کړې

ترمذي کې دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي داخليږي خو به ټول بيا به يې تيريدل دخپل عمل مطابق وي ـ عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې په پل صراط به ټول تيريږي او دا داور سره ودريدل دي چې ځينې به دبرق په شان زر تير شي بعضې به دهوا په شان ، بعضې به دمارغانو په شان ، بعضې به داسونو په شان ، بعضې به دتيزو اوښانو په شان ، بعضې

به دګرندي پياده بنيادم په خير او تر ټولو اخرنی مسلمان به چې دده ډيښې غټه ګوته کې به نور وي او په پريوتو او پاڅيدو به پوروځي او خلاصی به بيامومي

دپل صراط په غاړه به ملائکې ولاړې وي دځنو سره به کوندې وي ګنهګاران پرې رانيسي او جهنم  ته به يې غورځوي او د مؤمن لپاره به دوعاګانې کوي او وايي به وَالْمَلَائِكَةُ يَقُولُونَ: رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ. يا الله په سلامتيايې پورې باسې  يا الله په سلامتيايې پورې باسې

# اتـــــوم (ذره)

دزمکې او په ځمکه کې چې څه دي ټول دوړو وړو ذرو(اتومونو)څخه چې تجزيه نه قبلوي جوړ شوي الله پاک فرمايي : ( لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَا أَصْغَرُ مِنْ ذَٰلِكَ وَلَا أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ).( سبا: ۳)ترجمه: ( له هغه نه ديوې ذرې په اندازه کوم شی نه په اسمانونو کې او نه په ځمکه کې پټيدی شي ، نه له ذرې نه غټ او نه له ذرې نه کوچنې ، هر څه په يو ښکاره دفتر کې ثبت دي )

اتوم يا ذره له درې برخو څخه پروتون ، نيوترون او الکترون څخه جوړ شوی هسته يا مرکز يې چې دپروتون او نيوترون څخه جوړ شوی او شاوخوا ته يې الکترونونه ګرځي راګرځي پروتون مثبت چارج الکترون منفي چارج اونيوترون خنثی دی لکه کوريا فاميل کې هسته مور او پلار دي او الکترونونه يې بچيان دي الله پاک فرمايي:(طوّافُونَ عَلَيْكُمْ) النور۵۸








داتوم ذره ديو سانتي متر خط پنځوس ميلونمه حصه ده او دوه انګسترومه ده اويو انګستروم ديو ملي متر لس ميلونمه حصه ده






# کوچني واحدونه

داتوم او نورو وړو موادو داندازې کوچني واحدونه دادي:  داتوم هسته يو Fm ده چې د يو انګستروم لس زرمه برخه او ديومتر ( ۱۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰ ) ميګاومه برخه ده، مخففات يې دادي ( mm) ملي متر ،( µ  )مايکرون ،( mµ )ميلي مايکرون ( Å )انګستروم ، ( fm )فريکوينسي ميډ يليشن يا راډيوي څپې.

يوملیمتر= زرمايکرون=يوميلون ملي مايکرون= لس ميلونه انګستروم سره

۱mm= ۱۰۰۰µ =۱۰۰۰۰۰۰ mµ=۱۰۰۰۰۰۰۰ Å

=۱Cm=۱۰mm يو سانتي متر = لس ملي متر سره

یومایکرون مساوي د زر ملي مایکرون سره یا دلس زره انګستروم سره
۱µ =۱۰۰۰mµ =۱۰۰۰۰ Å
یو ملي مایکرون برابر دی دیو نانو متر او یا د لس انګستروم سره.
۱mµ =۱nm = ۱۰ Å
۱Å = ۱۰۰۰۰۰ fm یو انګستروم دسل زره fm سره برابردی.
۱m=۱۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰Å یوانګستروم دیو متر لس ملیاردمه برخه ده.
۱cm=۱۰۰۰۰۰۰۰۰Å یوانګستروم دیو سانتي متر سل مېلونمه برخه ده .
۱mm=۱۰۰۰۰۰۰۰Å یو انګستروم دیو ملي مترلس مېلونمه برخه ده .
۱m=۱۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰fm یو fm دیومتر مېګا ومه برخه ده.)
(( زیست شناسي یاخته اي : ۸ ص )).

# اتومي بــمب

داتوم هسته دیو نیوترون پوسیله په دوه کوچنیو برخو ویشل کیږي چې په دې کار کې له یورانیم ۲۳۵ څخه کار اخستل کیږي کوم چې له مهمو عناصرو څخه دی چې د اتومي انرژیو په تولید کې مهم رول لري، کله چې یو ازاد نیوترون په هسته ولګیږي هسته هغه په ډیر سرعت سره جذبوي چې له دې لامله اتوم چاودو او منفجر شي، د اتوم ټول ازاد شوي نیوترونونه نورې هستې ګډ وډې او منفجروي چې دا لړی په ډیره چټکتیا اوکم وخت کې ( دیوې ثانیې په یو ملیاردمه برخه کې ) صورت نیسي او د هر اتوم د له منځه وړلو په پایله کې ډیره زیاته اندازه تودوخه او دګاما شعاع خارجیږي ( چې دیو پوند(۴۲۰ ګرام ) یورانیمو انرژي د یومیلیون ( ۱۰۰۰۰۰۰ ) ګیلن یاڅلور میلونه لیتره پترولو له انرژی سره برابره ده










د بم په منځ کې دتوپ یوه مرمۍ چې دیورانیم ۲۳۵ لرونکې ده چې تر شا یې چاودیدونکي مواد دي دیوې نلکې په یو سر کې نصب او بل سر کې یې د نیترونونو مؤلد یا جوړونکي کوره چې تر شاوخوا یې یورانیم ایښودل شوي نصب ده، کله چې بم په ځمکه ولګیږي د توپ مرمۍ تر شا چاودیدونکي مواد چاودیږي، د توپ مرمۍ په مؤلد راوغورځوېږي چې د مؤلد سره دټکر په واسطه عکس العمل صورت نیسي، له دې سره جوخت د یورانیمو د هستو چاودنې پیل شي چې په پورته شکلونو کې ښکاري، لکه څنګه چې د اور لګولو لپاره لمړی اورلګیت او پلته پکار ده تر څو پلته د اورلګیت په سر کش کړای شي او اور

واخلي بیا نورو شیانو ته ترې اور انتقال شي، داسې په اتومي چاودنه کې هم لمړی وړوکې چاودنه او بیا غټه چاودنه صورت نیسي.

# دارزانه برق جوړولو اتومي بټۍ

د لمړي ځل لپاره په کال ۱۹۵۶م کې د انګلستان د کالډرهال (Calder Hall) په ښارکې دبرښنا د تولید لپاره اتومي برښنا کوټ ستر ریکتور جوړ شو چې د ۴۷ کلونو لپاره یې انګلستان ته برښنا ورکړه، د دې ریکتور هستوي توکي یورانیم وه. د نړۍ تر نیمایي زیات یورانیم کاناډا، آسترالیا او قزاقستان تولیدوي . هستوي ریکتورونه د نورو تولو برښنایي بټیو په بڼه کار کوي او یواځېنی توپیر یې دادی چې دا ریکتورونه د تیلو او سکرو پرځای یورانیم د سون دتوکو په بڼه کاروي.












او هغه داسې چې د یورانیمو د هستې له چاودنې ځخه انرژي لاس ته راځي چې بیا همدا انرژي د ریکټور شا اوخوا اوبه ګرموي او په بخار یې بدلوي، په پایله کې جوړ شوي بخار توربین او توربین د برښنا تولید کوونکي یا جنراتور فعالوي.

یورانیم څو ډوله ایزوتوبونه لري خو یواځې یورانیم ۲۳۵یې د چاودنې وړتیا لري او انرژي تولېدوي. یورانیم ۲۳۵ په طبیعي ډول له ۱٪ څخه کم له یورانیم ۲۳۸ سره ګډ پیداکېږي، همدا یورانیم بیا بداینې ( غنیتوب ) ته اړتیا لري تر څودانرژۍ د تولید وړ شي . یورانیم ۲۳۵ باید له ۲ تر ۳ سلنه بډای شي ترڅو په ریکتور کې د سون  د توکو په بڼه وکارول شي. د یو هستوي ریکتور په منځ کې د بډای شویو یورانیمو څخه ډکه میله تر فشار لاندې اوبو په حوض کې اېښودل شوې وي.کله چې ریکتور فعال وي نو نیوترونونه د یورانیمو هستې بمباردوي او د دغو هستو د چاودنې په بهیر کې ډېره زیاته تودوخه پیداکېږي چې

همدا تودخه اوبه په بخار بدلولای شي. د چاودني په بهير کې د انرژۍ تر ځنګ نيوترونونه هم خپرېږي چې دغه نيوترونونه بيا نورې هستې چاودوي چې په پايله کې يو ځنځيري تعامل را منځ ته کيږي. د دې تعامل د کنټرول لپاره د سون توکو د ميلو ترڅنګ کنټرولي ميلې هم شتون لري چې د اړتيا په وخت کې د يورانيمو دا ځنځيري تعامل د نيوترونونو د جذب په پايله کې کنټرولوي. د ريکټور ټوله بتۍ يوکانکريټي پوښ لري، دا پوښ له بتۍ څخه چاپيريال ته د وړانګو د خپراوي مخه نيسي.
دکپسولونو په شکل چې قطر يې۷،۷۵mm ميلي متره او لوړوالي يې ۱۲mm ميلي متره دی دهسته اي سوځيدو د استوانه اي ميلو په منځ کې کېښودل کيږي، دااستوانه اي مېلې يا پايپونه ۱۶۳ ګيډۍ يا بنډله چې هر بنډل د۳۱۱ مېلو لرونکي دی دريکټر دزړه په شاوخوا کې ځای پر ځای کيږي، بيا نوموړي بيلر ته دجرمنيم دوه فلزي لولې ورښکته کوي، ددې فلزي لولو خاصيت دادی چې ازاد شوي نيوترونونه جذبوي، دا فلزي لولې دبيلر څخه وځي اوننوځي،کله چې داخل شي نيوترونونه راجذبوي اوکله چې بيرته خارجي شي نيوترونونه فضاته ازادوي او خالي کيږي، يا داچې ددې ميلو پوسيله نيوترونونه جذب او فضاته انتقاليږي، پرته له دې چې بهر ووځي تر څو ددې عملېي پوسيله دتوليد شويو نيوترونونود جمع کيدو مخه ونيسي، که چيرې هغه جمع شي نوبيا سخته چاودنه رامنځ ته کيږي، د بيلرپه منځ کې چې ددې نيوترونونو دتوليد په پايله کې کومه ګرمي او تودوخه توليديږي بيلر ډير زيات ګرموي، دبيلر شاوخوا چې کومې اوبه دي هغه هم ډيرې ګرميږي او په ډيرې تيزۍ سره بخارکيږي، ددې بخار دوتلو پايپ ته دبرښنا دتوليد ډاينمو يا توربين نصب شوي چې هغه پرې فعاليږي او په دې توګه برښنا توليديږي، په دې عمليه کې يو کيلوګرام يورانيم يو لوی ښار ته ديو کال لپاره برښنابرابره ولای شي.







دايران د بوشهر ښار اتومي بتۍ په يو ساعت کې۷۰۱۰۰ ميګا واټ برښنا توليدوي،۵۶۰۸۹ ميګا واته په ساعت کې ټول هيواد ته ورکوي اوپاتې پخپله په بتۍ کې په مصرف رسيږي،
په هستوي ريکټورونو کې د نړۍ لمړۍ پيښه د انګلستان د لويديځې کمبريا په ريکټور کې د باد د تيزوالي له امله په ۱۹۵۷ ز کال کې رامنځ ته شوه چې چاپيريال ته يې راډيواکتيف وړانګې خپرې کړې او په پايله کې يې د دې سيمې د شيدو په استعمال باندې بنديز ولګيد. اوسني ريکټورونه د اتوماتيک بنديدلو وړتيا لري او د خطر د رامنځ ته کيدو په صورت کې په خپله غيرفعال ګرځي. دنړۍ تر ټولو ستره او زيان رسوونکې هستوي چاودنه د اوکراين په چرنوبل ريکټورکې په کال ۱۹۸۶ ز کې پيښه شوه، دې چاودنې په سل ګونو

خلک مړه کړل او په سل ګونو زره يې په وړانګوباندې زيانمن کړل. د هغې يو لامل دا وښودل شو چې دجرمنيم فلزي لولې چې په بيلر کې ښکته شوې وې دتخنيکي نيمګړتيا له کبله بيرته راپورته نه شوې، له دې امله په بيلريا ريکترکې نيوترونونه جمع او چاودنه وشوه چې ډېره زياته مرګ ژوبله يې درلوده، هم په هغه سيمه کې راډيو اکتيف وړانګې خپرې شوې چې دډيرو انسانانو د معيوب کېدو سبب وګرځيدې.




## د ډبرو سکرو په وسيله د برښنا جوړول:

د ډبرو سکاره دافغانستان په بغلان ، سمنګان ، هرات او درهٔ صوف کې پيدا کيږي، دکال (۱۸۰۰۰۰) يو لک اتيا زره ټنه راويستل کيږي، چې دا هم دبرښنا په جوړولوکي مهم رول لري، لکه څنګه چې ديورانيمو پوسيله يو بيلرګرميږي او شاوخوا اوبه ورته راځي، هغه تبخير او بيا نوموړې بخار دپايپ پوسيله هدايت او داينمو ته حرکت ورکوي چې بالاخره برښنا توليديږي،همداسې يو بيلر د ډبرو د سکرو پوسيله ګرم او شاوخوا اوبه يې تبخريږي او دا بخار دپايپ پوسيله د ډاينمو څرخ په حرکت راولي او بيادااينمو ته حرکت ورکوي او برښنا جوړيږي.د ډبرو سکاره توره طلا ده اول په چين کې کشف شوې او کله چې په ۱۸۳۰ م کال دامريکا په اوهايو ايالت کې کشف شوه نو په امريکا کې صنعتي انقلاب شروع شو ځکه ددی په ذريعه تيګه ويلې شوه او په تيګه کې الله تعالی تول قيمتي څيزونه پټ ساتلي لکه سره زر ، سپين زر ، يورانيم ، اوسپنه ، مس ، ليتيم ، سرپ او داسې نور جواهرات او فلزات







(مأخذونه):( پوهنيار تنها - اندړ ۰۹-۰۶-۲۰۱۲ )

(کتاب انرژي اتومي ډاکتر اریک ۱۳۸۶هـ ش کال ترجمه کړي شوي
طرز کار بمب اتم! منبع :وبلاگهاي کلاس فیزیك - فیزیك گالیله پرتال فرهنگي اطلاع رساني نور

# مالیکول




مالیکول داتومونو له یو ځای کیدو څخه پلاس راځي لکه دوه هایدروجنه دیو اکسجن سره یو ځای شي یومالیکول اوبه جوړوي ـ ټول شاوخوا مواد که هر څه دي داتومونو او بیا مالیکولونو څخه جوړ شوي چې په حیواناتو اونباتاتو کې بیا ترې حجرې جوړې شوي

## حجره یا Cel

حجرات په نباتاتو او حیواناتو کې ساختماني واحد دی لکه یو تعمیر چې له خښتو جوړیږي داسي حجرې هم ددی دواړو دبدن خښتې دي حجره یا داتومونو کهکشان یو داسي مغلق او پیچده ساختمان دی چې دژوند ټول فعالیتونه لکه تولېد مثل ، هضم او اطراح ، حرکت ، دفاع ، او داسي نور پکې سرته رسیږي چې د وحیدالحجروي حیواناتو په نامه هم یادیږي لکه امیب یو حجروي حیوان دی ټول فعالیتونه پکې اجراء کیږي او دارنګه څومره کثیر الحجروي حیوانات چې زموږ په نظر راځي او که نه راځي د ټولو لمړنی مرحله له یوې حجرې څخه شروع کیږي . وحید الحجروي حیوانات دکثیر الحجروي حیواناتو خد متګاري دي ، حجرې مایکروسکوفیک دي یعني په سترګو نه لیدل کیږي خو ځنې بیا یومتر اوږدوالي لري لکه دهغو حیواناتو عصبی حجرې چې تړ لرونکي او غټ بدن ولري اودارنګه حجرات دایروي ، بېضوي ، مکعبی ، منشوري ، ستني یا غشي ته ورته اوستوري په شان شکلونه لري وړې حجرې $7\mu$ اوه مایکرون څخه تر $\mu$ ۲۰ مایکرون پورې رسیږي لکه دویني سپین کرویات لوکو سیتونه او متوسطي حجرې لکه د ښځې جنسي حجره یا اووم له $100\mu$ څخه تر $140\mu$ مایکرون پورې رسیږي خو عصبی حجره بیا لسګونو سانتي مترو ته رسیږي (زیست شناسي یاخته اي صفحه ۱۰ )










دانسان دبدن ټولې حجرې د یو لک څخه تر یو مېلیون ملیارده تخمین شوي (زیست شناسي یاخته اي صفحه ( ۸ ) دیو انسان دماغ د۲۰ ملیارده حجرو څخه جوړ دی میکروب یا بکتریا اکثره وحیدالجروي مخلوق دي په یو ګرام (نخود داني په اندازه) مواد غایطه (ډک جوابچي) کې ۱۰۰ ملیارده داني موجود وي ،








سپرم یا دنر تخمه یامنیو کې په یو سي سي کې ۳۰۰ میلونه موجود وي الله تعالی فرمایي : وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرَى لِلْبَشَرِ (۳۱) سورة مدثر( ستا درب لښکرې په غیر دهمدې رب نه نور هیڅوک نه پیژني او دا قران بل څه نه دی مګر نصیحت دی انسانانو لپاره !!!)









دویني حجرې هم دبدن د خدماتي فوج یوه ډیره غوره حصه شمېرل کیږي چې په درې ډوله دي ۱- سره کرویات ۲- سپین کرویات ۳ ـ صفحات دمویه چې سپین کرویات دبدن دفاعي سیستم فعال ساتي او سره کرویات بیا دبدن استهلاکي توکودانتقال وظیفه سر ته رسوي اوټول بدن ته دغذایي رژیم د رسیدواو فضله موادو د وتلو عملیه پرمخ بیایي ، اوصفحات دمویه چې ددې وظیفه درګونو حفاظت اوپنچرې نیول دي دویني حجرات په ځګر(ینه) ، طحال (توري) او دهډوکو په مغزو کې جوړیږي چې بیا دویني عمومي دوران ته داخلیږي هره ورځ ۲ × ۱۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰ (دوه سوه ملیارده ) دانسان دویني کرویات جوړیږي او په هره ثانیه کې ۵۰ میلونه مړې کیږي.







حجرات لکه څنګه چې اتوم هسته یا مرکز لري داسې یې دا هم لري چې ټوله حجره له همدې هستې یازره څخه کنترولیږي

**سوال :ـ د حیواناتو او نباتاتو حجرې څه فرق لري ؟**

ځواب :ـ دنباتاتو او حیواناتو حجرې په ټولو کارونو کې سره یو شانته دي فقط توپیر یې دادی چې دنباتاتو حجرات شین رنګې مواد چې کلوروفیل ورته وایي اود کلورو پلاست له ساختمانونو څخه جوړ دي لري او دپاڼو او بوټو دشین رنګ سبب ګرځي







په نباتاتو کې دا ډېره مهمه ماده ده الله تعالی ددی مادې په ذریعه دځمکې پرمخ دټولو ژونديو موجوداتو دژوند دبقا او خوراکي توکو دبرابرولو او داکسجن دتصفیه کولو لپاره دهمدې مادې په موجوديت کې دفوتو سنتيز عمليه اجراء کوي

# فوتو سنتيز یا ضيايي ترکيب

الله تعالی فرمايي :« وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ (۲۲) الذاريات » ترجمه : ستاسو رزق له اسمان څخه دی کوم چې تاسو سره يې وعده شوی )

په پاڼه کې دنور يا رڼا په ذريعه دکلورو فيل په موجوديت کې دټولو خوراکي او حياتي تو کو دجوړولو لپاره له دوه خامو موادو څخه چې يو اوبه او بل کاربن ډای اکسايد دي کار اخستل کيږي په بوټو کې اوبه( $H_2O$ ) دريشې يا وليو له لارې پاڼې ته رسيږي او کاربن ډای اکسايد (دود $CO_2$) دهوا له لارې پاڼې ته داخل شي هلته دنور په ذريعه دواړه تجزيه شي دپاڼې په شين رنګه مادې کلورو پلاستونو کې داکسجن ، هايدرجن او کاربن اتومونه يو له بله جلا شي بيا پاڼه له دی دريواړو څخه يو نوی ترکيب او ماده جوړوي چې هغې ته کاربو هايدريت يا يو قيمته قند ( $C_6H_{12}O_6$ ) وايي جوړوي بيا دهغې څخه څوقيمته قندونه ، ليپيدونه ،پروتينونه او شحميات جوړيږي او ددی عمليې په ذريعه دځمکې پرمخ ددود او کاربن ډای اکسايد تصفيه او خالص اکسجن هوا ته ورکوي که دا عمليه نه وای نو تر اوسه به اکسجن وختي خلاص شوی وه خو الحمد لله چې په ونو بوټو کې دا عمليه روانه ده او ژوند هم روان دی کنه يو ډاتسن موټر په پنځه کيلو متره مزل ديو انسان دشپيتو کالو عمر اکسجن مصرفوي بيا چې غټ موټر واخلې يا جهازونه او طيارې به څومره مصرفوي










سوال :ـ پورته ووېل شوه چې په ټولو پاڼو کې د تجزيه شويو اتومونو څخه چې اکسيجن ، کاربن او هايدروجن دی قندونه جوړيږي نو بيا ولې ټول ميوه جات او غله جات په خوند

، رنګ شکل او بویي کې سره فرق لري په داسې حال کې چې اولني خام مواد ټول یوشانته دي؟
ځواب :ـ  الله تعالی فرمايي : « سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى (١)الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّى (٢) وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَى (٣) سورة الأعلى » ترجمه : پاکي بیان کړه په نوم درب ستا چې ډیر اوچت دی *هغه چې پیدا یې کړل ټول شیان ، پس ښه یې برابر هم کړل *او هغه رب چې اندازه یې وکړه او لاره یې وروښودله *
داموضوع به درته دیو مثال په شکل تشریح کړم دبتکی هګی دبتکي لاندې نه بلکه دچرګې لاندې کیښودل کیږي کله چې چرګه خپل او دبتکې بچي راوړي او له کوره ووځي نو دبتکي بچي چې په ویاله کې اوبه وګوري ځان ورغورځوي دچرګې بچي چې ددوی ورونه دي هغوی او مور یې فریاد شروع کړي چې اوبه مو وړي خو هغوی په خوشحاله حالت خپله لامبو وهي چرت یې هم خراب نه وي دا ورته چا وښودل چې تاسو اوبه نه وړي ، بل کله چې ماشوم پیدا شي په هیڅ نه پوهیږي خو تی رودل یې زده وي دا ورته چا وښودل نو دلته هم په پانه کې دالله پاک حکم او هدایت چلیږي دهر شي پاڼې ته یې مقدار ښودلی چې ته به دومره هایدروجن دومره اکسجن او دومره کاربن رااخلې بیا به دی خپله میوه او غله جوړیږي مثلاً دمنې پاڼې ته وايي ته یو اکسجن یو هایدروجن او یو کاربن راواخله له دی منه جوړیږي شفتالو ته وايي ته دوه دوه راواخله کیلې ته وايي ته درې درې راواخله همداسې دټولو ونو بوټو ته اندازه ښودل شوې نه زیات راخستلی شي او نه کم ټول شیونه دهمدې عناصرو څخه جوړ دي خو فقط په مقدار کې تفاوت دی او هغه ورته الله تعالی ښودلی ځکه خو دټولو میوو او غلو رنګ ، شکل او خوند بدل دی کنه پانه او مواد یو قسم خو تولید جدا جدا دی دابه هیڅا نه وي اوریدلي چې دکیلې ونې امروت نیولي وي او یا دزردالو ونې امونه نیولې وي خو یوه خبره شته هغه داچې په ونو بوټو کې چې قلم یا پیوند ولګیږي نوبیا هغه ونه دپیوند شکل غوره کوي

# جوړه (مثبت او منفي) او زړه

الله تعالی فرمايي : وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا (١٤٨سورة بقره ) ترجمه : او دهرچا لپاره یوه قبله وي چې هغې طرف ته مخ اړوي ) له دی مبارک ایت نه معلومه شوه چې هرشي ته یو مرکز او قبله شته چې هغې ته زړه ویل کیږي ترمذي حدیث دی  عَنْ أَنَسٍ، قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم " إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ قَلْبًا وَقَلْبُ الْقُرْآنِ يس وَمَنْ قَرَأَ يس كَتَبَ اللَّهُ لَهُ بِقِرَاءَتِهَا قِرَاءَةَ الْقُرْآنِ عَشْرَ مَرَّاتٍ " سنن الترمذي" (٢٨٨٧) اسناده ضعيف دهر  شي لپاره زړه وي دقران زړه سورة یس دی نود اتوم او حجرې هستې زمونږ د زړه په شان زړونه دي او دخپل شاوخوا ساختمان کنترولوي او رابطه یې له الله تعالی سره وي په کور یا فامیل کې هم زړه او قبله شته هغه مور او پلار دي چې دا یوه جوړه ده ددوی دعا او ښیرا دخپل اولاد باره کې ملائیکې نه لیکي بلکه سده الله تعالی ته رسیږي ځکه ددوی رابطه دالله تعالی سره ده نو وایو چې قبلې دالله تعالی دارتباط مرکزونه دي او هره قبله کې جوړه وي الله پاک فرمايي : سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ وَمِنْ أَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ ( یس٣٦)
ترجمه: پاکي ده هغه ذات لره چې هر شی یې جوړه جوړه پیدا کړی که هغه له زمکې راشنه کیږي اویا ستاسوله جنسه او یا هغه څه چې تاسو یې نه پیژنې)

بل ځای کي الله پاک فرمايي: ( وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ) الذاريات/ ٤٩
او له هر شي نه پيدا کړي مونږ جوړې دی لپاره چي پند تريې واخلي .
له دی ايت څخه معلومه شوه پغير دالله تعالی نه نور ټول مخلوق جوړه جوړه بيدا شوي لکه سپين او تور ـ منفي مثبت ـ شپه او ورځ ـ ځمکه اسمان ـ نر او ښځه ـ رڼا او تياره ـ خواږه او ترخه ـ دونيا او اخرت ـ جنت او دوزخ ـ نيکي او بدي ـ غم او ښادي ـ صحت او مريضي ـ کاميابي او ناکامي ـ باد او باران ـ وچه او لمده ـ حيوانات او نباتات ـ ژوند او مرگ ـ اسرافيل او مکائيل ﷺ ـ عزرائيل او جبرائيل ﷺ ـ مسلمان او کافر ـ اسلام او کفر ـ دانسان په بدن کي دوه پښي ـ دوه لاسونه ـ دوه سترگي ـ دوه غوږونه ـ دوه سوږمي ـ دوه سږي ـ دوه گردې ـ دوه کلمي (غټي او وړې) ـ دوه خيټې پاس زړه او سږي لاندې کلمي او ينه ـ شريانونه او وريدونه ـ دماغ اکبر او اصغر ـ دوه ژامې پاس او لاندې ـ دوه ژبې وړه او غټه ـ دوه مری لمده او وچه ـ او داسي نور
له دی جوړو څخه يو يې دمور اوبل يې دپلار وظيفه لري اتوم مرکز کي نيوترون او پروتون دی پروتون مور او نيوترون پلار دی قران کې سورة ( ) پلار ( ماته معلوم دی خوليکم يې نه ځکه سهوه شوی نه ووم ) او سورة فاتحه ام الکتاب يا دقران مور ده په فاميل يا کورکي مرکز دمور او پلار نه جوړ دی داسي دخوفاميلونو نه کلی جوړ شي هغه هم مرکز لري چي مسجد دی امام او دکلي ملک يې کنترول کوي دخوکلو ديو ځای کيدو نه ولسوالي جوړه شي هلته هم مرکز دی يو ولسوال او بل دامنيې قومندان دی بيا دځو ولسواليو نه ولايت جوړ شي هلته هم والي او قومندان دامنيې وي بيا څو ولايتونه سره يو ځای شي مملکت جوړشي هغه هم مرکز لري يو بادشاه او بل وزير اعظم وي دټولي نړې په سطحه مرکز بيت الله شريف اوبيت المقدس دي يا دواړه حرمين دي ، کفر او اسلام هم يوه جوړه ده چي اسلام نر او کفر ښځه ده کله چي کفار سرواخلي امپراطوري جوړه کړي په مسلمان خو ظلم کوي داخويي دوشمن دی بلکه پخپلو کفارو هم داسي ظلم شروع کړي چي هيڅ انسانيت ته دمنلو وړ نه وي لکه ۱۰۰کاله مخکي دانگريزانو امپراطوري چي دټولي زمکي نه چيرته چي قيمتي مالونه وه راجمع کول يې او بسته بسته ملکونه يې غلامان گرځولي وه دهغې نه وروسته دشوروي اتحاد امپراطوري وه چي په ميلونونه انسانان يې دکمونيزم يادهريت عقيدې لپاره ووژل او له دی نه وروسته دامريکا او ناتو امپراطوري وه چي په شرق او غرب کي يې دخدايي دعوا کړې وه چي الحمد لله داسلام نران افغانان پسي راوچت شول درې واړه امپراطرې يې له مينځه يوړې اوس هغه ظلم نشي کولی ۴۵کاله مخکې زمونږ کلي کي ديو سړي ډير کچه سپی وو مونږ به مکتب ته تلو ده به په عذابولو يو هلک کور کي يو دانه شلغم په اور گرم کړی وو دا سپی يې پرې وويشتو هغه سپي په شلغم خوله ولگوله ما ورته کاته چي شلغم يې غاښونو کي ونښته مونږ تريې لاړو دوهمه ورځ هغه هلک بياداسي کړه سپي چي خوله په شلغم بيا ولگوله نو ټول غاښونه يې په شلغم کي راووتل دهغې ورځې وروسته به سپي غريب غلی شول خو څه يې خوړلی نشوه افغانستان هم يو گرم شلغم دی هر امپراطور چي خوله پرې ولگوله نو غاښونه يې دسپي په شان پکې ولوېږي بيا غريبانان غيږدلی شي خو څه کولی نشي لکه اوس چي امريکا او وروس او انگريزداسي دي بس خوله ورته پاته ده ، جهاد

او دعوت تبليغ هم يوه جوړه ده دعوت او تبليغ ته ام الحسنات ويل شوي لکه په کور کي مور خپلو بچيو ته نصيحت کوي چي بچيه بد مه کوه لمونځ کوه تلاوت کوه دباندي چا سره جنګونه مکوه  خو چي کله يې نه مني نو بيايي پلار ته ووايي دابچي څما خبره نه مني هغه ترې يو ټنګ وباسي لارې ته يې راولي داسي دعوت او تبليغ والا خلکو ته نصيحت کوي چي لمونځ کوی تلاوت کوي دالله تعالی عبادت کوی خو چي کله يې نه مني نو بيا دجهاد والا ته ووايي دا خلک لمونځونه نه کوي هغوی بيا ترې دپلار په شان يو ټنګ وباسي ماغزه يې سد ته راولي خو پلار ته بيا دومره قوي وهل نه دی پکار چي د بچي زړه داسلام نه هم پسي ورتور کړي په حکمت سره چي نه سيخ وسوځي او نه کباب بله اهمه جوړه جنت او جهنم دی جنت پلار دی او جهنم مور ده الله پاک فرمای فَأُمُّهُ هاوِيَةٌ (۹)(القارعه) پس دده مور هاويه ده او هاويه دجهنم اخرني کنده ده چي خپله جهنم ترې دورځي ۴۰۰ کرتي پناه غواړي تفسير ابن کثير وَإِنْ مِنْكُمْ إلاَّ وارِدُها ايت تفسيرلاندي دپل صراط په بحث کي ليکلي چي الله تعالی به جهنم ته ووايي چي دا ټول خلک پخپله شا راباركړه او بيا دی خپل ملګري ځان ته کش کړه فقال كعب : تمسك النار للناس كأنها متن إهالة حتى يستوي عليها أقدام الخلائق ، برهم وفاجرهم ، ثم يناديها مناد : أن امسكي أصحابك ، ودعي أصحابي ، قال : فتخسف بكل ولي لها ، ولهي أعلم بهم من الرجل بولده) جهنم چي دمثبت چارج لرونکی دی منفي چارج لرونکي خلک به جذب کړي او دا خلک چي منفي چارج لرونکي دي هغه خلک دي چي دالله داحکامو نه منونکي وه او نه منونکي منفي چارج لرونکي دی دفزيک قانون دی چي مثبت منفي جذبوي او جنتيان به ټول پاته شي ځکه هغوی مثبت چارج لرونکي دي ځکه دا دالله تعالی داحکامو منونکي وه ځکه يي چارج مثبت دی هغه به جنت جذب کړي او دا دواړه (جنت او جهنم )به خپل ملګري داسي پيژني لکه يو سړی چي خپل بچيان پيژني( الله دی مونږ او تاسي له جهنم نه وساتي )








هميشه منفي او مثبت يوبل خپلو کي جذبوي دلته په دونيا کي چا منفي ژوند يعني دالله تعالی نه په نافرماني ژوند تير کړی وي نو هلته جهنم دمثبت چارج لرونکی دی ځکه مور ده نو دا منفي چارج لرونکی انسانان جهنم ځانته جذبوي نو له دی فلسفي معلوميږي چي له دی دونيا نه دځان سره مثبت چارج ورل پکار دي ترڅو موجنت جذب کړي او که منفي چارج مو له ځان سره يوړو نو جهنم به مو جذب کړي او ابدي ژوند به مو تباه شي داوه  دزړه او جوړو فلسفه چي بيان شوه ( والله اعلم)
بيت الله شريف دټول انسانيت عمومي قبله ده الله تعالی په بيت الله رحمتونه نازلوي او بيا دهغې ځايه نورو مساجدو ته چي دبيت الله شاخونه دي تقسيميږي لکه يو ډنډ ياحوض کي چې تيکه وغورځول شي اوبه دموجونو په شکل دحوض ټولو کنارو ته ورسيږي داسي





هر مسجد ته خپله برخه رحمت دورځې په پنځه وخته لمانځه كې رسيږي له دی وجه په جمع سره لمونځ مهم دی چې په دغه وخت كې دلته رحمت رارسيږي څوک چې حاضر وي هغه خپله برخه ترې راواخلي او كورته يې راوړي او څوک چې مسجد كې نه وي حاضر بې برخې شي دا سپيره انسان وي نه يې په رزق كې بركت وي او نه يې په اولاد كې او نه يې په عمر كې بركت وي ، په لمانځه كې په صفونو كې سده ودريږو كوم رحمت چې راځي نو دا لمونځ گذار يكې داسې وپيرل شي لكه تسبيح چې په مزي كې واچوي ټول سره ورونه وروڼه شي او كه څمونږ دافغانانو په شان څوک مخكې او څوک شاته ولاړو ي نو بيا دالله نبي صلى الله عليه وسلم فرماي ستاسو زړونو كې به مخالفت واچوم ځكه خو زمونږ يو وخت هم اتفاق رانغلو ټول يو دبل دوشمنان گرځيدلي يوه غټه غلطي يې همدا ده

أن رسول الله صلى الله عليه وسلّم قال: «أقيموا صفوفكم أو ليخالفنّ الله بين قلوبكم» سنن ابي داود

# شـــــعـــاع يا نور

راډيو اكتيف عناصر له ځان نه شعاع خوشې كوي

شعاع په درې قسمه ده الفا ، بيټا او گاما

| | | |
|---|---|---|
| الفا ∝ | گاما γ | بيټا β |
| + | خنثي | — |

دگاما وړانگه خطر ناكه ده كه په بدن ولگيږي سبب دنظر گرځي ځكه ددې حركت دمنكسر خط په شان دی لكه د اريې په شان كه په د ماغ يا ينه ولگيده پريكوي يې









« له جابربن عبدالله ﷺ څخه روايت دی چې نبي عليه السلام فرمايي: نظر حق دی اوسړی قبر ته رسوي او اوښ ديګ ته چې زما دامت زيات هلا کت په سترګو کېږي( تفسير ابن کثير ۸ج ۲۰۶ ص)

شعاع درې خاصيتونه لري: ۱ـ که توله ورځ يو انسان يوشي ته ګوري نو نه په کتونکې کې او نه په ليدونکي کې څه تغير راځي لکه چوکې يا ديوال ته چې ګورې خنثی وي

۲ ـ کله چې يو څوک څه شي ته وګوري نوله ده څخه ورته داسې شعاع خارجيږي چې ليدونکي شي کې تغير راولي لکه نظر باز سړی چاته وګوري جانب مقابل تر اثر لاندې راولي ختموي يې

۳ ـ دريمه هغه شعاع ده چې څوک يوشي ته ګوري هغه شي کې تغير نه راځي بلکه په کتونکي کې تغير راځي لکه يوسړی ليمو، نارنج او يا پردی زنانه ته ګوري په نومړو درې واړو کې تغير نه راځي بلکه په خپله کتونکې سړي کې تغير راځي خوله يې ورته اوبه بريږدي

د اسلام مقدس دين پردی نارينه او يا زنانه ته کتل حرام کړي ځکه حرام دي چې يو خو دالله تعالی حکم دی او بل داچې دکتلو په وخت کې دده له سترګو هغه شعاع خارجيږي کوم چې کتونکې ته ضرر رسوي په کتلو کتلو کې يې چارج مصرف او اصلي ځای کې ورسره څه نه وي بيا وايي چا پرې تعويذ کړی

**شعاع د مذهب له اړخه:** اهل تشيع ولې ځان ته شيعه ګان وايي ؟ داځکه چې ددوې په ګمان شيعه ګان دالله پاک له نور او شعاعو څخه پيدا شوي چې ددوی له ډلې څخه يو مشهور مفسر علامه اية الله السيد حسين البروجردي په خپل تفسير الصراط المستقيم دوهم جلد ۲۱۷ صفحه کې ليکلي: « كما عن الثمالي عن ابي جعفر عليه السلام انه قال : ان الله سبحانه تفرد في وحدانيته ، ثم تكلم بكلمة فصارت نوراً ، ثم خلق من ذالك النور محمداً وعلياً وعترته عليهم السلام ، ثم تكلم بكلمة فصارت روحاً واسكنها في ذالك النور واسكنه في ابداننا ، فنحن روح الله وكلمته ، احتجب بنا عن خلقه ، فما زلنا في ظل خضراء مسبحين نسبحه ونقدسه حيث لا شمس ولا قمر ، ولاعين تطرف ، ثم خلق شيعتنا ، وانما سموا شيعه لانهم خلقوا من شعاع نورنا (بحار الانوار۲۵ج۲۳ص) تفسير الصراط المستقيم ۲۱۷ص»« لکه څنګه چې روايت دی له ثمالي څخه او هغه له ابي جعفر عليه السلام څخه چې وايي : يقيناً الله سبحانه وتعالی يواځي شو په خپل وحدانيت کې او بيا يې خبرې وکړې په خبرو کولو سره چې له هغې څخه نور پيدا شو ، بيا يې له هغې نور څخه محمد ، علي او اولاده عليهم السلام پيداکړل بيايې خبرې وکړې په خبرو کولو سره چې له هغې څخه روح پيدا شوچې دا روح يې په دې نور کې ځای پر ځای کړو او زمونږ په بدنونو کې ځای پر ځای کړو ، پس مونږ دالله نور او خبرې يو او بيا زمونږ په ذريعه په پرده کې شو له نور مخلوق څخه پس مونږ تل په يخ او شين سيوري کې تسبيح ويونکي يو تسبيح وايو پاکي بيانووپه داسې ځای کې چې نه لمر شته او نه سپوږمۍ، او نه سترګې هلته کتلئ شي ، بيايې زمونږ دډله پيدا کړه چې نوم يې شيعه پرې کېښوده ، ابی جعفر عليه السلام وايي دا ځکه يې شيعه نوم پرې کېښوده چې دوی زمونږ دنور او شعاع نه پيدا شول »: همدا راز په همدې تفسير صراط المستقيم دوهم جلد ۲۱۸ صفحه کې ليکي :وفي خبر المفضل : كنا انواراً حول العرش نسبح الله ونقد سه حتي خلق الله سبحانه الملائكة فقال لهم :سبحوا ، فقالو : يا ربنا لا علم لنا ، فقال لنا : سبحوا فسبحنا ، فسبحت الملائكة بتسبيحنا ، الا انا خلقنا

من نور الله ، وخلق شيعتنا من دون ذالک النور ...(ابحار ۲۵ ج۲۱ ص »مونږ دعرش ګرد چاپیره یوه رڼا او نور وو چې د الله تسبیح او پاکي موبیانوله تردې چې الله پاک ملائکې پیدا کړې هغوی ته یې وویل زما پاکي بیان کړی ، هغوی وویل مونږ نه پوهیږو بیایې مونږ ته وویل زما پاکي بیان کړی ، مونږ تسبیح وویله ، بیا ملائکو زمونږ په شان تسبیح وویله ، خبردار اوسی مونږ دالله دنور نه پیدا شوي یو ، او زمونږ شیعه دِله بیا د بل نور نه پیدا شوي ده ) شیعه دِله خپل ځانونه دالله جل جلاله نور او شعاع ته منسوبوي چې زمونږ خلقت له هاغه ځایه را شروع شوئ اوخپل خلقت دالله پاک روح ګڼي ځکه خو وایي فنحن روح الله مونږ دالله روح یو چې دانظر د یهودیانو هم دي چې ویل به یې وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ ۱۸البقره .(یهودو او نصاری و به ویل مونږ دالله ځامن او دوستان یو) په همدې کتاب کې یو ځای لیکلي چې څوک شیعه دي هغه په هدایت کې دي جنت ته به ځي او څوک چې شیعه نه دي هغه ضلالت کې دي او جهنم ته به ځي نو ددوی د دعوا له مخې په پیغمبرانو کې یواځې محمد الرسول الله ﷺ ددوی په نظر شیعه شو دابه جنت ته ځي په صحابه وو کرامو کې علي علیه السلا م شیعه شو دابه جنت ته ځي او په امت کې ددوی دِله شیعه ګان شیعه شول دابه جنت ته ځي ځکه همدوی دالله جل جلاله له شعاع او نور څخه پیدا شوي با قي دنورو یو لک څلوریشت زره پیغمبرانو او یو نیم لک صحابه کرامو او نورو امتیانو دي الله مل شي . امریکا یانو یوه رادیو د ازادئ په نوم جوړه کړی چې پښتو او فارسي خپروني لري کله کله په وقفه کې وایي: تازه رپوټونه اومرکي په خپل وخت مونږ درکوو قضاوت په خپله وکړئ اوس خپله قضاوت وکړی ! شیعه دِله چې کوم نظر وړاندې کوي د الله دفرمان خلاف ده ځکه الله جل جلاله ټول انسانان له خاوري اوختې څخه پیدا کړي او په دې صریح ایاتونه دي لکه چې فر مایي »هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّى مِنْ قَبْلُ وَلِتَبْلُغُوا أَجَلًا مُسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (٦٧) سورة غافر یا سورة مؤمن« .الله هغه ذات دی چې تاسي یې له خاورې پیدا کړې یې بیایې له نطفې او بیا یې له وینې ټوټې څخه - بیا مو راوباسلو دمور له خیټې ماشوم غونډې بیا موځوانۍ ته رسوي بیا موزړوي او ځنې له تاسو په وړکوالي کې مړه کوي او ځني بیا تر معلومې نیټې ساتي دی لپاره چې له عقل نه کار واخلی .
په دې ایتونو مبارکه وو کې واضح معلوم دی چې ټول انسانان الله پاک دختوخاورو نه جوړ کړي او شعاع نه ده او نه بل شئ دی دروح په هکله الله پاک فرمایي :وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا (٨٥) الاسراء تر جمه : دروح هکله ستا نه پوښتنه کوي . ورته ووایه چې روح زما د رب امر دی او له علم نه مې چې کومه برخه درکړی هغه ډیره کمه ده . یعنې دمادي او روح دیو ځای کېدو څخه نفس جوړیږي ځني بیا سوال کوي چې روح مخکې دي که ماده ځواب دادی چې الله جل جلاله ماده پیدا کړې او امر یې له ده سره وه لکه څنګه چې الله پاک ازلي او ابدي دي داسې یې امر ازلي او ابدي دی او ماده نه ازلي وه او نه ده نو وایو چې روح تر مادي مخکې دی او دروح هکله دروح تر عنوان لاندې پوره تشریح شوی

# باد یا هوا

**د باد تعریف:ـ** دزیات فشار لرونکې ساحې څخه کم فشار لرونکې ساحې ته دهوا انتقال ته باد وايي ( یخه منطقه زیات فشار لرونکې ده او ګرمه منطقه دکم فشار لرونکي ده)
لکه څنګه چې دژوندیو موجوداتو لپاره الله تعالی اوبه مهمې پیدا کړي دي داسې هوا هم مهمه ده داوبو په ذریعه ټول ژوندي موجودات منځ ته راځي {وَجَعَلْنَا مِنَ المَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ، أَفَلاَ يُؤْمِنُونَ} [الأنبياء: ۳۰] او دخوراکې توکو له جملې څخه یو مهم توک دی نوداسې هوا هم یو مهم ارتزاقي برخه تشکېلوي داوبو په ذریعه دځمکې دمخ ټوله ګنده ګي او ناپاکي وینځل کېږي داسې دباد په ذریعه ټوله ګنده او خرابه هوا پاکېږي او هوا له یو ځایه بل ځای ته انتقالیږي له ښارونو څخه دموټرو،کارخانو،پخلنځیو دود او غبار لیري غرونو ته او له غرونو څخه پاکه او تصفیه شوې هوا ښارونو ته را انتقالوي یخه هوا ګرمو منطقو ته اوګرمه هوا یخو منطقو ته وړي راوړي تر څو دځمکې دمخ دحرارت درجې موازنه وساتي او هغه منطقې چې هلته انسانان ، فابریکې او موټر زیاتي دي نو دود او دوړې هم ورسره زیاتیږي نو خامخا دهغوی دهلاکت سبب ګرځي او بالعکس هغه منطقې چې ونې بوټې او ځنګلونه پکې ډیردي د دود دنشتوالي له وجه چې دهغوی خوراک او غذا تشکېلوي هلاک به شي نو الله ﷻ دځنګلونو څخه تصفیه شوې هوا یا اکسجن چې دونو په ذریعه تولېد شوې (چې دضیائي ترکیب تر عنوان لاندې تشریح شوي ) دلته خلکو ته راوړي او خلکو چې کوم دود جوړ کړی هغه هلته ځنګلونو ته دباد په ذریعه انتقالوي
او دباد په ذریعه په ونو بوټو کې القاح صورت نیسي ځکه دونو او بوټو دښوریدو سره ګرده او تخمه ازاده او ښځینه ګلانو ته ورځي





# اتش فشانونه او زلزلې

اتشفشانونه دې ته وايي چې کله دځمکې له تل ځخه ګرم اولاوا مواد دځمکې سطحې ته راوځي له يخيدو وروسته په غرونو، تيګو، شګو او خاورو بدليږي چې زلزلې هم دهمدې ګرمو موادو دراوتلو دکوشش په وخت کې پيدا کيږي چې په ځينو ځايونو کې دځمکې قشرکمزورې وي هلته دباندې راووځي خو چې کوم ځاى دځمکې قشر ټينګ او ډبل وي داmواد زور ووهي خو دراوتلو توان يې ونه شي صرف زلزله توليد کړي او ځنې وخت بېاځمکه ځيرې کړې درزونه پکې پيدا شي لاوا مواد دځمکې سرته راونه ووځي او هغه ګرم مواد دپاس هوا سره په تماس کې شي خو هلته بند پاته شي دا په سرو زرو بدليږي

چې داتول دالله تعالى په حکم چرته چې وغواړي سر ته رسيږي اکثره زلزلې عذابونه وي او دسهار وخت کې ډير واقع کيږي په کوم ځاى کې چې زنا زياته شي هلته زلزلې هم زياتيږي







# طبعي ګاز او پطرول

دپطرولو او طبعي ګازو په هکله عمومي نظر دادى چې دا هغه پرسوده شوي حيوانات او نباتات دي چې دزماني په اوږدو کې دافتونو او حوادثو په نتيجه کې تر خاورو او اوبو لاندې شوي اوبالاخره دوخت په تيريدو سره خوسا اوله يوشکل نه بل شکل ته تبديل شوي چې اوسنى شکل يې ګاز او پطرول دى – خو ځما نظر دادى چې دا ټول دالله پاک دغيبي خزانو ځخه راروان دي او پخپله ځمکه دلاوا موادو تر ځنګ طبعي ګاز هم لري يو دليل زه دا وړاندې کوم اول داچې دا ځومره حيوانات او نباتات له منځه تللي چې هره ورځ ترې په مليياردونو بېلره پطرول راوځي او په مليياردونو متره مکعبه ګاز ترې راوځي او نه ختميږي دايوه جيولوژيکې عمليه ده چې دځمکې پر مخ ترسره شوي. سره له دې چې ګاز او پطرول له اوبو ځخه سپک دي خو په بحرونو کې ډير معدنونه تر اوبو لاندې ساحه کې پيدا کيږي او په نړى کې بېا خصوصاً خليج ملکونه يې ترې راوباسي

نفط يا تيل چې مدفون شوي رسوبې مواد دي د ۱۰۰۰ مترو ځخه تر ۶۰۰۰ مترو ژوروالي کې پيدا کيږي او ګاز بېا له دې ځخه نور هم ژور او لاندې دي تيل په ۱۹۴۸ – ۱۹۴۹ مېلادي کال سعودي عربستان کې کشف شوي او اوس روزانه ۵ مېلونه بېلره ( يو بېلر

۱۵۹ ليتره ) تيل استخراجوي او په تولـه نړۍ کې دتيلو مصرف په يوه ورځ کې له ۸۴ ميلونو بيلرونو څخه هم زيات دی
په مکسيک خليج کې دګاز يو معدن د ۱۰ لس کيلو مترو په ژوروالي وکندل شو چې په نړۍ کې تر ټولو ژور کوهۍ دګازو همدا دی اوداکسون مبل ۹ کيلو متره کوهۍ ايستلۍ خو نتيجه يې ورنکړه

# انـــسـان

هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَذْكُورًا (۱) إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا (۲) إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا (۳) سورة الدهر »« ايا پر انسان داسې يو وخت دزماني هم تير شوی چې هغه کوم دیادوني وړ شۍ نه وه ؟ .( يعني داسې وخت هم وه چې دانسان هيڅ نوم او نشان نه وه ) بيا مونږ انسان له مخلوط شوي نطفې څخه پيدا کړو تر څو هغه وازمايو - چې ددې غرض لپاره هغه مونږ اوريدونکي او ليدونکي پيدا کړو . مونږ هغه ته لاره وښودله يا به شکر کونکي شي يا به کفر کونکي شي »

ادم عليهم السلام دانسانانو پلار وو او انسان اشرف المخلوق دی په دی شرط چې مؤمن او مسلمان وي کنه بد ترين مخلوق دی ـ ترټولو بهترين انسان هغه محمد الرسول الله دی بيا ټول انبياء اوبيا صحابه کرام بيا علماء کرام بيا مجاهدين او داعيان او عام مؤمنان دي بی بی حوا دټولو انسانانو مورده دادم عليه السلام دچپې پوښتی نه الله پاک پيدا کړه

سوال :ـ دانسانانو په مور او پلار کې څوک ډير مهم دی؟

ځواب :ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟ فَقَالَ: «أُمُّكَ» ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «ثُمَّ أُمُّكَ» ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «ثُمَّ أُمُّكَ» ، قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «أَبُوكَ»

ترجمه : يوسړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی وی ويل په مور پلار کې کوم يو ډير حقدار دی نبي عليه السلام ورته درې ځلې مور وښوده څلورم ځل يې ورته پلار وښوده نو معلومه شوه چې مور تر پلار درې درجې غوره ده ، بل داچې داتوم په بحث کې مو وويل چې مور دپروتون حيثيت لري او پروتون مثبت چارچ لري نومور يا ښځه هم مثبت چارج لرونکي ده که مو فکر وي دبرق لينونو کې مثبت لين پټ وي که لوڅ شو انسان نيسي نو له دی وجه ښځه پټه په حجاب کې وي ، بل داچې ښځه ډير قيمتي جنس دی غل چې کله راځي قيمتي شي پسې راځي غل خاورې او ايرې څه کوي چې وړې يې بلکه سره زر يې پکار دي نو سره زر هميشه کور کې په پټ ځای کې ساتل کيږي ، که دبرق غټو لينونو ته وګورو څلور مثبت لينونه په پايو کې تير وي او په سر يې يو نری نر لين تير وي او ماشينري روانه او چليږي همداسې په اسلام کې يو نر ته څلور ښځې روادي دلته هم دفاميل کار روان وي نو وايو چې په اجتماع کې ښځه ډيره مهمه ده
دانبياووعليهم السلام ايمان ورځ تر بلې ترقي کوي د صحابه کرامو او علماء کرامو ايمان کله ترقي کله نزول کوي

# جنيات يا پريان

د جنياتو په وجود ايمان : جنيات يو موجود مخلوق دى چې له وجود څخه يې انکار کفر دى ځکه چې دجنياتو د وجود څخه انکار له قرآن او سنتو نه انکار دى نو پدې وجه د جنياتو په وجود ايمان يو له جملې د ايمان په غيبو دى مونږ هغه نه وينو د اثبات لپاره د الله ج او پيغمبر ص په ريښتنو خبرو باور لرو .جنيات داخرت تمثيل دى ځکه دجنت ، دوزخ ، ملائک ، عرش ، کرسي اونورو غيبې موجوداتو خبرې کيږي که دچا پرې يقين رانشي چې دا کوم دي مونږ يې نه وينو او انکار ترې وکړي نو دهغوى لپاره دا ښه دليل دى چې پريان ستا تر څنګ اوسيږي خوراک څښاک کوي بچې لري ژوند لري خو مونږ يې نشو ليدلى نو داسې اخرت هم پټ دى لکه دقبر عذابونه چې مونږ ورته ګورو دعذاب څه نښه هم نه وينو خو عذاب موجود دى لکه پريان چې موجود دي

الله تعالى د ابليس او د هغه فوځ په هکله فرمايي : [إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لا تَرَوْنَهُمْ] اعراف /٢٧ ) « هغه اود هغه ملګري تاسي له يو داسې ځاى څخه ويني چې تاسي يې له هغه ځاى څخه نشى ليدلاي ) جنيات له اور څخه پيدا شوي دي چې ځنې يې مسلمان او ځني يې کافر دي .« وَأَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا الْقَاسِطُونَ »(ځني د مونږ مسلمان دي او ځني کافر) (جن ١۴. )

جنيات په عبادت مکلف دي رسول الله ﷺ صلي الله عليه وسلم د انس او جن دپاره مبعوث شوې هغوى د رسول الله ﷺ ص په حضور کې حاضر شول اوقرآنکريم ته يې غوږ نيولي.

الله سبحانه وتعالى فرمايي : « قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا (١)يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا (٢جن ) « ووايه (اى پيغمبره ! ) ماته وحي رالیږل شوې ده چې د پيريانو يوې ډلې په غور سره قرآن ته غوږ کېښود ،بيا له بېرته ستنيدو وروسته يې خپل قوم ته وويل مونږ خورا يو عجيب قرآن اوريدلې دى چې د سمې لارې لورې ته لارښونه کوي نو له دې کبله مونږ په هغه ايمان راوړى اوس به مونږ هيڅکله له خپل پروردګار سره څوک شريک نه کړو



جنيات له اور څخه جوړ او دشکل بدلولو قابليت لري دانسان په شان نر اوښځه لري واده کوي او بچې راوړي مرګ او ژوند لري شيطان هم دهمدوى له جملې او قبيلې څخه دى چې پلار يې سوما او لقب يې جان دى جنيات دانسانانو په شان لاسونه ،پښې ، خوله او سترګې لري چې سترګې يې عمودي لکه ( الف) په شان دي پښې يې لنډې او ګردي دي رنګ يې داور په شان دى او ځني يې خاکسترې رنګ لري طبعيت يې غوصه ناک دى او په دشتو بيابانونواو ځنګلونو کې اوسيږي انسان ته تکليف ورکوي ځينې يې دانسان په

شان سپين رنګ او ښکلئ شکل لري سترګي يې هم افقي يا دانسان په شان وي زيات پرېان دوېښتانو لرونکي او ببر وي دانسان په شان ښځه حواسه لري دتشو متيازو لاره نلري ځکه چي مايعات نه استعمالوي خوراک يې هوا او هډوکي اودانسان پسخورده ده او لباس ته ضرورت نلري کورنئ ژوند لري يو دبل سره اوسيږي خوداوسيدوځای ورسره مطرح نه دی که هوا وي او که زمکه په دواړو کې ورته ژوند اسانه دی امام ابن تيمېه رحمه الله وايي چي په تشنابونو اوکنارابونواو ډيرانونو کې هم اوسيږي دزيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل بيت الخلاء دشيطانانو او جنياتو داوسيدو ځايونه دي کله چي ببت الخلاء ته ځي نو دا دعا ووايې: اللَّهُمَّ إنِّي أعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ (اي پروردیګاره زه پناه غواړم په تا له نر شیطان نه او دښځي شيطاني څخه)کله چي انسان ببت الخلاء ته لاړ شي نو ښځه شيطانه دده په ذکر خپل ځان مړي او نر دانسان په عورت پورې ځان مړي تر څو نوموړي انسان په فتنه کې واچوي فرمايې چي ببت الخلاء او تشنابونه دشيطانانو کور دی دتقاضا پوره کېدو نه وروسته زر تر زره ترې راوزئ
ملا ئيکي معصوم دي خو جنيات بيا نه دي معصوم دليدلو امکانات يې نه رديږي کيدای شي چي يو څوک يې ووينې خو هغوی مونږ ويني او مونږ ته ړند وکېان وايي
دانسانانو په شان نر او ښځه لري او دواړه اله تناسلي لري نژديکت او جماع کوي بچئ د مور په ګيډه کې رشد کوي دانسان په پرتله د حمل موده يې لنډه ده په يو ځل فقط يو بچئ راوړي يعني په يو وار دوه نشي راوړئ دماشوم پيدا کېدل يې دانسان نه اسانه دي او ماشوم يې زر غټيږي عمر يې له ۵۰۰ کالو څخه تر ۱۰۰۰ کالو پورې رسيږي جنيات ګرمي او يخني نلري له خوشحالئ څخه خوند او فايده اخلي ددوی مړي زر فنا کيږي قبرستان ته ضرورت نلري ډير لطيف اوشفاف جسمونه لري او لاندې چي کوم تصويرونه وړاندې شوي له انتر نت څخه راخستل شوي چي څومره به داعتماد وړوي په دي الله ښه پوهيږي خو دنمونې په قسم يې وړاندې کوو(يو جن ماته وويل ستا کتاب ما څو ځل لوستی بيا ما ورته وويل چي کوم عکسونه ما په دی کتاب کې راوړي داستاسو دي اوکنه هغه راته وويل داځمونږ دخلکو هغه عکسونه دي چي ځان يې بدل کړی وي خو په دی عکسونو کې يو هم زمونږ اصلي عکس نشته بيا ماترې وغوښتل يو اصلي عکس راکړې هغوی وويل چي که مونږ به اصلي شکل ځان وښايو ٪۹۹ ددی خطره شته چي واپس په جن بدل نه شو فقط يو فيصد امکان شته نو له دی وجه داکار نشو کولی )
جنيات د غيبي کايناتواو نړئ يعني ملائک او اخرت تمثيل دی- جنيات دعربې ژبې لغت (جن) په معنا د ( پټ او نه ليدونکي ) دی په اصطلاح کې هر هغه شئ چي ماوراء الطبعيت او دانسان دليدو نه مستور وي لکه پربښتې ، شيطانان اوهغه څه چي نه ليدل کيږي خو ژوندي او داحساس او تفکر لرونکي وي او داور نه جوړ شوي وي جن بلل کيږي
عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايې چي رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو کې څوک ديرېانو سره دلچسپي لري او غواړي هغوی ووينې نو نن شپه دې زما سره لاړ شي نو زه راغلم رسول الله ﷺ زه دځان سره کړم کله چي دمکې اوچتې برخې ته ورسيدو نو رسول الله ﷺ پخپله پښه مبارکه يوه کرښه راښکله او ماته يې وفرمايل چي بس دلته کېنه او بيا رسول الله ﷺ لاړاو يو ځای کې ودريدلو او قرأت يې شروع کړلو نو دومره خلک ترې

چاپیره شول چې ماخو بیا قرأت هم نه اوریدو – بیا ما ولیدل چې څنګه دوریځې ټوټې جدا کیږي دغه شان هغوی یو خوا بل خوا تلل شروع شو تردې چې لږ پاته شوه – رسول الله ﷺ دسحرپه وخت اوزګار شو او دهغه ځای نه لرې لاړل او چې کله دحاجت نه فارغ شو نو ماله یې تشریف راوړو او پوښتنه یې وکړه چې هغه باقي چرته لاړل ؟ ماوې هغوی دادي نو رسول الله ﷺ هغوی ته هډوکې او غوشایې ورکړه – بیا رسول الله ﷺ مسلمانان په دې دواړو څیزونو داستنجا کولو نه منع کړل ددې روایت په دوهم سند کې دي چې چرته رسول الله ﷺ عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه کېنولې وو ورته یې ویلي وه چې خبردار له دې ځایه ونه ښوریږې کنه هلاک به شې او بل روایت کې دي چې کله رسول الله ﷺ سحر وخت کې راغلو نو دوی نه یې پوښتنه وکړه چې ته اوده شوی وې ؟ هغه ورته وفرمایل نه نه په الله قسم ماخو څوځله وغوښتل چې خلکو ته فریاد وکړم خو ما واوریدل چې رسول الله ﷺ هغوی پخپله همساء ویرول او فرمایل یې چې کېنی – رسول الله ﷺ وفرمایل که ته له دې ځایه راوتلی وې نو ماسره ویره وه چې په دوی کې به بعضو ته وړئ وي – بیا رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې ښه تا څه ولیدل ؟ ماوې چې او خلک مې ولیدل تور نا اشنا سپینو جامو والا- رسول الله ﷺ وفرمایل دا دنصیبین پریان وه دوی زما نه توښه وغوښته نو ما دوی له هډوکې او غوشایې ورکړل – ما پوښتنه وکړه چې یا رسول لله ددې نه به دوی ته څه فایده وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل هر هډوکئ چې ددوی لاس ته ورځي نو هغسي به کیږي لکه ړومبئ چې وه یعنې غوښه به پرې وي او په غوشیو کې به هم هغه داني مومي کومې چې پکې ړومبی ورځ وې نو مونږ کې دي چې څوک بیت الخلاء ته لاړشي نو په هډوکو او غوشیو دې استنجاء نه کوي یو روایت کې دي کله چې دپریانو ډیره ګڼه ګونه جوړه شوه نو ددوی سردار ووې چې یا رسول الله ﷺ زه دوی یو خوا بل خوا کوم چې تاسو دتکلیف نه بچ کړم نو رسول الله ﷺ وفرمایل دالله پاک نه زیات څوک زما بچ کونکې نشته(ابو داود- ترمذي ابن ماجه)

او یوبل روایت کې دي چې کله رسول الله ﷺ له ابن مسعود رضی الله عنه نه روان شو او لږ ترې مخکې لاړو ده کتل چې دګنجو (غټومارغانو یا ټپوسانو ) په شان څمکې ته نژدې نژدې الوتل او راروان وه لږ ساعت وروسته غوبل جوړ شو تردې چې ما سره دنبي علیه السلام فکر پیدا شو – کله چې یې تشریف راوړو ما پوښتنه وکړه چې داشور څنګه وو هغه وفرمایل ددوی دیو قتل قیصه وه چې په هغې کې ددوی اختلاف پیدا شو چې دهغوی په منځ کې مې ښه فیصله وکړه – دا واقعات صفا دي په صحیح بخاري کې دا حدیث شته چې کله پریانو زما نه توښه وغوښته ما د الله پاک نه دعا وغوښته چې هغوی کوم غوشیې او کوم هډوکې باندې تیریږي نو هغې کې به خوراک مومي – دوی کې دڅوکسانو نومونه دادي حسي ، حسا، منسي، ساحر، ناصر ، الاردوبیان ، الاحتم – او ددوی دیو سردار نوم وردان وه

# دوهم فصل

## فلکي صورتونه(فلکي شکلونه)

## سيارې (ځمکې ) اوستاري(لمريزنظامونه)

کله چي دشپې لخوا په داسي حال کې چي هوا صافه او سپوږمۍ نه وي  پاس اسمان ته په عادي سترګو او يا دوربين اوتلسکوپ کې وګورونو دڅو قسمه ستورو سره به مخ شو
١- سيارې لکه زمکه ( نه خپله انرژي لري اونه خپله رڼا)
٢- ستارې ( لمريز نظامونه چې خپله انرژي او خپله رڼا لري )
٣- نابولا ګانې ( د منفجرشوي ستارو ګرد اوغبار)
٤- دستارويا لمريز نظامونوخوشې يا غونچکې ٥- کهکشانونه ٦- د کهکشانونو غنچکې
٧ - نړۍ ( جهان ) يا UNIVERS






٤٥٠٠ کاله مخکې دشرقي مديترانې خلکو داسمان دستورو په تقسيم بندی شروع وکړه هغه خيالي اشکال چي دڅو نژدې نژدې ستورو له مجموعې څخه جوړيده فرضي نمونه ( اسمونه ) ورکړل چې ځينو ته يې د خپلو نومول شويو اله وو(خدايانو) اوځنو ته يې دقهرمانانواو ځنو ته يې دحيواناتو نومونه کېښودل چې دې ته صورت فلکې وايي او تر اوسه ٨٨ فلکي صورتونه يا شکلونه پيژندل شوي نو لدې وجه چې زمکه دلمرپه شاوخوا په يوه ورځ کې (څه کم شپږ ويشت لکه کېلومتره ) ٢٥٩٢٠٠٠ کېلو متره او په يو ساعت کې ١٠٨٠٠٠ کېلو متره چې  په يوه ثانيه کې ٣٠ کېلو متره کېږي دلمر په ګرد چاپيره مدارچې (  ٩٣٣١٢٠٠٠٠ نهه سوه درديرش ميلونه کېلو متره اوږدوالي لري ) په کال کې يو ځل ګرځي چې په اسمان کې هره مياشت ديو جلا اسماني شکل سره مخ کېږي چې دې سفر کې ليدونکي شکلونو ته دائرة البروج يا( منطقة البروج ) وايي او دارنګه ٢٠٠٠ کاله مخکې مجوسيانو ستورو ته عقيده درلوده  او پرستش به يې کولو او يو ستورى به يي درحمت خداى ګڼلو او بل به يي بيا دغضب خداى ګڼلونولکه (دائرة المعارف کې ليکلي رايګل ته مجوسيانودرحمت خداى او بتلاګويس ته يې دغضب خداى ويلي چې دادواړه ستوري په اورين ياتلې په فلکي شکل کې موجود دي )




چې شمسي سنه هم هغوې جوړه کړیده او هغه په دې معنی چې کله ماښام او شپه شروع شي نو کوم ستوري چې راښکاره شي په هغې کې انسانانو دخپل سوچ او تصور مطابق ځنې شکلونه لکه د وري ، غوایي ، جوزا(غبرگولي) ، پنجه پوړ(سرطان) ،زمري(اسد)، سنبله(وږي) او داسي نور اشکالو کې ستوري غوره کړي چې دحمل په میاشت کې دوري له فلکې شکل لاندي ماښام شپه شروع شي نو ددغې وخت نوم حمل میاشت کېښودل شو او دارنگه دثور په میاشت کې دغویي شکل او جوزا میاشت کې یوبل شکل او داسي نوروته نوم ورکړی شو او په دې هر یوه فلکې شکل کې په درجنونوکهکشانونه ، شمسي نظامونه او سیارې موجودې دي ددې لپاره چې دکتاب حجم ډیر زیات نه شي صرف دائرة البروج او ځني نور چې ډیر مهم دي سره له خپلو شمسي نظامونو دلته تشریح کوم

## سیارې(ځمکې په شان)

**زمـــکـــه :** په دی کې د مفسرینو اختلاف دی څوک وایي یوه ده، څوک وایي اوه دي او دریمه ډله وایي نه یوه ده او نه اوه بلکه بې شماره دي

تفسیر ابن کثیر رحمة الله علیه په خپل تفسیر کې لیکلي چې ابن ابي حاتم اوابن مردویه په خپلو تفسیرونو کې یو حدیث ذکر کړی دی چې روایت یې صحیح مسلم او نسائي هم کړی دی او هغه دادی چې ابن جریج له ابی هریره رضی الله عنه څخه روایت کړی هغه ویلي دي : یو ځل رسول الله ﷺ زه له لاسه ونیولم او داسي یې راته وفرما یل : الله تعالی دشنبې په ورځ خاوره پیدا کړه او دیکشنبې په ورځ یې پکې غرونه پیدا کړل او د دوشنبې په ورځ یې ونې پکې پیدا کړې د سشنبې په ورځ یې بدي او ناوړتیاوې پکې پیدا کړې ، دچهار شنبې په ورځ یې نور پکې پیدا کړو ، دپنجشنبې په ورځ یې ځاروي او نور ژوندي حیوانات په کې پیدا کړه او دجمعې په ورځ یې د مازدیگر څخه وروسته دشپې درارسید و نه مخکې یې اد م علیه السلام پیدا کړو

ساينس دانان وايي زمكه ۴،۵ مليارده كاله كيږي چې پيدا شوې ځمكه د ۱۱۴ عناصرو څخه جوړه شوې چې شمار يې دقرأن كريم  د۱۱۴ سورتونو سره برابربښت لري دځمكې وزن ۶۰۰۰ مليارد ټنه دى اوديو متر مكعب وزن يې ۵۵۲۰ كېلو گرام د ( چې داوبو ديو متر مكعب وزن ۱۰۲۷ كيلو گرام دى د ټولې ځمكې مساحت  پنځه سوه  لس مېلونه ( ۵۱۰۰۰۰۰۰۰) كېلو متره مربع تخمين شوى چې له دې جملې څخه يې ۳۶۱ مېلونه كېلو متره مربع يا ۷۱٪  اوبه تشكېلوي او۱۴۹ مېلونه كليو متره مربع يا ۲۹٪ وچه تشكېلوي چې د بحرونو اندازه دوچې څخه ۲،۵   دوه نيم چنده زياته ده






**اوبه :** اوبه دزمكې پرمخ ۳۳۲,۵ ميلون ميله مكعب موجودې دي او ۱۶ ميلونه ميله مكعب اوبه په هوا هميشه ددوران په حالت كې دي چې بيا  دبارانونو په شكل راوريږي دغرونوپه سرونو كې زخيره شي بيالږ لږ دغرو له بيخه دچينو په قسم راوځي  فلتر هم شي   الله تعالى فرمايي : {أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ أَأَنْتُمْ أَنْزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُونَ (۶۹) لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ (۷۰) }[الواقعة] ترجمه: تاسو ماته دهغو اوبو باره كې خبر راكړى چې تاسو يې څښئ * ايا تاسو دغه له سپينو وريځو نازلې كړيدي او كه مونږ يې نازلونكي يو*كه مونږ وغواړو دغه به ترشې او ترخې وگرځوو نو بيا تاسو ولې شكر نه اوباسئ *

، اوبه يوه حياتي ماده ده الله پاک فرمايي :(وَجَعَلْنا مِنَ الْماءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ) [الأنبياء: ۳۰] مونږ هر شى په اوبو ژوندى كړى او كله چې دزمكې مخ گنده او خوسا شي بد بوي زياته شي باران وشي ټوله گنده گې پاكه كړي

اوبه دځمكې دوينې حيثيت لري لكه انسان كې چې وينه چليږي نو ژوندى وي داسي كه ځمكه كې اوبه چليږي ځمكه به ژوندى وي دډيرو كوهيانو ( چاه عميق ) ايستل داسي معنا لري لكه انسان چې په چاقو گانو زخمي زخمي كړې  وينه ترې لاړه شي فشار يې ښكته شي او بالاخره مړ شي داسې به ځمكه هم تغير وكړي خپل حركت به نه شي تر سره كولى خو كه داسې وشي چې لكه انسان چې پخپل زخم پټې لگوي داسې دځمكې په زخم(كوهي ) پټى ولگول شي نو بيا به څه ناڅه گذاره وشي هغه داچې كله څوک كوهي ووهي بايد سر ورته بيرته كلک بند كړي تر څو هغه هوا چې دفشار لپاره موجود ده هغه ضايع نشي

# اتوموسفير

دزمکي اتوموسفير دزمکي له سطحې نه پورته نهه طبقې ده چې جمله تقريباً ۲۰۰۰کېلو مترو په شاوخواکې پنډوالي لري او دمختلفو غازاتو څخه جوړ شوي چې دزمکي دجاذبې قوې په ذريعه کنترول او ساتل کېږي اوتر ۵ کېلو مترو پورې ډير تراکم لري دا تر ۸۰ کېلو مترۍ پورې رسيږي او په امريکا کې چې کوم شخص ۸۰ کېلو متره پورته په فضا کې سفر وکړي هغه ته فضا نورد وايي








دزمکي فضاء يا اتومو سفيرنهو طبقو څخه جوړ دی تروپو سفير ، ستراتو سفير ، مزو سفير ، ترموسفير ، اکزوسفير ، يونو سفير ، ايزونو سفير ، اوزون او مګنتو سفيرچې دغه طبقه دمګنتو سفير دزمکي په ۱۶۰۰۰۰ يو لک او شپيته زره کيلو مترو کې واقع ده چې دلمر ګرم طوفانونه دفع کوي






اتومو سفير له نايتروجن ۷۸،۱٪ اکسجن ۲۰،۹٪ اورګون ۰،۹٪ کاربن ډاي اکسايد ۰،۰۳۹ ٪ او ډيره کمه حصه داوبو بخارات اونور غازات لکه هايدروجن، هليم ،نيون،ارګون او کاربن دار غازونه لکه متان دي چې دشپې اوورځې دګرمۍ او يخنۍ درجه ثابته ساتي دذکر شويو فيصديانو څخه که کمې زياتی راغی نو په زمکه کې تغير راځي مثلاً که اکسجن له ٪۲۰،۹ فيصدو څخه زيات شي نو شنې ونې پخپله اور اخلي لکه په ځينو ځنګلونو کې داسې پيښې شوي داتوموسفيردهواګرموالي اوحجم دارتفاع په زياتيدو سره زياتيږي او وزن يې کميږي داتموسفير دهوا وزن دبحر په سر ديو متر مکعب ۱،۲ کېلو ګرامه ده دټول اتموسفير دهوا وزن ۰۰۰/۰۰۰/۰۰۰/۰۰۰/۵/۷۰۰ پنځه ميګا اوه سوه تريلون تنه دی چې دځمکې وزن ۶۰۰۰ شپږ زره مليارد تنه دی ددی ډيره ناچېزه وزن تشکېلوي دهر انسان دپاسه په بدن يې څو تنه هوا پرته او بار ده اويوتن خو هميشه پرې سوره وي

**تودوخه :** څومره ژوندي حيوانات او نباتات چې دځمکې په مخ موجود دي دهمدې

اتوموسفير څخه مصرف کوي چې انسانان او حيوانات اکسجن په مصرف رسوي او بدل

کې کاربن ډای اکساید خارجوي او نباتات برعکس کاربن ډای اکساید مصف او بدل کې اکسجن تولیدوي چې دا موضوع په فوتو سنتیز کې پوره تشریح شوی دلته په دی خبره کوم چې ولې کال په کال دځمکې تودوخه زیاتیږي او دځمکې دقطبونو یخچالونه ویلې کیږي دهغې وجه داده چې انسانانو له خپل روز مره مصرف نه پښه اړولې ځکه کوم نقلیه وسایط چې فعلاً انسان جوړ کړي لکه موټرسایکل ، موټر ، ټیلر ، ریل ګاډي کشتۍ او هوایي جهازونه او سټلایټونه داټول پطرول او نور سوختي مواد لکه ګاز او ډېرو سکاره سوځوي چې اندازه یې ملیاردونه او تریلونونو ته رسیږي چې هر لیترپطرول لس زره او پنځه سوه ۱۰۵۰۰کیلو کالوري انرژي چې (۱۲۲۱۱،۴۹۹۹۹۹ سانتي ګراد) تودوخې سره معادل دی ټوله نړۍ کې هره ورځ ۸۱ میلونه بیلره چې یو بیلریا یوه بوشکه ۱۵۹ لیتره کیږي چې په مجموع کې ټول( ۱۲۸۷۹۰۰۰۰۰۰ څه کم دیارلس ملیارده لیتره ) پطرول کیږي چې پ ه مجموع کې ددی نه دتولید شوې ګرمۍ اندازه (۱۵۷۲۶۵۴۶۹۰۰۰۰۰۰ یوسلو اوه پنځوس تریلیونه دوه سوه پنځه شپیته ملیارده او څلور سوه نهه شپیته میلونه سانتي ګراد درجه تودوخه ) تولید یږي او همدومره دطبیعي ګاز چې هره ورځ په نړۍ کې څلور تریلیون (۴۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰ متره مکعبه تولید اوسوځي چې هرمترمکعب ګاز دتودوخې دیو لیتر پطرولو معادل ده چې مجموع کې ( ۴۸۸۴۵۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰ اته څلویښت میګا څلور سوه پنځوس تریلیونه سانتي ګراد درجې حرارت دګازو له سوځیدو نه هره ورځ تولیدیږي ) چې دپطرولو او ګازو مجموعي حرارت درجه به ( ۵۰۴۱۷۶۵۴۶۹۰۰۰۰۰۰ پنځوس میګا څلور سوه اولس تریلیونه شپږسوه څلور پنځوس ملیارده نهه شپیته میلونه سانتي ګراد حرارت في متر مکعب ځمکه بانديې تودوخه تولیدیږي ) چې دا ټول حرارت هره ورځ په دی اتوموسفیر کې ذخیره کیږي ځکه خو کال په کال دځمکې دتودوخې درجه لوړیږي اخر به په دا لنډ وخت کې ځمکه د ژوندیو موجوداتو له اوسیدو واوځي الله پاک فرمایي : ظَهَرَ الْفَسادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِما كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ ---(۴۱) فساد ښکاره شو په وچه او په بحر کې په سبب دهغې چې دی خلکو پخپل لاس جوړ کړي دي

اوس که موجوده انسان پخپل دی عمل له سره غور او فکر ونکړي او بدیل لاره دانرژۍ ونه لټوي لنډوخت کې به له لوي فاجعې سره مخ شي

**طـــول الـــبلـــد:** د ځمکې جغرافیايي طول البلد یا طول له هغه خطونوڅخه چې

دیو قطب نه بل قطب ته غزیدلي دي عبارت دي اودا خطونه عمودي پراته دي او همدارنګه دا خطونه دځمکې شعاع هم جوړوي لکه پوره یوه دایره نه تشکیلوي او په خپل مینځ کې یې مسافې یو شانته وي

**عـــرض الـــبلــد:** دزمکې جغرافیایي عرض البلد یا عرض عبارت دي له هغو

خطونو څخه چې افقي او دزمکې نه ګرد چاپیره تاو وي او دایروي شکل لري او اوږدوالی یې سره فرق لري یعنې تر ټولو لویه دایره داستوا د خط دایره ده او کوچنې یې قطبونو ته نژدې پرته ده او دا کرښې په خپلو کې هم سر ه یو شانته فاصله نلري







چې په استوا کې ددوو کرښو په مېنځ کې فاصله ( ۱۱۱،۳۱۹۵ (کېلو متره اوپه قطبينو کې بيا) ۱۱۱،۱۲ (کېلو متره يا ۶۹ ميله ته رسيږي چې د عرض البلد هره درجه په ۶۰ دقيقو او هره دقيقه بيا په ۶۰ ثانيو تقسيم شوې د ځمکې ټولو ساحو ته په يوه اندازه لمر نه رسيږي بلکه دهر عرض البلد جلا جلا اندازه وي ځکه خو دهرې منطقې اب وهوا سره فرق لري

**دا ستـــوا کــــــرښــــــه :** داستوا کرښه يوه فرضي خط دی چې دکهکشان داستوا له کرښې سره برابرښت لري او دمقناطيسي قطبونو په ذريعه زمکه په يو اړخ کږه شوې چې دځمکې دخيتې منځ دنړی يا فلک له استوا سره سمون خوري  دا ستوا کرښه زمکه په دوه نيم کرو تقسيموي چې يوه يې شمالي نيمه کره او بله يې جنوبي نيمه کره تشکيلوي او استوا دجغرافيايي عرض البلد صفردرجه ده کله چې دځمکې ديوې ساحې نقطه تعينيږي داستوا دخط نه په ۹۰ درجې زاويه کې دشمال په طرف مثبت او دجنوب په طرف منفي ښودل کيږي چې د زاويو اندازه څومره چې قطبونو ته نژدې کيږي له ۹۰ څخه کميږي تر دې چې دواړو قطبونو کې صفر شي

**قطبونه :** زمکه دلمر پورې تړلې او ګرد چاپيره ترې تا ويږي چې دلمر مقناطيسي څپو په ذريعه په همدې قطبونو کې تړل شوی او بل د کهکشان پورې تړلې شوې نو ځکه دوه قطبه لري يو يې شمالي قطب او بل يې جنوبي قطب دي خو په هر قطب کې بيا دوه قطبه دي يو مقناطيسي اوبل جغرافيايي قطبونه چې ديو قطب نه دلمر پورې او دبل قطب نه دکهکشان دګلکتيک قطب پورې تړلي ده







**دځمکې حرکتونه :** اول وضعي حرکت چې په خپل محور  ۲۴ساعتونو کې يو ځل څرخيږي چې له دی حرکته شپه او ورځ پيدا کيږي  دوهم انتقالي حرکت چې دلمر ګرد

چاپيره په يوکال کې تاويږي چې له دى څخه څلور فصله پسرلى، اوړى ، منى او ژمى جوړيږي






دځمکې ګرد چاپيره دايره داستوا په کرښه( ۴۰۰۸۰ )څلويښت زره اتيا کيلو متره ده ؟
دځمکې قطر ۱۲۷۴۲ کيلومتره دى له لمر څخه ( ۱۴۹۰۰۰۰۰۰ ) يوسل نهه څلويښت ميلونه کيلومتره ليرې ده او رڼا يې په اته دقيقو او ۲۰ ثانيو کې زمکې ته رارسيږي
زمکه دلمر ګرد چاپيره په يو ساعت کې ( ۱۰۸۰۰۰ ) يولک اته زره کيلومتره سرعت سره او په کال کې ( ۹۳۳۱۲۰۰۰۰ ) نهه سوه دريديرش ميلونه او يو لک او شل زره کيلو متره فاصله طى کوي
عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِأَبِي ذَرٍّ حِينَ غَرَبَتِ الشَّمْسُ: «أَتَدْرِي أَيْنَ تَذْهَبُ؟» ، قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: " فَإِنَّهَا تَذْهَبُ حَتَّى تَسْجُدَ تَحْتَ العَرْشِ، فَتَسْتَأْذِنَ فَيُؤْذَنُ لَهَا وَيُوشِكُ أَنْ تَسْجُدَ، فَلاَ يُقْبَلَ مِنْهَا، وَتَسْتَأْذِنَ فَلاَ يُؤْذَنَ لَهَا يُقَالُ لَهَا: ارْجِعِي مِنْ حَيْثُ جِئْتِ، فَتَطْلُعُ مِنْ مَغْرِبِهَا، فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: {وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا ذَلِكَ تَقْدِيرُ العَزِيزِ العَلِيمِ} [يس: ۳۸] "صحيح البخاري باب صفة الشمس والقمر) ترجمه :دابو ذر رضى الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ابي ذر ته هغه وخت چې لمر پريوتو وويل : ته پوهيږې چې چيرته لاړو ؟ ماورته وويل الله او دهغه رسول پوهيږي ، هغه وفرمايل: داځي تر دى چې دعرش لاندې سجده کوي ، بيا اجازه غواړي اجازه ورته وشي او زر دى چې سجده وکړي خو قبوله به نشي ترې بيابه اجازه وغواړي اجازه به ورته ونه شي بيا به ورته وويل شي لاړ شه څنګه چې راغلى وې نو بيا به له مغربه راوخيژي ، پس دغ رنګه دالله قول دى (او لمر دى چې په ټاکلي لار ه روان دى چې دغه اندازه دزرور او عليم ذات ده(صحيح بخاري )
[تعليق مصطفى البغا]
۳۰۲۷ (۳/۱۱۷۰) -[ش أخرجه مسلم في الإيمان باب بيان الزمن الذي لا يقبل فيه الإيمان رقم ۱۵۹. (تسجد تحت العرش) تشبيه بغروبها وهي منقادة لأمر الله تعالى وتسخيره بانقياد الساجد من المكلفين وهو يخر إلى أسفل معلنا تمام انقياده وغاية خضوعه لأمر ربه جل وعلا. وكون ذلك تحت العرش فلأن السموات والأرض وغيرهما من العوالم كلها تحت العرش ففي أي موضع سقطت وغربت فهو تحت العرش. على أن هذا الكلام لا يفسر الظواهر الكونية وإنما يشير إلى الأسرار الكامنة وراء الظواهر والتي أودعها الله عز وجل هذه العوالم فهي من الغيب الذي اختص الله تعالى بعلمه وأطلع على شيء منه بعض من اصطفاهم من خلقه وعلى رأسهم خاتم النبيين صلى الله عليه وسلم ليخبروا بذلك من أرسلوا إليهم اختبارا لتصديقهم وتمحيصا ليقينهم وتثبيتا لإيمان من أسلم قلبه لله تعالى منهم
مصطفى البغا پرې ليکنه کړې دا روايت مسلم هغه وخت چې ايمان نه قبليږي باب کې هم راوړى رقم ۱۵۹ (تسجد تحت العرش ) دا تشبيه ده دغروب سره او دا په دى معنى دى

چې هر څه په پوره عاجزی سره دالله دامر منونکي دي او کائنات که هغه اسمانونه دي او که ځمکه ټول دعرش لاندې دي نو لمر چې هر ځای کې غروب کوي او غورځیږي هغه دعرش لاندي دی

**اول:** که چیري مونږ ووایو چې خمکه نه ګرځي لمر وربانديې راخیژي او کوزیږي نو دهغه ایت څه ځواب ویلی شو چې الله تعالی فرمایي: وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ (٤٠) سورة يس، ترجمه : او ټول په فلک کې لامبو وهي یعني ټول ګرځي ــ الله تعالی فرمايي : أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَنْ فِي السَّماواتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذابُ وَمَنْ يُهِنِ اللَّهُ فَما لَهُ مِنْ مُكْرِمٍ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ ما يَشاءُ (١٨ سورة الحج) ترجمه:ایا ته نه ګورې چې الله لره سجده کوي څه چې په اسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي او لمر او سپوږمی او ستوري اوغرونه او ونې او حیوانات او زیات له خلکو نه او په ډیرو بیا دعذاب فیصله شوې او الله چې څوک سپک کړي هغه لره بیا څوک عزت نشي ورکولی او الله هغه څه کوي چې خوښه یې شي

**دوهم:** هغه چاته چې په مصنوعي سپوږمی یا ستلایټ کې دزمکې نه ۳۶ زره کیلو متره دباندې ناست او مجهز تلسکوپ ورسره دی شپه ورځ لمر او ځمکه دواړه ویني چې نه لمر غورځیږي او نه ځمکه غورځیږي بلکه دواړه په حرکت کې دي څه ځواب لرو ؟




نو وایو چې ټول مخلوق سجده کوي هم تسبیح وایي خوشکل یې دسجدې او تسبیح ویلوسره فرق لري مثلاً دونو سجده داده چې څانګې یې راځوړند دي اوسیورى یې هم سجده ده سحر یو خواته او مازدیګر بل خواته دحیواناتو سجده داده کله چې خوراک کوي سر ټیټوي او دوی همیشه درکوع په حالت کې وي تیګې همیشه دسجدې حالت کې وي زمکه هم ثانیه په ثانیه سجده کوي او قیام کوي ددی وضعي حرکت چې په خپل محور ګرځي یو خوا پرې شپه راځي بل خوا پرې ورځ راځي دا تاویده هم دسجدې حالت دی هم دقیام حالت دارنګه لمر هم خپل وضعي حرکت لري تاویږي دا تاویده یوخوا سجده ده اوبل خوا قیام دي او دعرش لاندې دا عمل اجراء کوي ټول مخلوق اسمانونه او جنتونه دعرش لاندې دي فَالْعَرْشُ الَّذِي هُوَ سَقْفُ الْمَخْلُوقاتِ إِلَى مَا تَحْتَ الثَّرَى، وَمَا بَيْنَ ذَلِكَ مِنْ جَامِدٍ وَنَاطِقٍ الْجَمِيعُ خَلْقُهُ، وَمِلْكُهُ وَعَبِيدُهُ وَتَحْتَ قهره وقدرته،وتحت تصريفه ومشيئته(خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَافِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى لَى الْعَرْشِ(البدايه والنهايه ج ١ ص ٨ » البدايه والنهايه کې ابن کثیر رحمه الله لیکلي چې عرش تر تحت الثرى' پورې دټول مخلوق چت دی او ددې په منځ کې که جامد دي که ناطق ټول

مخلوق ملائكي ،بنده ګان دده دقهر او قدرت لاندې او دده دتصرف او مشيئت لاندې (پيدا کړي يې دي اسمانونه اوځمکه او په مابين ددې کې په شپږو ورځوکې بيايې استوا وکړه په عرش باندې»

نو لمر هم دعرش لاندی دی اومونږ ته ددوی دسجدې حالت دلمر پریوتو اودقیام حالت د لمر راختو په شکل ښکاري کنه لمر نه راخيژي او نه پريوځي تفسير مقاتل ليکلي : قال مقاتل: سجودها دورانها وَسجود الشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ، إذا تحول ظل كل شيء فهو سجوده)
ترجمه : دلمر سجده ددی دوران دی او دونو او حيواناتو سجده داده چې کله دهرشي سيورې وګرځي دايې سجده ده

« وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعاً وَكَرْهاً وَظِلالُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْآصالِ (١٥) الرعد»
ترجمه :او خاص الله لره سجده کوي څه چې په اسمانونو کې دي او څه چې په زمکه کې دي په خپله خوښه او په زور سره او سيورې ددوی په سبا او بيګا کې هم سجده کوي ) يعني سيورې يې دسجدې يو حالت دی بل ځای کې فرمايي: {ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلا} [الفرقان: ٤٥] ترجمه: بيا مونږ ګرځولی دی لمر په دی سيوري باندې دليل ) دسهار لخوا دلمر له وجه سيورې يو خوا مازديګر بل خوا وي دغه دونو غرونو او نورو شيانو دسجدې حالتونه دی



پورته شکلونو کې ورځ دچپ طرف نه ← ښي طرف ته روانه ده چې تياره ختمه او ځای يې رڼا يا ورځ ونيوه اوبيا شپه شروع او ورځ ختمه شوه






زمکه اته حرکتونه لري وضعي حرکت ، انتقالي حرکت ، جمپي حرکت ، احتزازي حرکت او داسې نور یو حرکت یې دزلزلو په شان وه لکه دیګ چې خوټیږي ددی حرکت په موجودیت کې یوه ابادي هم پایداره نه پاته کیده هغه الله تعالی دغرونو په ذریعه تثبیت کړې باقي نور حرکات یې اوس هم شته چې هغه ضرري نه دي

که زمکه حرکت ونکړي تولې اوبه به ترې تلې شي لکه یوستل کې اوبه واچوې او بیا ستل ته حرکت ورکړی شي تر دی چې ستل سرچپه شي خو اوبه ترې نه تویږي دا ددی حرکت علت دی چې ستل کې یې اوبه تویدو څخه منع کړي دي (والله اعلم)

سوال :ــ الله پاک فرمایي : هرشی په فلک کې ګرځي او لامبو وهي غرونه او تیګي خو جامد او ځای پر ځای ولاړې دي ؟

ځواب :ــ غرونه دځمکې دګرځیدو سره یو ځای ددوی ګرځیده هم ثابتیږي بل داچې الله پاک فرمایي « وَتَرَى الْجِبالَ تَحْسَبُها جامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحابِ ۸۸ النمل » ترجمه: ( او ته غرونه وینې ، ته به په دوی دکلکو ولاړو ګمان کوې حال داچې دوی ګرځي په شان دوریځو دګرځیدو ) دلته دتری صیغه دحال او مستقبل دواړو لپاره استعمالیږي یعني ته وینې اوس او هم وروسته چې دوریځو په شان ګرځي په داسې حال کې چې مونږ ته جامد ښکاري که چیري دتیګي یوه ذره دمایکرو سکوپ لاندې واچول شي او دهغې اتوم ته وګورو نو ددی ایت حقیقت به په خپلو سترګو ووینو چې دتیګو او اوسپنې او نورو جامداتو اتومونه څومره په سرعت سره حرکت لري دهر اتوم په منځ کې هسته یاړزه وي او شاوخوا یې الکترونونه ګرځي راګرځي ددوی دګرځیدو سرعت دومره تیز وي چې ساینس دانانو ته یې شمار سخت وي او په ډیر تکلیف یې وشماري بیا نظر ورکړي چې ددغه شي اتوم دومره تعداد الکترونونه لري نو وایو چې هیڅ شی مطلق جامد نه دی بلکه ښکاري داسې لکه جامد او ټول په فلک کې لامبو وهونکي دي الله تعالی په خپلو خبرو کې ربښتنی دی لکه چې فرمایي: لا الشَّمْسُ يَنْبَغِي لَها أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلا اللَّيْلُ سابِقُ النَّهارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ (یس ٤٠) ترجمه : لمر نشي کولی چې سپوږمی رالاندې کړي اونه شپه په ورځ مخکې کیدای شي او هر یو پخپل مدار او فلک کې لامبو وهي مونږ انسانان هغه ځای او حقیقت ته چې رسیږو ډیر وخت غواړي الله پاک فرمایي : وَما أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلاَّ قَلِيلاً (الإسراء ۸٥) ترجمه : او تاسو ته دعلم نه برخه نه ده درکړل شوي مګر ډیره لږه ) نو دی لږ علم باندې دالله تعالی دا لویه بادشاهي څنګه معلومولی شو او دا امکان نه لري

سوال :ــ اسمان ولې شین ښکاري ؟

ځواب:ــ اول خبره خوداده چې داشین رنګ چې ښکاري دااسمان نه دی دازمونږ دځمکې هواړ برخه ده اګرکه اسمان دانسان دسرنه پورته ساحه داسمان سره تړاولري او نښتې



اوشنه چې ښکاري علت يې دادی: چې دلمر رڼا چې کله اتوموسفير ته را داخله شي دايزو تروفيک عمليې ( انکسار عمليې ) په ذريعه نور انکسار وکړي نور چې اوه رنګونه لري دهريوې دطيف طول موج سره فرق لري يعني اوه واړه په يو ځای کې انکسار نکوي بلکه هر رنګ وړانګه په جلا جلا زاويو انکسار کوي دلته کله چې دلمر رڼا راشي نو شين اسماني رنګ چې ورته وايي دی ته تر نورو ډير انکسار ورکړي او مونږ ته راورسيږي نو ځکه اسمان شين ښکاري کنه داتوموسفير نه پورته همدغه رڼا موجوده ده خو توره ښکاري ځکه هلته انکسار نشته انکسار دی ته واي لکه په اوبو يا مخروطي شيشه کې چې رڼا واچول شي هغه بل خوا تري په مختلفو رنګونو رڼا ګاني ښکاري دی ته ايزوتروفيک حالت وايي سحر او ماښام چې لمر سور ښکاري هغه هم دايزوتروفيک يو حالت دی بحر چې شين ښکاري هغه هم داتوموسفير رنګ ته انعکاس ورکوي

سوال :ــ لمر له ځمکي څومره غټ دی ؟

ځواب :ــ لمر له ځمکي ډير غټ دی په لمر کې ۱۳ ديارلس لکه ځمکي ځايږي او دلمر قطر ۱۳،۵۰ ديارلس نيم لکه کيلو متره دی




سوال :ــ ولې په اوړي کې ګرمي وي او په ژمي کې يخني ؟

ځواب :ــ زمکه چې کله دلمر شاوخوا خپل انتقالي حرکت اجراء کوي نو څلور فصله تري جوړيږي ددی دانتقال دائره بيضوي ده يو خوا لمر ته نژدی بل خو ليرې ده چې پنځه ميلونه کيلو متره سره فرق لري په اوړي کې دلمر نه ۱۵۲ ميلونه کيلو متره ليرې وي او په ژمي کې ۱۴۷ ميلونه کيلومتره مسافه کې وي په اوړي کې سره له دی چې ليرې ده خو ګرمي وي ژمي کې چې زمکه لمر ته نژدی ده خو يخه وي علت يې دادی چې زمکه په يو اړخ کږه ده لکه دنيمه رکوع په حالت کې ده کله چې درکوع حالت مخامخ لمر ته وي نو ګرمي ډيره جذبيږي او چې کله درکوع حالت کې شا لمر ته وي نو ګرمي کمه جذبيږي ، دژمي موسم کې زمکه سره له دی چې پنځه ميلونه کيلو متره لمر ته نژدی ده خيټه يې ورته مخامخ نده شا يې ده ګرمي نه جذبوي ځکه ژمی يخ وي او په اوړي کې زمکه سره له دی چې پنځه ميلونه کيلو متره ليرې ده خو درکوع حالت مخ او خيټه يې لمر ته مخامخ ده څومره ګرمي چې راځي ټوله جذبوي نو ځکه اوړی ګرم وي








# سپــوږمی

سپوږمی دزمکي ستلایټ دی ، دزمکي توازون ساتي ، دمیاشتو شمار ترې معلومیږي ، دشپي لپاره دخوب گروپ دی ، دځینو ونو او بوټو او میو دپخیدو لپاره همدومره رڼا ته ضرورت وي هغه کار ترسره کوي زمکه اوسپوږمی په یو وخت ۵ ، ۴ څلور نیم ملیارده کاله مخکي منځ ته راغلي داچي سپوږمی څرنګه منځ ته راغلي تر اوسه معلومه نه ده یوه نظریه داد ه چي شمسي منظومه جوړه شوه دځمکي جاذبي قوي را جذب او په دې مدار کې یې ځای ونیو زمکه یوه سپوږمی لري چې ۳۸۴۴۰۰ کیلو متره دزمکي څخه مسافه لري او قطر یې ۳۴۷۶ کیلومتره دی دزمکي یو پر څلورمه حصه وړه ده دزمکي په ګرد چاپیره په ۲۷،۳۲ورځویا ۲۹ورځو کي چي سرعت یي في ساعت ۳۶۵۹ کېلو متره اویوه شپه او ورځ کي ۸۷۸۱۶ کېلومتره کېږي تاوېږي چي یوه ورځ یي دوه هفتي او یوه شپه یي هم دوه هفتي ده او نیمه همیشه تیاره وي مونږ ته نه ښکاري اونیمه مونږ ته همیشه ښکاري دکشش قوه یي یو پر شپږ ده یعني یو شئ چي په زمکه کي شپږ کېلو وي سپوږمی کي یو کېلو کیږي سپوږمی کي هغه اسماني ډبرې چي ځمکي ته راځي جذبیږي تر اوسه زمونږ سپوږمی تقریباً ۳۵۰۰۰۰ (دري نیم لکه )اسماني تیکي جذب کړي چي د دغو ډبرو داصابت او لګیدو دځای پراخوالي دیو کېلو متر څخه تر ۳۰۰کېلو مترو ( ۱۸۵ میله ) پورې رسیږي دورځې لخوا په سپوږمی کي دسیوري لاندي څه نه ښکاري یعني سیوري یي تکه تور وي دا ځکه چي هلته هوا نشته چي نور ته انعکاس ورکړي لکه څنګه چي دځمکي وضعي حرکت له غرب نه شرق ته صورت نیسي داسي دسپوږمی انتقالي حرکت هم دغرب نه شرق ته اجراء کیږي تر دي چي دټول شمسي نظام دټولو سیارو او پخپله لمر هم دغرب نه شرق ته حرکت کوي یعني دښي طرف نه چپ طرف ته حرکت کوي





سوال :ــ سپوږمی ولي کله نرۍ او کله دبله یا لویې ښکاري ؟

ځواب :ــ همیشه سپوږمی داعتدال له کرښي دلمر خلاف حرکت کوي یعني خط اعتدال ځمونږ دسر دپاسه ونیسو نو دحمل میاشتي نه تر جوزا اخر پورې لمر دخط اعتدال نه دشمال په طرف خپل برجونه طی کوي اخري برج ته ځان رسوي بیا د سرطان اول نه تر میزان اول پورې بیرته واپس خط اعتدال ته راځي او سپوږمی دلمر خلاف داعتدال خط نه

جنوب طرف هره میاشت دلمر اخري برج ته په ۱۵ ورځو کې ځان رسوي او بیا واپس په ۱۵ ورځو کې خط اعتدال ته ځان رارسوي دغه وختونو کې چې خط اعتدال ته راشي وړه او چې لیرې شي غټه ښکاري مثلاً که مونږ خپل د لاس پنجه مخامخ په ژۍ سره ونیسو او بیا ښي طرف حرکت ورکړو نو پنجه به مو ورو ورو راغټیږي تر دی چې لاس څومره غزولی شو هلته نو ټوله پنجه ښکاري چې بیرته خپل لاس راټولو نو پنجه ورو ورو نرۍ کیږي داسي سپوږمۍ هم ده کله نرۍ او کله ډبله شي

**سوال :ـ خسوف او کسوف څه شي ته وايي او څنګه منځ ته راځي ؟**

**ځواب :ـ** ټولي سیارې او سپوږمۍ چې دلمر ومخې ته راشي ترشا یې چې کوم سیورۍ پریوزي خسوف او کسوف ورته وايي کله چې سپوږمۍ دلمر ومخې ته راشي سیورې یې په زمکه پریوزي لمر نیونه یا کسوف ورته وايي چې لمر پنا او دلمر تاج ښکاري کامل کسوف تر ۵ ـــ ۷ دقیقو پورې دوام کوي او کله چې دسپوږمۍ ومخې ته ز مکه راشي دزمکې سیورۍ په سپوږمۍ پریوځي نو خسوف یا سپوږمۍ نیونه ورته وايي







# ستلایټونه

مصنوعي سپوږمکۍ دبشر دلاس جوړښت دی چې د ځمکې دمدار په شاوخوا کې حرکت لري ددې په ذریعه ټول نظامي او غیر نظامي ، دځمکې منابع ، هوا شناسي اومخابراتي معلوماتونه کشف او راټولیږي ، ستلایټ ددوه متره نه شروع تر یویشت ملیارده پورې یې ساحه رسیږي دخبر نګارانواو مډیا والاو دوړو پرو لرونکه کمرو( ډرون ) څخه چې په دوه متره کې هم عکاسي کوي دودونو او جنګونو په وخت کې ګرځي راګرځي او ویجر یو چې ۴۴ کاله مخکې په ۱۹۷۷م فضا ته توغول شوی او و۲۰۲۲م کال کې ۲۱ ملیارده کیلو متره وړاندې لا روانه ده ۲۳ساعته کې ورته سګنال رسیږي او په ۲۳ ساعته کې ځواب رارسیږي کیدی شي دا لس کاله نور هم مزل وکړي






روسانو لمړني فضائي سپوږمۍ ( اسپو تنیک ۱ ) چې په روسي ژبه کې دهمسفر ۱ په معنی دی او په ۱۳۳۶ شمسي کال یا ۴ داکتوبر ۱۹۵۷ میلادي کال دځمکې مدار ته وتو غوله چې ددې مصنوعي سپوږمۍ په پورته کولو سره دفضاء زمانه او دفضاء مسابقې شروع شوی په ۱۹۴۵م کال ارتورسي کلارک داستوا خط دپاسه درادیوي څپو دخپرولو لپاره دیوې فضائي بېړۍ چې ۳۶۰۰۰ کېلومتره لیرې د زمکې له پاسه دنصب قرارداد وړاندې کړ.






امریکا په ۱۹۵۸م کال فضاء ته بېړۍ ولیږله اوس په فضاء کې په زرګونو ستلایتونه یا مصنوعي سپوږمکۍ موجودې دي چې اصلي هده یې ۳۶ زره کیلومتره له ځمکې وړاندې ده داهغه نقطه ده چې دلته دزمکې جذب او فرار سره برابر دی یعنې سپوږمۍ دلته ودرېږي

## اسماني تيګې

په شمسي منظومه کې سیارې اول عطارد دی بیا ذهره ده بیا زمکه ده او بیا مریخ دی بیا دتیګو او ډبرو یوه طبقه ده چې کله شیطان وغواړي پورته لاړ شي نو ددغې طبقې له تیګو وریسې راخوشې شي شیطان وولي تیګه په فضاکې چې هرې خواته لاړه ځي خوکله بیا همدغه تیګه دزمکې خواته را برابره شي دلته الله تعالی دزمکې ددفاع لپاره په ۱۴۰ کیلو مترۍ کې د اتومسفیر یوه طبقه دمزوسفیر په نامه داسې جوړه کړې کله چې تیګه دلته راورسیږي ددی مالیکولونه لکه سوان په شان زګه دي دتیګې سره دټکر په صورت کې تیګه اور واخلي لکه په ماچس یاور کوتۍ چې پلته کش کړې اور واخلي دا طبقه اتیا (۸۰) کیلومتره پندوالي لري په څوثانیو کې تیګه ایره ایره کړې مونږ ته دا داسې ښکاري لکه پاس اسمان کې ده بلکه دادزمکې داتوموسفیر داخل کې داعملیه اجراء کیږي






پورته مو وویل چې شیطان ویشتونکي شغلي یا ستورې د مریخ او مشتري په منځ کې دتیگو یوه طبقه ده له هغه ځایه راځي دوهمه طبقه دشمسي نظام نه داخري سیارې نه اخوا دتیگو یوه طبقه ده چې ابر وورت ورته وایي له ځمکې نه یو نوري کال لیرې پرته ده هلته نه ځیني سیارې چې له یخ څخه جوړې دي دلمر نه طواف کولو لپاره چې په میلونونو کاله مزل به یې کړی وي کله چې لمر ته رانژدې شي دلمر دحرارت له وجه دهغې ویلې شي شاته داوبو او بخار لکی جوړه کړي څه موده هره شپه ښکاري بیا ورک شي یعني خپل مدار پوره کړي بیرته خپل ځای ته لاړشي




## عطا رد(غشئ)(Mercury): عطارد د شمسي نظام له جملې څخه یو

ترټولونژدې ترینه سیاره لمر ته همدا ده چې له لمر څخه ۵۷۹۰۷۶۰۰ (اته پنځوس زره میلونه کیلو متره یا۳۶۰۰۰۰۰۰ شپږ دیرش میلونه میله لیرې پروت دی قطر یې ۴۸۷۹ کېلو متره دی په شمسي نظام کې له زمکې څخه ځلو ر سیارې وړې او ځلور غټې دي چې عطارد له زمکې څخه په وړو سیارو کې شمارېږي دا ستورى کله دماښام لمرپریوتو په وخت افق کې ښکاري او کله چې بیا دلمر هغه بل اړخ ته ورسیږي نو دسهار لمر ختو نه مخکې ښکاري په عامیانه اصطلاح کې ورته مجنون هم وایي او لیلا یې زهره یا ناهید (Venus ) ده چې دواړو ته لیلا مجنون وایي او کله کله دماښام وخت کې سره ډیر نژدې ښکاره شي په داسې حال کې چې یو له بله ۴۵ میلونه کیلو متره سره لیرې واقع دي او که کله کوم حرکت په خپلو کې احساس شي نو هغه به دا وجه وي دلمر سره په یو خط کې واقع شي نو دلږ وخت لپاره یو بل جذب او دحرکت مشاهده وشي



## ۳– زهره ( ناهيد Venus ) : زهره تر ټولو سيارو ډيره روښانه سياره ده

ځمکې ته له ټولو سيارو نه دا ډيره نژدې ده د سهر او مښام ستوري په نامه شهرت لري له لمر څخه ۱۰۲۰۰۰۰۰۰ (يوسلو دوه ميلونه ) کېلو متره يا ۶۷۱۵۰۰۰۰ ميله فاصله لري قطر يې ۱۲۱۰۳ کېلومتره دی چې دزمکې له قطر څخه ۶۵۳ کېلومتره کم دی نوموړې سياره دزمکې سره ډير مشابهت لري زهره له لمر څخه په ۲۲۵ ورځو کې يوځل ګردش کوي او بيا په ۲۴۳ ورځو کې يو ځل په خپل محور څرخيږي چې دزهرى يوه شپه او ورځ (شواروز) دزمکې د۲۴۳ ورځو سره برابره ده دزهره سيارې دګرمې اندازه ۴۶۲ سانتي ګراد اټکل شوې زهره په سطحه کې يوه دره چې ژوروالى يې د۴-۶ کېلو متره او اوږدوالى يې ۴۰۱ کېلو مترو ته رسيږي موجوده ده دا سياره چې زمکې ته ډيره نژدې واقع ده خو ددې اتوموسفير يو غليظ کرد او غبار څخه جوړ شوي چې دهغې له وجه يې تحقيقات مشکل دي او دهمدې غبار له وجه ډير روښانه معلوميږي او سپوږمۍ نلري په دا لاندې شکل کې دزمکې ترڅنګ زير رنګ کې زهره ستورى ښکاري

## ۴ـــ مريخ يا بهرام ( Mars ): مريخ دزمکې نه وروسته يعنې څلورم مدار کې

موقعيت لري او دهغوڅلورو سيارو له جملې څخه دی چې له زمکې څخه وړې دي او فاصله يې له لمر څخه ۲۲۷۸۰۰۰۰۰ (دوه سوه اته ويشت ميلونه ) کېلو متره يا ۱۴۱۵۷۰۰۰۰ ميله ده ددې سيارې قطر ۶۸۰۰ کېلو متره يا ۴۲۲۰ ميله دی ددې سيارې حجم تقريباً دځمکې نيمايي حجم جوړوي انتقالي حرکت يا دلمر په شاوخوا په ۶۸۷ ورځو کې سرته رسوي او وضعي حرکت د خپل محور ګرد چاپيره په ۲۴ ساعته او ۳۷ دقيقو کې سرته رسوي دمريخ د انتقالي حرکت يوه مرحله داسې ده چې زمکې ته ۵۵۰۰۰۰۰۰ کېلومتره نژدې شي چې دا ددې سيارې دمطالعه کولو ښه وخت تشکېلوي چې په تلسکوپ وکتل شي مريخ اتموسفير لري خو دځمکې نه لږ نرم دی له لمر څخه دليرې والي له وجه نسبت زمکې نه يخ دی چه دحرارت درجه يکې د۵-۲۶ درجو دسانتي ګراد ښودل شوې او منفي ۱۲۳ درجې سانتي ګراد پورې رسيږي دمريخ صحراګانې دتيګو او شګو څخه چې سور رنګ لري پوش کړي علت يې دادی چې نوموړوتيګو اکسجن ډير جذب کړی لکه اوسپنه چې زنګ ووهي داسي ښکاري په مريخ کې داکسجن اندازه نسبت زمکې ته کمه ده او اکثره ځايونه يې شين سر سبزه ښکاري چې په مختلفو فصلونو کې يي رنګ تغير خوري چې اول تکه شين بيا ابي او بيا قهوه يي رنګ غوره کوي علماء وايي چې دا دالجيانو اوخزه وو نباتاتو تأثير دی

## ۵– مشتري ( Jupiter ): مشتري دشمسي نظام پنځمه سياره ده مخکې مونږ

وويل چې له زمکې څخه څلور سيارې غټې او ګازي دي يو هم مشتري دی په لاندي شکل کې ښکاري او په شمسي نظام کې تر ټولو غټه سياره ده او وزن يي هم ډير دی په شمسي نظام کې تر زمکې څلور ستوري واړه دي او څلور ترې غټ دي په لاندي شکل

کي وينو چي ونيوس، مارس،مارکيوري اوفلتو  واړه دي او نپتون،يورانوس،جپټر او ساتورن ترې غټ دي چي جمله نهه ستوري کيږي




له زمکي څخه ۱۳۰۰ چنده غټ دی او وزن يي دشمسي نظام دټولو سيارو دوزن نه دوه نيم چنده زيات دی دمشتري هوا د۱۰۰۰۰ کيلو متره يا ۶۰۰ ميله گرد او غبارڅخه لاندې شروع کيږي چي په دي منطقه کي هايدروجن گاز په مايع بدليږي او لدې نه لاندې هايدروجن فلزي حالت لري او دمشتري مرکز يا هسته تيگه ده او ډير گرموالی لري چي ۳۵۰۰ سانتي گراد يا ۶۳۰۰۰ فارنهايټ سره برابره ده دمشتري قطر دځمکي دقطر ( ۱۱ ) چنده دی او حجم يي ۱۰۰۰ برابره دځمکې دی دمشتري اتومسفير له ۷۵٪ هايدروجن ۲۴٪ هليم او يو فيصد نور گازات تشکيلوي

# ۶-زحل ( Saturn کيوان) :

دشمسي نظام يو عجيبه سياره ده له لمر څخه په ليريوالي کې شپږم ستوری دی او فاصله يي له لمر څخه دمشتري دوه چنده ده چي  ۱۴۲۶۰۰۰۰۰۰ يو مليارد دوه څلويښت ميلونه کيلو متره يا ۸۸۶۲۰۰۰۰۰ ميله کيږي حجم يي له مشتري څخه وروسته تر ټولو نورو سياراتو زيات دی دمشتري په شان له هايدروجن او هليم څخه جوړ شوی  دزحل قطر ۱۲۰۵۳۶ کيلو متره يا ۷۴۶۰۰ ميله دی له اوبو څخه سپک دی که په اوبو کي واچول شي نو داوبو په سر به ودريږي . له لمر څخه په ۲۹کاله او ۶ مياشتو کي يو ځل دوره يا انتقالي حرکت تر سره کوي او وضعي يا په خپل محور حرکت يي په ۱۰ ساعته او ۳۰ دقيقو کي سرته رسوي  زحل هم دمشتري په شان اتومو سفيرلري چي له امونياک او متان له گازاتو څخه جوړ دی  خو داچي له لمر نه يي فاصله زياته ده دمشتري نه ۱۰۰ درجي يخ او کم دی چي دامونياک گاز ديخوالي له وجه منجمد حالت لري ۱۷ سپوږمی لري  غټه يي ۵۶۰۰ کيلو متره قطر او وړه يي۲۴۰ کيلومتره قطر لري . ترټولو چي په زړه پورې خبره ده هغه داده چي زحل يو کمر بند لري چي دزحل له استوايي سطحي څخه ۱۲۰۰ کيلو متره فاصله کي موقعيت لري چي واړه کمربندونه نور هم د پياز دطبقو په شان شته

دا کمربندونه درې طبقې لري خارجي حلقه چې د سيارې څخه کم رنګې او تياره ده دوهمه حلقه وسطي ده چې روښانه ښکاري دريمه داخلي طبقه داطلس په نامه يا ډيرې ديوې نرۍ پردې په شکل دزحل څخه تاوده




## ۷–اورانوس ( Uranus ) : د فاصلې په لحاظ د شمسي نظام اومه سياره ده

او په غټوالي کې له مشتري، زحل، نپتون څخه وروسته څلورم ستوری دی قطر يې ۷۰۵۰۰ کېلو متره يا ۳۱۵۰۰ ميله دی او دلمر څخه يې فاصله ۲۸۰۰۰۰۰۰۰۰ دوه مليارده کېلو متره يا ۱۷۵۰۰۰۰۰۰۰ ميله ده انتقالي حرکت يې دلمر په شاوخوا۳۰۶۸۵ ورځې چې معادل د (۸۴ ) کاله او ۷ ورځې ۱۰ ساعته او ۴۸ دقيقو کې يو ځل پوره کوي د اورانوس فضا دميتان هايدروجن او هليم څخه جوړه شوې ددې سيارې داتوموسفير يخوالی منفي ۲۰۰- درجې سانتي ګراد اټکل شوی او دبحر يازمکې ساحه يې ۲۳۰۰سانتي ګريد او دبريز هسته يې ۷۰۰ درجې سانتي ګريد ده پنځه سپوږمۍ لري چې د ميراندا ،آريل ،امبريل، تيتانيا او ابرون په نامه يادېږي اورانوس دڅلورو ګازي سيارو له جملې څخه دريمه سياره ده څرنګه چې د ددې سيارې دفضا خارجي برخه دمتان ګاز څخه جوړه شوی نو شين رنګ يې غوره کړی او يو خصوصيت يې همدا دی چې شين ښکاري او په عادي حالت کې نه ليدل کېږي او ټوله فضاء يې يخ ده ځنې معلوماتونه ښايي چې اورانوس ۱۵ سپوږمۍ او يوه حلقوي منظومه لري داورانوس شاوخواته چې کوم حلقه ښکاري دا هم ګرد او غبار دی چې داتوموسفير دسرعت دشدت له وجه پيدا شوې

## ۸ ــ نپتون ( Neptune ) : د شمسي نظام دريمه غټه سياره ده چې فقط په

وسائلو ليدل کېږي او دڅلورو ګازي سيارو له جملې څخه ده او د فاصلې په لحاظ اتمه سياره ده . قطر يې ۵۴۰۰۰ کېلو متره يا ۳۵۰۰۰ ميله دی او دلمر څخه فاصله يې۴۴۹۸۲۵۲۹۰۰ څلور نيم مليارده کېلو متره يا۲۷۹۵۰۸۴۸۰۰ ميله ده انتقالي حرکت يې ۱۶۴ کاله او ۳۲۸ ورځو کې پوره کېږي او وضعي حرکت يې په ۱۵ نيم ساعتونو کې تکميلېږي

دنپتون فضاء کې دوه کربښي دي چې بيضوي شکله حلقي لري نپتون ډير يخ دی چې ديخنۍ درجه منفي ۲۳۵- څخه تر ۳۹۱- سانتي گراد پوري رسيږي او ۱۳ سپوږمی لري چې دوه يې د تريتون او تيرائيد په نامه ياديږي چې تريتون سپوږمی د ۲۷۰۵ کيلو مترو قطر لرونکې ده او په نپتون کې بارانونه د نايتروجن او متان گاز وريږي







## ۹-پلوتون ( يواځنۍ Pluto ) : دشمسي نظام نهمه او ډيره ليرې فاصله

کې تري پرته سياره ده چې له لمر څخه ۵۹۲۰۰۰۰۰۰۰ پنځه مليارد نهه سوه او دوه ميلونه کيلو متره يا ۳۶۷۹۰۰۰۰۰۰ ميله ورېاندې پرته ده دا سياره ډيره کوچنۍ چې قطر يې ۳۶۰۰ کيلو متره دی نو لدې وجه دشمسي نظام تر تولو کوچنۍ سياره شميرل کيږي پلوتون په خپل بيضوي مدار دلمر څخه په ۲۴۸ کالونو او۵۴ ورځو کې يو ځل گردش کوي او وضعي حرکت يې ۱۵۳ ساعتونوکې سرته رسوي ځنې علماء واي چې يوه سپوږمۍ لري چې نوم يې شارون دی دا سياره په ۱۹۳۰ميلادي کال کشف شوی له زمکې څخه دلريوالي په وجه ددې په باره کې ډير معلومات نشته پلوتو ډيره يخه سياره ده چې ۲۰۴- څخه تر منفي ۲۳۷- سانتي گراد درجه يخوالی لري اول يو سانس پوه ليو تخمين کړه چې بيا ويليام تومباک په ۱۹۳۰ م کې کشف کړه پلوتون (تنها سياره ) له دې څخه وپيژندل شوه چې ځاي يې تغيريده کله يو ځاى او کله بل ځاى ته معلوميده چې بالا خره تر مطالعې لاندې ونيول شوه نو معلومه شوه چې دا دشمسي نظام يوه سياره ده

# ستارې(لمرونه)

**شمسي نظام:** لمريز نظام يا لمريز اتوم زمونږ د (ملکې وی **Mlky Way** شيري

لاري) کهکشان ددوه سوو ملياردو ستارو څخه يوه ستاره ده دشمسي نظام په منځ کې لمر او شاوخوا يې نهه سيارې ( ستاره هغه ته وايي لکه دلمر په شان خپله انرژي اورنا ولري او سياره لکه زمکه،مريخ،مشتري--- او نور چې دبل څخه رڼا اخلي او په خپله انرژي ونلري ) دالکترونونو په شان گرد چاپيره په مختلف مدارونو او فاصلو حرکت کوي دلمر وزن دزمکې دوزن ۳۳۰۰۰۰ درې لکه او ديرش زره برابر دی او لمر دخپلې شمسي منظومې دټول وزن ۹۹،۸٪ تشکيلوي دلمر قطر ۱۳۵۰۰۰۰ کيلو متره دی چې دزمکې دقطر نه ۱۰۹ چنده زيات دي







لمر ډیر زیات غټ دی دمشتري ۱۰۰۰ چنده او دزمکې دحجم څخه۳۰۰۰۰۰ درې لکه چنده غټ دی ( استرانومي داکتر جان فکس امریکا چاپ ) په دې لحاظ سره ویلی شو چې زمکه دشمسي نظام یو الکترون دی اوبله سروې ښایي ۱۳ لکه زمکې په لمر کې ځایږي چې لمر ته تر ټولونږدې سیاره عطارد دی چې له لمر څخه ۵۸ میلونه کېلو متره لرې دی اوله لمر څخه تر ټولو لرې سیاره پلوتو ده چې له لمر څخه ۵۹۲۰ میلونه کېلو متره (څه کم شپږ ملیارده کیلومتره فاصله لرې اوزمکه ۱۵۰۰۰۰۰۰۰یونیم سل میلونه کېلو متره چې د ۹۳۲۲۵۰۰۰ میله سره معادل ده فاصله لري –






له لمر څخه نور د ۳۰۰۰۰۰ درې سوه زره کېلومتره في ثانیه سرعت سره په اته ۸ دقیقو او ۲۰ ثانیو کې ځمکې ته رارسیږي

که دتوپ مرمۍ چې سرعت یې ۱۵۰۰ متره في ثانیه دی حرکت وکړي نو په ۹کاله او ۹ میاشتو کې به ورسیږي او که فضایي مزائل چې سرعت یې في ساعت ۴۳۲۰۰ کېلو متره دی حرکت وکړي ۱۶۵ ورځو او ۶ ساعتونو کې به ورسیږي دلمر فاصله د ملکې وی کهکشان دمرکز څخه ۳۰ زره نوري کاله ده او لمرسره له خپلو ټولو سیارو دشمال په طرف له همدې مرکز څخه په یو ساعت کې پهKm ۹۷۲۰۰۰ سرعت سره ګرد چاپیره حرکت کوي او دا مدار یو ځل په ۲۲۰ میلونه کاله کې طی کوي (جهان افرین ۱۲۹ ص (جوانان چې مي پرسند۹۷ صفحه) ؟








لمر جامد نه دی بلکه پلازما ډخخه جوړ شوی - دهستي قطر يي ددې دشعاع ٪۲۵ جوړوي دهستې دحرارت درجه يې ۱۵،۷ میلون کلوین ده

لمردOrine Arm اورین ارم کربښې په یوه ځنډه کې موقعیت لري چې دستوروګرد اوغبار ورسره دی اودهمسایه کربښي Perseus Arm پارسیوس ارم څخه په ۶۵۰۰ نوري کاله فاصله کې واقع دی لاندې شکل کې دلمر ګردش دملکي وی کهکشان په شاوخوا کې لیدل کیږي د لمر دسوخت اصلي مواد هایدروجن دی چې درې اتومه هایدروجن سره یو ځای شي یو اتوم هلیم جوړوي ( داتومي بم په بحث کې دا تشریح شوې چې څرنګه هایدروجن سره یو ځای کیږي او اتومي بم جوړوي

دهلیموذخیره دهایدروجني بم په شکل کې انفجار کوي چې (۱۵۰۰۰۰۰۰ ) پنځلس میلونه سانتي ګرید درجه حرارت تولیدوي او دا سلسله جریان لري چې هاید روجن په هلیم او هلیم په هایدروجن تبدیلیږي او کومه انرژي چې په دې تعاملاتو کې ازادیږي دلمر تشعشات جوړوي چې شاوخوا ته يي لیږي او په هره ثانیه کې ۵۶۴ میلون ټنه هایدروجن په ۵۶۰ میلون ټنه هلیم بدلیږي چې ۴ میلون ټنه باقیمانده يي په حرارتي او تشعشعي انرژۍ بدلیږي چې لدې څخه معلومه شوه لمر په هره ثانیه کې ۴ میلونه ټنه فوتو نونه یا زرې خوشې کوي او دا کار په دوامداره توګه جریان لري ځکه خو لمر همیشه لپاره روښانه وي او هایدروجن په فضاء کې دومره ډیر دی چې په پنځه ملیاردونو کاله کې نور هم وسوځي کمبود به پکې رانه شي دلمر له پیدایش نه تر اوسه ٪۵۰ هایدروجن لا ندي مصرف شوی







او کله چې دلمر په داخل کې اتومي انفجارات صورت ونیسي نودلمر له سطحې څخه د ۵۰۰۰۰ کیلو متره په ارتفاع لمبې را پورته شي په لمر کې ډیرې جالبترینې فوارې راپیدا کیږي چې ډیر کم عمر لري کله څومیاشتې دوام کوي او کله بیا تر دوه هفتو هم کم وي بیا ختمې شي اوپه یولسو کلو کې یوځل قوي فوارې ( دارې ) راپیدا کیږي په پورته شکل

کي یوه راتاو شوې فواره یا لمبه ښکاري چې ددې تر بیرته راګرځیدو ځاي پوري پنځوس زره کیلو متره مسافه ده چې ځیني لمبې بیرته راتاویږي او ځیني خلاصې لمبې دي چې راتاویږي نه لکه پورته شکل کې ښکاري Astronomy-John-D.fix) ۴۰۲ صفحه)

# سحاب یا نابولا

نابولا له هغه لمر ځخه دی چې منفجر شوی وي او په فضاء کې یې ګرد او غبار خپور وي یعني کله چې یو ستوری تولد شي دخپل ژوند په دوران کي دخپلي بقا لپاره هایدروجن سوځوي تردې ورسیږي چې نور نو هایدروجن نشي سوځولی او ټول په هلیم تبدیل شي او په یو سپین ښایسته ځلیدونکي مدور غنداري یا کوتوله یا اتومي بم بدل شي له دي وروسته هلیم انفجار کوي او ټول ستوری په ګرد ،غبار او دود باندې بدل شي







اوستوری په یو لویي شیپول بدل شي چې بیا له سره نور ستوري جوړیږي او یا هم په همدي حالت تر یو وخت پورې پاتي کیږي او بیا له منځه ځي چې دې ته نابولا ګاني وایي

# کهـــکشـــــانونه

کهکشان یا Galaxy یوه یوناني کلمه ده چې د اسمان لار یا دآس ترپ یا مند ته وایې چې د سیارو(ځمکو)، شمسي نظامونو ستارو(لمرونو) اونابولا ګانو یوه مجموعه ده چې په یوه حلقه یا دایره کې سره تنظیم شوي وي منځ کې یې بلیک هول یا توره کنده وي چې له هغې ځخه دکهکشان ټول لمرونه کنترولیږي له پنځه ملیاردوځخه تر سل زره ملیاردو ستارویا شمسي نظامونو اود موادو تورو توروشکلونواو ګردونو اوګازونوځخه چې یو دبل تر څنګ سره راټول شوي دي جوړ دی،




ناسا اداره دهوبل تلسکوپ په ذریعه داسمان دیوي سپوږمی په اندازه ساحه عکس ۲۰۱۲

کهکشانونه مختلف شکلونه لري ببضوي، کروي ، مارپيچي او واړه کهکشانونه لکه کوتوله چي پلن والي يې دڅو سوه نوري کالو برابر دى اود۱۰ مېلونو ستارو لرونکي وي او غټ يې بيا تر دري مېلونو نوري کالونو پورې پلن او د ۱۰۰۰۰۰ مليارده ستارو يا شمسي نظامونو څخه جوړ شوى وي او انسان په خپلو سترګو (۱۷۰) مليارده کهکشانونه ليدلى شي او په تلسکوپ خو تر ۲۰۰ مليارده زيات ليدلى شي

زمونږ لمر دملکي وى يا شيري لارې په کهکشان کې دى او (۲۰۰) دوه سوه مليارده لمرونه لري







زمونږ دلمر ګا وندى يا نژدى ترين لمر دپرکسيما په نوم ياديږي چې زمونږ دلمر نه (۴,۳) څلور نيم نوري کاله ليرې دى




# نوري کال

( نوري کال کله چې نور يا رڼا له دې ځايه دهدف په لورحرکت وکړي او هد ف ته ورسيږي يا ونه رسيږي او يو کال پرې تير شي دي ته نوري کال وايي يو کال۳۶۵ ورځي×۲۴×۶۰×۶۰×۳۰۰۰۰۰ = ۹،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰،۵۰۰کيلو متره چې نهنيم (۵،۹) تريليون کيلو متره مسافه طي کوي چې په لنډ ډول ورته نوري کال ياLy لايت اير وايي) نوري کال دى ته وايي چې نور يا رڼا يوکال مزل وکړي څومره فاصله يې چې طى کړه دى فاصلې ته نوري کال فاصله وايي او نور يا رڼا په يوه ثانيه کې (۳۰۰۰۰۰) درى لکه کيلو متره فاصله طى کوي يا په بله اطلاح په يوه ثانيه کې اوه کرتې دځمکې تاويدى شي

## غټ ترین لمر: دملکي وی غټ ترین لمر د ( VV ) سیفیوس لمردی چې سیفیوس

په فلکي شکل کې پروت دی زمونږ دلمر نه ( ۵۰۰۰ ) نوري کاله فاصله کې پروت دی قطر يې ( ۲۵۶۵۰۰۰۰۰۰ ) دوه نیم ملیارده پنځه شپیته میلونه کیلو متره دی چې زمونږ دلمر قطر ۱۳,۵ دیارلس نیم لکه کیلو متره دي تقریباً (۴۷۰ میلونه چنده زمونږ دلمر نه غټ دی )












زمونږ دکهکشان ګاونډی کهکشان اندرومدا دی چې زمونږ له کهکشان څخه (۲,۵) دونیم میلونه نوري کاله مسافه لري

زمونږ ملکی وی کهکشان چې دوه سوه ملیارده لمرونه لري پلنوالی یې (۱۲۰۰۰۰) یولک او شل زره نوري کاله دی






# دریيم فصل

## اول اسمان

نړۍ یا جهان چې اسمان ، طبعیت او **Universe** ورته واي تعریف يې دسیارو ، ستارو، کهکشانونو،سحابونو یا نابولا ګانو او د ستارو او کهکشانونو تر مېنځ فضائي ګردونو ،انرژۍ اونورو موادو ته شامل دی

دټولو کهکشانونو پلنوالی او خپل منځي فاصلې چې انسان پخپل تخنيک اندازه کړی له یوې کنارې نه تربلې کنارې پورې (۹۲۰۰۰۰۰۰۰۰۰) دوه نوي ملیارده نوري کاله تخمين شوی او دېلوالی يې ( ۶۰۰۰۰۰۰۰۰۰۰ ) شپږ ملیارده نوري کاله تخمين شوی

البدايه الي بلوغ النهايه ليکلي چې مجاهد وايي داځمکه په هغه بله ځمکه کې داسې ده لکه یوه وړه خیمه چې په یوه لوی مېدان یا دشته کې واچوي او دا اسمان په هغه بل کې داسې دی لکه چې یوه حلقه په ځمکه کې پرته وي [ البدايه الى بلوغ النهايه ج ١٢ ص٧٥٥٥- - ٧٥٥٧ ]






دوه نوي ملیارده نوري92000000000 کاله داسمان له یوې کنارې نه تربلې کنارې

أَأَنْتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاءُ بَنَاهَا (٢٧) رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّاهَا (٢٨) وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا (٢٩) وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَلِكَ دَحَاهَا (٣٠) أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا (٣١)وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا (٣٢) مَتَاعًا لَكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ (٣٣)النازعات ،. « ایا ستاسو پیدا کېدل سخت دي که دا اسمان يې چې پیدا کړی ، پورته کړی يې دی ددې لوړوالی پس برابر کړی يې دی ، او تیاره کړه شپه ددې او راویستله رڼا د دې ، اوزمکه يې پس له دې نه غوړولې ده ، راویستلي يې دی له دې نه اوبه ددې او واښه ددې ، او غرونه يې محکم کړي دي چې فائده ده ستاسو او ستاسو دڅارویو لپاره)

تفسیرالبدايه الي بلوغ النهايه کې د وَمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ تر تفسير لاندې ليکلي مجاهد رحمة الله عليه وايي : چې داځمکه په هغه بله ځمکه کې داسې ده لکه یوه وړه خیمه چې په یوه

لوي مېدان يا دشته کې واچوی او دا اسمان په هغه بل کې داسې دی لکه چې یوه حلقه په ځمکه کې پرته وي
له دی حدیث نه معلومېږي چې اول اسمان په دوهم کې واچوې داسې به ښکاره شي لکه په یوه لویه دشته کې چې یوه وړه دګوتې ګوتمه پرته وي او دادواړه چې په دریم کې واچوې داسي دي او دری واړه په څلورم کې او پنځه واړه په شپږم کې او شپږ واړه په اووم کې واچوې داسي دي لکه په یوه لویه دشته کې چې یو حلقه دګوتمې پرته وي څکه څومره چې پورته ځې هومره پراخېږي اوبیا دا اوه واړه چې په کرسي کې واچوې همداسې به ښکاره شي او دا ټول چې عرش کې واچوې همداسې به ښکاري

# سیاه چاله یا توره سوړه Black Hole

کله چې یوستاره یا ستوری چې دلمر ۱۰ چنده وزن ولري دومره انقباض وکړي چې دوه کېلو متره جسم ترې جوړ شي نوایا څومره درونددوالی به ولري ؟ اوددي ترڅنګ دجاذبې قوه يې دومره قوي شي چې دنور په سرعت تيز شئ هم ترې نشي تيريدی له دې وروسته ددې ستوري دمرګ شيبې رانژدې شي او بالاخره انفجار وکړي خو د کهکشان په مينځ يا سنتر کې يوه سياه چاله يا توره کنده يا **Black Hole** واقع دی چې ډير زيات سرعت لري او ګرداب په شان تاوېږي او دومره تيزاو جاذبه لري چې نور يا رڼا ترې هم نشي تيريدی او نه وردا خليدی شي او که داخله شي دبيا وتلو امکانات يي نشته او توره کنده يا ګرداب ورته ځکه وايي چې په دې علاقه هيڅ نور يا رڼا ګذشت نشي کولی او د ډير ګرموالي له وجه ددې مطالعه هم ډيره سخته ده بليک هول کله کله دستورو دانفجار نه هم پيدا کېږي ددې وظيفه داده چې ټول کهکشان په خپل محور وڅرخوي زمونږ د کهکشان بليک هول زمونږ دلمر ۴۰۰۰۰۰۰خلورميلونه چنده وزن لري يو سانتي متر مکعب وزن يي د ټولې ځمکې دوزن سره برابر دی دټول کهکشان وزن دکپلر ددريم قانون په اساس دلمر دوزن ۹۰ مليارده برابر دی او زمونږ دکهکشان په شاوخوا اطراف کې تقريباً ۲۰۰۰ واړه بليک هولونه يا توري سوړي سر ګردانه او بي سرنوشته ګرځي راګرځي چې د مختلفو حوادثو له وجه دخپلو کهکشانونواو کورونو څخه راخوشي شوي او يا شړل شوې دي او يا دانفجاراتو پاتي شوني دي - بليک هول دکهکشان په منځ کې يوه قويترينه مقناطيسي نقطه ده چې دخپلو مقناطيسي مزويا تنابونو په ذريعه د خپل ټول کهکشان مربوطه چې څومره لمرونه يا ستوري يا سيارې دي راټينګي او اداره کړي چې نومورې مزي په سترګو نه ښکاري او دا سيستم داسمان په ټولو کهکشانونو کې عزيدلی چې دا غير مرئي ستني دي چې اسمان پري ولاړ دی او په لاندې شکل کې ښکاري الله پاک فرمايي: اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا۝الرعد(۱)(الله هغه ذات دی چې اسمانونه يي بغير له ستنو اوچت کړي چې تاسو يي ويني ) مجاهد رحمه الله په خپل تفسيرکې فرماييأيْ: « بِعَمَدٍ لَا تَرَوْنَهَا » ( يعني ستنې يې شته خو تاسو يې نه وينئ ) چې دا قول دنورو مفسرينو هم دی
دملکي وی کهکشان بليک هول يا تور سوري ته نژدي يو ستوری S۲ په نامه چې د قوس په فلکې صورت کې واقع دی په بيضوي مدار په ۱۵،۲ کالوکې يوځل ګرځي او له

بلیک هول څخه ۱۷ نوري ساعته یا ۱۲۰ Au فاصله لري (AU دځمکې او لمرتر منځ فاصلي ته واي)





لکه څنګه چې دلمر نه سدنا، ایرس، پلوتو ، نپتون په مداروڼو کې پراته دي داسي د ملکي وی کهکشان دبلیک هول نه دS۱,S۲,S۸,S۱۲,S۱۳,S۱٤ په مداروڼو کې شاوخوا ګرځي او پراته دي خو دS۲ ستوری ورته ډیر نژدې دی د ملکي وی کهکشان د بلیک هول شعاع له ۱۷نوري ساعتونو څخه کم او له۶، ۵ نوري ساعتونویا داورانوس دمدار څخه زیات دی چې داورانوس مدارقطرتقریباً ۵۶۰۱۳۰۰۰۰۰ پنځه ملیارده شپږ سوه دیارلس میلونه کېلو متره دی که چېرې له ۱۷ ساعتونو څخه زیات وي نو s۲ ورسره ټکر کوي اوحجم یي ۴،۱میلون چنده دلمر دی .

په اسمان کې ډیرې سیاه چالي یا توري سوړې یا بلیک هولونه کشف شوي چې تر ټولو غټ یي په ۲۰۱۱م کال کې د ستورو پیژندونکو لخوا NGC٤۸۸۹ کشف شو چې زمونږ نه ۳۳۶ میلونه نوري کاله فاصله لري او وزن یي دلمرنه۲۱ ملیارد چنده زیات دي







که چېرې دنومړي تورسوري څخه یوه د چای خوری قاشقه مواد رواخستل شي او وزن کړل شي نو څلور سوه زره میلونه طنه وزن به ولري

په پورته شکل کې ان جي سي ۱۲۷۷ بلیک هول ښکاري چې قطر یي څلور نوري ورځې دی او په منځ کې یي دشنې اسماني رنګې دائرې په ذریعه دنپتون دانتقالي حرکت دائره ښکاري چې نوموړې سیاره له لمر څخه۴,۴۹۸,۲۵۲,۹۰۰۰ کېلو متره فاصله لري چې دایې شعاع حسابیږي نو قطر ددې دائرې ۸۹۹۶۵۰۵۸۰۰۰ کېلو متره یا ۵،۳ نوري ساعته او دهمدې شنې دایرې په منځ کې یوه نقطه شانته ښکاري دا دځمکې دانتقالي دورې خط دی چې قطر یې ۱۷ نوري دقیقې کیږي

دالجزیرې تلویزون د نن نه څو کاله مخکې یو ریوټ خپور کړې ووچې دبرطانیې یوفزیک پوه ستیفن هاو کېنګ په ۲۰۰۶ م کال یوتلسکوپ چې ۶۰ متره یې طول او ۱۵ متره یې قطر درلوده جوړ اوپه کرینګ یي اوچت کړو هاو کېنګ په اسمان کې خپل معلومات راټولول چې دیوې توري کندې د لیدلوسره مخ شوچې خوراک یي ستوري وه هغه چې

محاسبه ورته وکړه نو معلومه يې کړه چې پنځلسمه ورځ وروسته زمونږ دځمکې دبلع کېدو نوبت رارسيږي دويرې اوهيبت له وجه يې په د ماغو کې فرق پيدا شوټول بدن يې کوږوږ شو له خولې يې زګوږې رواني شوي








# دکائناتو په هکله دفزيکدانانو نظريه

فزيکدانان تر اوسه دنړی په هکله دټولو معلوماتونو په برخه کې دشک او ترد د په فضاء کې ډوب دي اوهر څوک يا هر ملک چې کوم معلومات خپروي نه يې ردوی اونه يې دزړه له کومې منلي شي ځکه قصه ډيره غټه ده او دهر چا له توانه وتلې

د جهان پيژندنې دعلم څخه د بګ بانګ دنظريې په اساس چې د کله نه د نړی د جوړيدو واقعه رامنځته شوی له هغې ورځې نه دنړی ټول کائنات مخ په توسعه او پراخۍ روان دي چې ددې نظريې نژديکت له الهي فرمان سره په تړاو کې ښکاري چې فرمايي وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ (٤٧) وَالْأَرْضَ فَرَشْنَاهَا فَنِعْمَ الْمَاهِدُونَ (٤٨) الذاريات ( او اسمان موږه خپلو لاسونو جوړ کړی او دې له نوره هم پراخي ورکوو،اوزمکه مو فرش کړې ده پس مونږڅومره ښه فرش کونکي يو) او دا توسعه به تر هغې روانه وي دحديث مطابق ترڅو چې يو کلمه ويونکی ژوندی او حتی يو الله ويونکي ژوندی وي دا کلمه طيبه ويل داسې معنا لري لکه يوټاير يا پرسونکي کې يا بال کې چې هوا اچول کيږي که چيرې په دی دری واړه شيانو کې هوا ختمه شي ختم به شي داسې دانړی هم ددی له ويلو سره روانه ده دا ددی نړۍ خوراک دی روح دی چې کلمه طيبه ويونکی ختم شو دکائناتو دتوسعې خوراک ختم شو په هغه ورځ به قيامت شي

بل خوا دنجوم عالم اوفزيک دان ولېام هرشل او نورفزيکدانان په دی اعتراف کوي اود نړی يا جهان دنظم او دسپلين په هکله داسې نظر ورکوي او وايي : دنړی دجوړيدو عمليه يو فزيکي او ديناميکي ايزو تروفيک عمليه ده ( ايزو ترو پيک دې ته وايي چې نور يا رڼا په يوه ماده واچول شي بل خوا چې له همدې مادې څخه ووځي شکست وکړي لکه په اوبوکي يا په شيشه کې ) لاندې شکل کې ايزو تروپيک حالت ښودل شوی




چې د جوړیدو په اولنۍ مرحله کې دفزیک ټول قوانین یکې ځای پر ځای شوي تردې چې دنوردموجونوطول او دجذب د طیف اندازه او دوړانګو څرنګوالی اوټول قوانین په منظم ډول روان دي یو میلیون وړانګې یو میلیون انسانانو ته دنړۍ په هرګوټ او هر ځای کې په یوه حالت او یوه فاصله رسیږي اود نړۍ ټولو انسانانو ته په یو شان ښکاري او همداراز دحرکت له پلوه زمکه دلمر ګرد چاپیره ، لمر دکهکشان ګرد چاپیره ، کهکشان دبلبک هول ګرد چاپیره ،کهکشانونه دګروپونو او ډلګیو په شکل یو له بله ګرد چاپیره او بالاخره یونیورس یا جهان دیو لویې بلیک هول چې ۶ شپږ ملیارده نوري کاله یې طول لري په ګرد چاپیره منظم طور دفزیک دټولو قوانینو په مراعات کولو سره ترسره کیږي .

اوس سوال دادی چې ایا څنګه کېدې شي چې دا ټول مخلوقات دې دټولو فزیکي قوانینولاندې په خپل سر پیدا او همداسې دي پخپل سر وچلیږي لکه چې روان دی ؟ ځواب دادی چې ددې ټولو مخلوقاتو مدبراو پیدا کونکئ دالله ذات دی او  هغه جل جلاله فرمایي :

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ (۳۰)(ایا دا کافران ولې نه ګوري چې اسمان اوځمکه سره یوځای او پیوسته وه بیا مو جدا جدا کړل او هر شئ مو له اوبو را ژوندي کړل نو بیا یې ولې نه مني ؟)!!!!! دفزیکدانانودنظریې نه مونږ ته دا په ګوته کیږي چې پورته مخلوق دټولو قوانینو سره یو ځای جوړ او پیدا شوی دارنګه دانسان بدن هم دټولو فزیکي ،بیالوژیکي ،الکترونیکي اوکیمیاوي قوانینو سره سم جوړ او پیدا شوی نو خامخا  هغه قوانین چې ددې پدیدې دسالم ساتلو لپاره دپیداکېد و نه تر ابد پورې تاکل شوي او وضع شو ي د تطبیق او عملي کېدو وړ دي کنه نو دله منځه وړلو خطره ده مثلاً یوه شیشه یا اینه جوړه شوه دهغې قانون دادی چې دفلزي یا لرګي دتختو په شان استعمال نشي ځکه شیشه ډیر نازک شئ دی صرف درنیا اومخ کتلو لپاره استعمالیږي اوس که شیشه دلرګي یا فلزي تختو پر ځای استعمال کړو نو ډیره زر ماته او له منځه به لاړه شي دغسې دانسان جوړونکي ذات دانسان دبقا او کامیابۍ لپاره قوانین وضع کړي چې هغې ته شریعت او دین اسلام وایي او انسان مکلف دی چې دخپلې بقا او کامیابۍ لپاره دا قوانین پر ځان عملي کړي کنه نو هلاک به شي او دانسان هلاکت دا دی چې جهنم ته لاړ شي اوبقا او کامیابي یې دا ده چې جنت ته لاړ شي لکه چې فرمایي: فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ (۱۸۵)العمران. (څوک چې له اوره بچ شو او جنت ته داخل شو دا کامیاب شو او ددونیا ژوند یوه دوکه ده )

**امام ابوحنیفه** ﷺ دیو زندیق سره مناظره شوه . زندیق دالله تعالی دوجود څخه منکرؤ

امام ابوحنیفه ﷺ ورسره وعده وکړه چې په فلانی ورځ به مناظره کوو. په هغه ورځ امام ابوحنیفهﷺ ځنډ شو او په خپل وخت رانغی نو زندیق ورته وویل چې ته څنګه مسلمان ئې چې په وعده وفا نه کوي. امام صاحب ورته وویل : زه چې کله ددجلی سیند غاړي ته راغلم کشتی نه وه . بیا یوه ونه راغله اره شوه تختی ترې جوړی شوی او بیا ترې کشتی جوړه شوه چې ددجلې سیند غاړي ته راغله زه یکې را سور شوم اودادی راغلم .

زنديق ورته وخندل او بيايي ورته وويل : ته لاځان ته دمسلمانانو امام وايې او دومره کم عقل ئي کشتئ څنګه له ځانه جوړه شوه ؟امام صاحب ورته وويل : چې اصل بې وقوف خوته ئي ځکه چې ستا عقل دغه يوه وړه کشتئ له ځانه جوړيدل نه منى نو دا لوى کائنات، سمندرونه، غرونه زمکه ، اسمانونه او پکې دا ټول مخلوقات او موجودات څنګه له ځانه پيدا شول ؟ دا ټول يو خالق ، پيدا کوونکى او جوړونکى لري چې هغه الله ج دى . نو زنديق حيران شو. او ايمان ئي راوړ مسلمان شو.

الله پاک فرمايي : لَخَلْقُ السَّماواتِ وَالْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاس" [غافر: ٥٧] ترجمه : خامخا داسمانونو او ځمکي پيداکيدل غټ او ستر دي دخلکو دپيدا کيدو نه )

# څلورم فصل

## سدرة المنتهى

دمعراج په سفرکي چې کله نبي عليه السلام دجبريل عليه السلام سره يو ځاى سدرة المنتهى مقام يا دبيرې ونې ته ورسيدل نو دغلته يې وليده چې دالله پاک نور په هغي پرڤيدواو قسما قسم رنګونه يي لرل چې په غير دالله جل جلاله نه بل چاته دهغي علم نشته ابن کثير رحمه الله دسورة نجم (عند سدرة المنتهي )تر تفسير لاندې ليکلي ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي معراج شپه باندې رسول الله ﷺ سدرة المنتهي ته ورسيدو چې په اووم اسمان کي ده دځمکې نه چې کوم ښيزونه خيژي هلته رسي بيا دهغه ځاى نه پورته خيژي اودغه شان کوم ښيزونه چې دالله له طرفه نازليږي دغلته راځي او له دي ځايه بيا لاندې راکوزول کيږي دغه وخت دي ونه کې دسرو زرو ملخان وه او دغلته نبي عليه السلام ته درې شيان ورکړل شوه پنځه وخته لمونځ ،دبقري اخري اياتونه ،او دنبي عليه السلام په امت کي چې چاشرک نه وي کړئ دهغه بخښنه ( مسلم) ابوهريره يا بل صحابي نه روايت دى چې څنګه کارغان يوه ونه ګيره کړي دغه شان دغه وخت سدرة المنتهى باندې




فرښتي خورې وې هلته چې رسول الله ﷺ څه وخت ورسيده ورته وويلى شوه چې څه غواړې نو غواړه مجاهد رحمه الله فرمايي : ددې ونې څانګي دياقوتواوزبرجدو وې نبي عليه السلام دا وليده او دزړه په سترګو يې دالله پاک ديدار هم وکړو ابن زيد رحمة الله عليه فرمايي چې دنبي پاک صلي الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې تاسو په سدرة المنتهى کې څه وليدل ؟ هغه وفرمايل دا مې دسرو زرو ملخانو نه ډکه وليده او هرې پاڼې پورې يوه يوه فرشته وه چې دالله پاک تسبيح يې ويلهابوذررضي الله عنه فرمايي چې نبي عليه السلام نه ما پوښتنه وکړه چې تا دمعراج په سفر کې الله پاک په خپلو سترګو ولېدلو هغه صلي الله عليه وسلم وفرمايل الله نورٌ کيف اراه ( الله پاک نور وه څرنګه مې ليدلى واى )

# جنـــت

دجنت په هکله مو تر خپل وسع او توان اياتونه ،احاديث او نور اقوال رانقل کړي او کوشش موکړی چې اسناد يې صحيح وي کېدی شي ضعيف روايات هم ذکر شوي وي او کوم تصويرونه چې په دې بحث کې راوړل شوي دجنت دمنظرو ، ګلانو، مېووااوخوراکونو تمثيل دی نه حقيقي لکه وايي چې مشت نمونه خروار يعني ددې دنيا نعمتونه صرف دنمونې په قسم ښودل شوي کنه نو په جنت کې هغه نعمتونه دي چې دهغې په هکله : عن ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَمَّا خَلَقَ جَنَّةَ عَدْنٍ، خَلَقَ فِيهَا مَالَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ، ثُمَّ قَالَ لَهَا: تَكَلَّمِي، فَقَالَتْ {قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ} [المؤمنون١] دعباس رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي ﷺ فرمايي : کله چې الله جل جلاله جنت عدن پيدا کړو په هغې کې يې داسي څيزونه پيدا کړل چې نه سترګو ليدلي او نه دهغې صفت غوږونو اوريدلی او نه ديو بشر په زړه کې دهغې خيال او خاطر راغلی بيا يې ورته وويل خبرې وکړه پس جنت وويل (قد افلح المؤمنون)



څوک چې دالله جل جلاله او دهغه دپيغمبر خبره نه مني دهغوی لپاره زندان او جيلخانه جهنم تيار کړی شوی خو بل پلو يې دخپلو فرمان برداره او مننونکو بنده ګانو لپاره دمېلمېستيا او قدردانۍ مهمانخانه يعني جنت جوړ کړی لکه چې فرمايي نزولاً من غفورالرحيم۝(جنت مېلمستيا ده دبښونکي اومهربان رب له طرفه )چې دا مهمانخانه يعني جنت يوه لويه بادشاهي ده چې الله پاک يې خپلومؤمنو بنده ګانو ته دهغوی دښوعملونو په بدل کې ورکوي لکه چې فرمايي: وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا (٢٠)الدهر(اوهرکله چې ته وګورې اوبيا وګورې نو وبه وينې نعمتونه او لويه بادشاهي )





تفسير ابن کثير ددې ايت په تفسير کې ليکلي چې صحيح حديث کې دي چې دتولو په اخر کې څوک دجهنم نه راوويستلی شي او جنت ته راولېږلی شي هغه ته به الله تبارک وتعالی وفرمايي:ځه لاړشه ما تاله په جنت کې هغه څه درکړل کوم چې ددنيا په شان دي بلکې ددې نه مې هم لس چنده زيات درکړل دابن عمر رضي الله عنه په روايت کې دي چې دادنی جنتي ملکيت او بادشاهي به د دوه زره کالونظر په فاصله  وي يعنې دسترګو د ديد په سرعت ۲۰۰۰ کاله مسافه طی شي هومره به دهغه دجنت پراخوالی وي او دجنتي دسترګو نظر به دومره قوي وي چې په هر لري او نژدې شي به دهغه يوشان نظر لږې چې دا حال دادنی جنتي وي نو داعلی جنتي به څومره لويه بادشاهي وي؟ دجنتيانو لباس سندس او استبرق دی چې شنه پرقيدونکي قيمتي دبل وريښم دي دسرو زرو بنګړي چې ملغلرې به  پرې لږيدلي وي ورپلاس کړی شي  اوجنتيانو ته به داسې شراب ورکول کيږي چې پاک او زړه ته خوشحالي ورکونکې وي او دبدن نه به حسد  کينه ،بد اخلاقي ، غصه وغيره ختموي الله پاک به دجنتيانو دزړه دخوشحالولو لپاره بيا بيا ورته وايې چې ستاسو دنيکو عملونو په بدل کې داقدرداني درکول کيږي
وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ (٤٣)(اوازکونکي به وايې چې تاسو ددې جنت وارثان دخپلو عملونو په وجه جوړ کړی شوی يې ) کلو واشربوا هنيئاً بما اسلفتم في الايام الخالية ( ښه پريمانه خوری او څښی دهغو ورځو په بدله کې چې په دونيا کې مو خالي يعنې بې خوراکه تيرې کړي وي ) إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي ظِلَالٍ وَعُيُونٍ (٤١) وَفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ (٤٢) كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ (٤٣) مرسلات        « بېشکه متقيان به په يخو سيوري او چينوکې وي او ميوې به وي اشتها راوړونکي او خوندورې )
تفسير ابن کثير دسورة المؤمنون په تفسير کې ليکلي :  چې کله الله پاک جنت عدن پيدا کړواو په دې کې يې ونې وغيره په خپل مبارکو لاسو ولګولې نو ده ته يې وکتل چې څه ووايه! نو جنت عدن دالاندې اياتونه ولوستل چې په قرآن کې نازل شول :
قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ (١) الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ (٢) وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ (٣) وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ (٤) وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ (٥) إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ (٦) فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ (٧) وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ (٨) وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ (٩) أُولَئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ (١٠) الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (١١)المؤمنون «
ترجمه : بېشکه چې کامياب شول مؤمنان ،هغه خلک چې په خپلو لمونځونوکې عاجزي کونکي دي ،او کوم چې دفضول خبرو نه مخ اړونکي دي ،اوهغه خلک چې دوی زکات ورکونکي دي ، او هغه خلک چې دوی دخپلو شرمګاهونوحفاظت کونکي دي ،مګر خپلو ښځو او وينځو ته چې ددوی په ملکيت کې دي نه دي ملامت ،خو څوک چې له دي نه اخوا غواړي دا له حده تيريدونکي دي ،او هغه خلک چې دخپلو امانتونواو وعدورعايت کونکي وي ، او هغه خلک چې دخپلو لمونځونو حفاظت کونکي وي ،همدا خلک وارثان دي،کوموته به چې جنت فردوس په ميراث کې ورکړل شي او دوی به هلته تل اوسيږي)




ابو سعيد ﷺ فرمايي: چې ددې جنت يوه خښته دسرو زرو اوبله يې دسپينو زرو ده پرښتې چې کله دې ته داخلې شوې نو ويې ويل واه واه داخو دبادشاهانو ځای دی بل روايت کې دي چې دده خټه دمشکو ده بل روايت کې دي چې په دې کې هغه خيزونه دي چې نه چېرته سترګو ليدلي اونه چېرته په يوه زړه کې راغلي ــ بل روايت کې راغلي چې کله جنت ددې اياتونوتلاوت وکړو نو الله پاک وفرمايل زما دې په خپل جلال او لوی يې قسم وي تاته به شوم او بخيل سړی چيرې هم داخل نشي بل حديث کې دي چې ددې جنت يوه خښته دسپينو مرغلرودويمه دسرو ياقوتواودريمه دزبرجدوده ددې خټه دمشکوده ددې ګياه زعفران دي دبی بی عائشي رضي الله عنها نه چا دنبی عليه السلام داخلاقو هکله پوښتنه وکړه هغې ورته وويل دنبي عليه السلام اخلاق قرآن وه ببايي دا اياتونه تر يحافظون پورې ولوستل دبخاري شريف شرح فتح الباري شپږم جلد كتاب الجهاد صفحه ١٢کې دجنت په هکله لاندې حديث رانقل کړی او ببا يې تشريح هم کړې چې ليکلي : حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ، عَنْ هِلاَلِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَبِرَسُولِهِ، وَأَقَامَ الصَّلاَةَ، وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الجَنَّةَ، جَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا» ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَلاَ نُبَشِّرُ النَّاسَ؟ قَالَ: «إِنَّ فِي الجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ، أَعَدَّهَا اللَّهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ، فَاسْأَلُوهُ الفِرْدَوْسَ، فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الجَنَّةِ وَأَعْلَى الجَنَّةِ - أُرَاهُ - فَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ، وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الجَنَّةِ» قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ، عَنْ أَبِيهِ: وَفَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ [ فتح الباري فی شرح البخاري لابن حجر ج ۶ ص ۱۲ برقم ۲۷۹۰ »] له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي صلي الله عليه وسلم وفرمايل : چاچې ايمان په الله او دهغه په رسول راوړو،او لمونځ يې قايم کړو او درمضان مباشتي روژې يې ونيولې دی به ضرور الله پاک جنت کې داخلوي ، او د الله پاک په لاره کې يې جهاد کړی وي او يا په کور کې ناست وي ، صحابه کرامورضي الله عنهم اجمعين ورته وويل چې يا رسول الله ﷺ ايا خلکو ته په دې زيری ورنکړو هغه ورته وفرمايل په جنت کې سل درجې دي چې الله پاک دمجاهد في سبيل الله لپاره تيارې کړې او د دوه و درجو په منځ کې يې فاصله داسمان او زمکې تر منځ دفاصلې په اندازه ده ، پس کله چې تاسو له الله پاک نه سوال کوی دجنت فردوس غوښتنه وکړی دا هم درمېانه جنت دی او هم اعلي جنت دی او د دي دپاسه عرش الرحمن دی چې له هغې نه دجنت ويالې رابهيږي»

.یو بل حدیث دمسلم شریف کې دي چې کوم بنده دالله په رب کېدو، دمحمد ﷺ په رسول کېدو راضي شي دهغه لپاره جنت واجب شو – ابو سعید رضي الله عنه چې دا واوریدل نو خوشحاله شو رسول الله ﷺ ته یې ووې دا دوباره ووایې رسول الله ﷺ دوباره وفرمایل او بیایې وفرمائیل چې یو بل عمل دی چې دهغې په وجه الله پاک دخپل بنده سل درجې اوچتوي دیوې درجې نه تر بلې درجې پورې دومره اوچتوالی دی څومره چې دزمکې او اسمان دی پوښتنه وشوه چې هغه کوم عمل دی ؟ وی فرمائیل دالله په لاره کې جهاد .ارشاد دی چې کله تاسو جهاد ته تیار شئ او مسلمانان ستاسو په تعلیم جهاد ته اماده شي نو بیا به دالله پاک امداد تاسو سره شامل شي الله پاک به دکفر ملا ماته کړي کافران به ذلیله اولاندې کړي او دهغوی حوصلې به ماتي شي بیا به دهغوی څه مجال وي چې ستاسو مقابلې ته راشي دالله پاک نه زیات جنګي طاقت لرلو واله او دهغه نه سختې سزا ورکولو والا څوک شته ؟ له پورته حدیث څخه داسې معلومیږي چې څوک لمونځ روژه یا داسلام پنځه بناوي عملي کړي دا جنتي شو او ددې خبرې په اوریدو سره ټول صحابه کرام هم ډیر خوشحاله شوه خودمجاهدفي سبیل الله لپاره یو ستر امتیاز بل ورکړل شو هغه داچې عام جنتیان چې کوم جنت ته ځي له هغې نه علاوه مجاهد ته سل درجې نورې هم حاصلیږي چې دهرې درجې مابین کې به داسمان او زمکې په اندازه فاصله وي چې البته دا ډیر لوړ مقام دی چې مجاهد ته ورکول کیږي او جهاد په ټولو عباداتو کې داسې دی لکه په اوښ کې چې صنام یا موټانکه لوړ ځای لري خوعامومؤمنانوته ددې دحاصلولو لپاره یو لاره پرېښودل شوې هغه داچې ددوعا په ذریعه دادرجې وغواړي او چې څوک دوعا وغواړي نو الله پاک یې ددوعا غوښتونکی شئ ورکوي الله پاک فرمایي

»وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ (١٨٦) البقره « ترجمه: که زما بنده ګانو زما په هکله له تا څخه پوښتنه وکړه نو زه ډیر نژدې یم او کله چې څوک زما نه څه وغواړي دهغه دعا قبلوم خو زما خبره دې ومني او پر مادي ایمان راوړي دې لپاره چې دوی په سمه لار روان شي»

« عن أبي عطية أن رجلا توفي على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال بعضهم: يا رسول الله لا تصل عليه، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: هل رآه أحد منكم على شيء من أعمال الخير؟ فقال رجل: ------- الفطرة. "كر". ".(كنز العال ج ٤ ص ٤٥٥ برقم١١٣٥٦ ) (المعجم الكبير لطبراني١١٣٥٦»

یو صحابي وفات شو نبي علیه السلام یې جنازي ته تلو نورو صحابه منع کولو چې مه ورځه نبي علیه السلام وفرمایل ایا تاسو کې څوک شته چې دا یې په کوم خیر عمل لیدلی وي؟ یو سړي ووې زما سره یې یوه شپه پیره کړې وه او داسې داسې ، رسول الله ﷺ یې جنازه وکړه بیا یې قبر ته لاړوچې کله یې خښولو نو ویې فرمایل : ستا ملګري خو په تا ګمان کوي چې دی له اهل اور څخه دی خو زه ګواهي ورکوم چې ته داهل جنتو څخه یې بیا یې وفرمایل : ای عمرَ ته دچا داعمالو پوښتنه مکوه بلکې دفطرت پوښتنه یې کوه»

تفسیرابن کثیرسورة واقعه٢٩-٣٠ ایاتونوپه تفسیر کې لیکلي: وَطَلْحٍ مَنْضُودٍ (٢٩) وَظِلٍّ مَمْدُودٍ (٣٠) « کیلې دي لاندې باندې اوسیوري اوږد اوږده » اهل یمن کېلو ته طلح او اهل حجاز ورته موز وایې دوی به په اوږدو اوږدو سیوري کې وي





**صحیح بخاري کې دا حدیث دی چې رسول الله ﷺ فرمائیلي چې دجنت دوني دسیوري لاندې په سپورسرېځ سل کاله تلی شي خو دا سیوری به نه ختمېږي - که تاسو غواړې نو دا ایت تلاوت کړئ ابو هرېره رضي الله عنه چې داحدیث بیان کړو او دکعب رضي الله عنه غوږونو ته ورسیده نو دوی وفرمایل چې په هغه الله قسم چې تورات یې په موسی علیه السلام او قرأن یې په محمد ﷺ نازل کړی دی چې یو بنده په ځوانه اوښه سپور شي او تر هغې روان وي چې هغه بوډئ شي او پرېوځي خو ددې انتها ته به ونه رسي الله پاک دا پخپل لاس کرلي ده او خپله یې پکې روح اچولې دی ددې خاښونه دجنت ددېوالونو نه بهر وتلي دي دجنت ټول نهرونه ددې دجرړو نه وتلي (دا ثابت ،مرفوع او صحیح حدیث دی)**

**دپورته احادیثو نه معلومه شوه چې جنت سل درجي لري او ښا دهرې درجې په منځ کې دزمکې او اسمان په اندازه چې پنځه سوه کاله مزل دی فاصله موجود ده چې اعلی او اوچته درجه یې جنت فردوس دی او د هغې دپاسه دالله جل جلاله عرش دی او له عرش څخه څلور ویالي راروانې دي چې یوه یې د خالصو شدو بله یې دخالصو شرابو بله یې د خالصو اوبو او بله یې د خالصو شهدو ده**

**طارق جمېل صیب چې د جماعت تبلیغ له مشرانو څخه دی په یو بیان کې ویلي چې دالله درحمت له خزانو څخه چې دعرش نه پورته دي او په غیر دالله پاک نه بل چاته معلومې هم نه دي څلور ویالي را بهیږي چې دهرې یوې غټوالی دومره دی که چیرې دا ټوله زمکه په یوه ویاله کې وروغورځول شي نو داسې به معلومه شي لکه په یو لوی سمندر کې چې یوه دجوار دانه وروغورځول شي او ښا دا څلور ویالي لاندې دجنت ټولو درجو ته نومورې اوبه ، شهد، شدي او شراب ورکوي**





**دجنت دا لوړې درجي حاصلول دعباداتو په ذریعه څه اسان کار نه دی ځکه چې زمونږ دعباداتو درجه مونږ ته ښه معلومه ده چې کله په لمانځه ودریږونو خشوع پکې نه وي او**

نه پکې خضوع وي ددونيا تول لالچونه مو ومخې ته راشي نه يې درکعتونو په حساب پوه شو او نه خو په دې پوه شو چې څه مو پکې ولوستل. فرمايې چې په ورځ دقيامت به يو سړي ته عمل نامه ورکړل شي چې دلمانځه په خانه کې به يې يو لمونځ هم نه وي دا به وو ايې چې ما خو په دونيا کې شپيته کاله لمونځ کړئ او دلته يو هم نشته نو ورته به وويلی شي چې ستا لمونځونه غلط وه رکوع سجده دې صحيح نه وه عاجزي او ويره دې پکې نه وه نبي عليه السلام فرمايې چې دچا دلمانځه نيمه حصه او دچا دلمانځه شپږمه ،اومه ،اتمه،نهمه او لسمه حصه قبوله شي نوله دې څخه معلومه شوه چې زمونږ دعباداتو درجه هم دې اندازه کې ده نو دا درجې به څنګه په داسې مات ګوډ عبادت حاصلې کړو نو له دې وجه الله جل جلاله مونږ ته د دې دحاصلولو په خاطر يوه لنډه لار انتخاب کړه چې هغه جهاد دی دجهاد فلسفه او حکمت دادی چې الله پاک هرڅه جوړه جوړه پيدا کړي لکه دبرق دوه لينونه يو مثبت او بل منفي چارج لرونکي دي ددواړو دټکر په نتيجه کې رڼاګاني او ګروپونه بل او نور ماشين الات چليږي او که دواړه لينونه سره ټکر نه کړی شي برق بې معنا دی يواځې يولين هيڅ کار نکوي داسې حق او باطل يوه جوړه ده او ددې ترمنځ جګړه دمؤمنانو لپاره رحمت او دکافرانو لپاره عذاب دی او دا به تر قيامته جاري وي او ګټه به ترې مؤمنان پورته کوي څکه الله پاک دمؤمنانو څخه دهمدې مقدس جنګ په نتيجه کې شهيدان نيسي لکه چې فرمايي : إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِثْلُهُ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ (العمران ١٤٠ ) « که چيرې ورسيږي تاسو ته کوم زخم نوهغوې ( کافرانو ) ته هم رسيږي زخم (تکليف) په شان دهغې او بل ددې لپاره چې جدا کړي مؤمنان او جوړ کړي ځنې په تاسو کې شهيدان او الله پاک ظالمان نه خوښوي»

او چا چې دالله په لار کې خپل ځان او مال قرباني کړو الله پاک ورته په دريو اسماني کتابونو وعده کړي چې په بدل کې به جنت درکوم لکه چې فرمايي :

{ »إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ} [التَّوْبَة: ١١١« [

« حقيبقت دادی چې الله له مؤمنانو څخه دهغوی نفسونه او دهغوی مالونه دجنت په بدله کې پيرلي يا اخستي دي هغوی دالله په لار کې جنګيږي چې نور وژني او خپله هم وژل کيږي دهغوی سره (دجنت) وعده ده او دا کلکه او مضبوطه وعده ده په تورات انجيل او قرأن کې او څوک دی چې له الله نه زيات دخپلې ژمني پوره کونکی وي نو خوښ اوسئ په دغې خپلې سودا چې تاسې له الله سره کړيده او همدا تر ټولو ستر برياليتوب دی»

يوکس تازه ايمان راوړو جنګ شروع شو ده هم په هغې کې شرکت وکړو لږساعت وروسته شهيد شو نبي عليه السلام وفرمايل ده په کم وخت کې ډيره ګټه ترلاسه کړه ـ فضائل الاعمال کې دي چې عبد الله بن رواحه رضي الله عنه دغوښې يوه ټکړه خوړه هغه يې له خولې وغورځوله اودکفارو په صفونو ورننوتو تردې چې شهيد شو ـ عمبررضي الله عنه خرما خوړه هغه يې له لاسه وغورځوله چې ددې په خوراک کې وخت لږيږي دکفارو په صفونو ورننوت ترهغې جنګيده ترڅو چې شهيد شو ـ صحابه رضي الله عنهم اجمعين ښه پوهېدل

چې دکفارو له صفونوژونديو راوتلې نشوخو سل په سله د وژل کېد وسره سره دنيغ په نيغه په صفونو ورننوتلوڅخه معلومېږي چې دا خود کشي نه بلکې جهاد دی او خودکشي يا ځان وژنه دې ته وايي چې يو څوک داسي ووايې: كه فلانی كس ماته لور رانکړي زه به ځان ووژنم او يا يو شاګرد ووايې كه فلانۍ استاد ماناکام کړي زه به ځان ووژنم او يا يوه ښځه له خپل خاوند نه تنګه وي هر وخت ورته غصه اومنت کوي ځان ووژني دا خودکشي ده او يا يومريض له درد څخه دومره تکليف شي چې ځان ووژني لکه دنبي عليه السلام زمانه کې يوصحابي په جنګونو کې دومره زخمي شو چې دزخمونو له وجه تنګ شوخپله توره يې ودروله او دپاسه په خپله خېټه ورپربوت او ځان يې ووژلو نبي عليه السلام ووی ده خودکشي وکړه

تفسير ابن کثير ددې ايت: وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ (١٩٥)البقره (اوخرڅ کوی دالله په لاره کې او مه غورځوی ځانونه دخپله لاسه په هلاکت کې او نيکي کوی بيشکه الله نيکي کونکې خوښوي ) په تفسيرکي ليکلي: عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَسْلَمَ أَبِي عِمْرَانَ قَالَ: حَمَلَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ بِالْقُسْطَنْطِينِيَّةِ عَلَى صَفِّ الْعَدُوِّ حَتَّى خَرَقَهُ، وَمَعَنَا أَبُو أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيُّ، فَقَالَ نَاسٌ: أَلْقَى بِيَدِهِ إِلَى التَّهْلُكَةِ. فَقَالَ أَبُو أَيُّوبَ: نَحْنُ أَعْلَمُ بِهَذِهِ الْآيَةِ إِنَّمَا نَزَلَتْ فِينَا، صَحِبْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَشَهِدنا مَعَهُ الْمَشَاهِدَ وَنَصَرْنَاهُ، فَلَمَّا فَشَا الْإِسْلَامُ وَظَهَرَ، ----- وَلَفْظُ أَبِي دَاوُدَ عَنْ أَسْلَمَ أَبِي عِمْرَانَ: كُنَّا (٦) بِالْقُسْطَنْطِينِيَّةِ -وعلى أهل مصر عقبة بن عامر؛(٥) سنن أبي داود برقم (٢٥١٢) وسنن الترمذي برقم (٢٩٧٢) وسنن النسائي الكبرى برقم (١١٠٢٩) ابو عمران رضي الله عنه وايې چې د مهاجرينو څخه يو تن دقسطنطنيه په جنګ کې دکافرانو په لښکر په ډيره بهادری سره حمله وکړه او دهغوی صفونه يې څيري کړل او يکې ورننوتو نو ځينې خلکو ووي چې دا وګورئ خپل ځان پخپله په هلاکت کې اچوي – ابو ايوب انصاري چې دا واوريدل نو وی فرمايل : ددې ايت په صحيح مطلب مونږ ډير ښه پوهيږو واورئ دا ايت زمونږ په حقله نازل شوی دی مونږ درسول الله ﷺ په مجلس کې پاتې شو دهغوی سره په جنګ جهاد کې شريک شو او دهغوی مدد مو په ځان فرض کړی وه تردې چې اسلام غالب شو مونږ انصارو يوځل په جمع مشوره وکړه چې الله پاک دخپل نبي صلي الله عليه وسلم په مجلس او صحبت مونږ مشرف کړو مونږ ددوی خدمت وکړواو ددوی تر قومانډې لاندې موجنګونه وکړل اوس الحمد لله اسلام خور شو دمسلمانانو غلبه راغله جنګ ختم شو په هغې ورځوکې مونږ نه دخپل اولاد خبر اخستو نه مو دمال او پټيو باغونوڅه خيال ساتلو اوس مونږ له پکار دي چې خپلو کورونو معاملو ته توجه وکړو نو دي باندې دا ايت نازل شو چې جهاد پرېښودل ،په بال بچ او تجارت کې مشغولېدل خپل ځان پخپله هلاکول دي«

عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ السَّبِيعِيِّ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِلْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ: إِنْ حملتُ عَلَى الْعَدُوِّ وَحْدِي فَقَتَلُونِي أَكُنْتُ أَلْقَيتُ بِيَدِي إِلَى التَّهْلُكَةِ؟ قَالَ: لَا قَالَ اللَّهُ لِرَسُولِهِ: {فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلا نَفْسَكَ} [النِّسَاءِ: ٨٤] ، إِنَّمَا هَذَا فِي النَّفَقَةِ.----------- وَقَالَ بَعْدَ قَوْلِهِ: {لَا تُكَلَّفُ إِلا نَفْسَكَ} وَلَكِنَّ التَّهْلُكَةَ أَنْ يُذْنِبَ الرجلُ الذنبَ، فَيُلْقِي بِيَدِهِ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَلَا يَتُوبُ. [ تفسيرابن کثير ج ١ ص ٥٢٩] دبراء بن عازب رضي الله عنه نه يو سړي پوښتنه وکړه چې که زه يوازې ددوښمنانو په صف کې ورننوځم او هلته ګير شم او قتل شم نو ايا زه ددې ايت سره سم دخپل ځان هلاکونکۍ نشوم ؟ دوی ځواب ورکړو نه نه الله پاک خپل نبي ته فرمايي {فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلا نَفْسَكَ} ای نبي دالله په لاره

کي جنګیږه ته دخپل ځان مالک يي ده له تکليف ورکړه او دا ايت خو دالله په لاره کي دخرچ کولو نه دمنع کېدوپه هکله نازل شوی دی (ابن مردويه او نورو) دترمذي په روايت کي داهم دي چې بنده په ګناهونو کې دومره ډوب شي اوتوبه هم نه اوباسي دا پخپل لاس خپل ځان هلاکول



ابن عباس رضي الله عنه فرمايي په جنګ کي دغه شان بهادري کول دځان هلاکت کې اچول نه دي بلکې دالله په لار کي مال نه خرچ کول ځان په هلاکت کې اچول دي . امام قرطبي ليکلي چې دنبي عليه السلام زمانه کې ځنو خلکوبه جهاد ته دتګ وخت کې خرچه نه ورله او دلوږې به مړه کېدل بيا داايت نازل شو اوامام قرطبي ليکلي چې درسول الله ﷺ سره به ځني خلک بې له خرچې جهاد ته تلل چې هلته به له لوږې مړه شول بيا الله پاک دا ايت نازل کړو چې کوم مال الله پاک درکړی هغه خرچ کړه او جهاد ته تش لاس مه ځه .
جهاد في سبيل الله ډيرې نوعې لري له مشرکېنواو تيري کونکو کفاراواو دهغوی له انديوالانو سره قتال جهاد دی حج کول جهاد دی مدرسه او ددېني علومو خورول جهاد دی دعوت او تبليغ جهاد دی دنفس او شيطان سره مقابله کول جهاد دی چې په دې هکله کنز العمال دالاندې احاديث را نقل کړي :ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دی چې حج دضعيفانو جهاد دی(١- عن ام سلمه الحج جهاد کل ضعيف (سنن ابن ماجه ج ٤ ص ١٤٧)
ابن عباس رضي الله عنه فرمايي حج جهاد دی اوعمره عبادت دی ٢- وعن طلحه ابن عبيدالله عن ابن عباس الحج جهاد والعمره تطوع (سنن ابن ماجه ج٤ ص ٢٠٢)
« له ابي مالک اشعري رضي الله عنه نه روايت دی چې يواځې دا دوشمن نه دي چې تا وژني که دي ووژني نو الله به دي جنت ته داخل کړي او که تا ووژلو نو دا درته نوراو رڼا ده لاکن دوشمن ددوشمنانو نه ستا خپل نفس دی چې په خوا کې دي دی او ښځه دي ده چې تاسره په بستر کې څملي او اولاد دې دی چې ستا له پشته دی»
»عن سعيد بن ابي هلال ليس عدوک الذي يقتلک فيدخلک الله في الجنة وان قتلته کان لک نورأ ولاکن اعدي الاعداء نفسک التي بين جنبيک (اعتلال القلوب للخرائطي ج ١ ص ٢٦ برقم ٣٢ «
سعيد بن ابي هلال رضي الله عنه فرمايي يواځې دا دوشمن نه دی چې تا وژني که دې ووژني نو الله به دې جنت ته داخل کړي او که تا ووژلو نو دا درته نوراو رڼا ده لاکن دوشمن ددوشمنانو نه ستا خپل نفس دی چې په خوا کې دي دی
فَضَالَةَ بْنَ عُبَيْدٍ يَقُولُ: " سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ» وَزَادَ سَعْدَانُ: «وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنَّى عَلَى اللَّهِ» [اعتلال القلوب للخرائطي ج ١ ص ٣٧

برقم ۶۱ « فضاله بن عبيد رضي الله عنه فرمايي چې ما درسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي مجاهد هغه دى چه دخپل نفس سره جهاد وکړي ، او سعدان ورزياته کړې چې کمبخت سړئ هغه دى چې خپل ځان يې دخواهشاتو تابع کړى وي او په الله باندې بروسه کوي [يعني وايى چې الله پاک غفور او رحيم دى »

تفسير ابن كثير دسورة المؤمنون ددې اياتونو( وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ (۹) أُولَئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ (۱۰) الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (۱۱) دتفسيرلاندې ليکلي

»عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ العَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ؟ قَالَ: «الصَّلاَةُ عَلَى وَقْتِهَا» قَالَ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: «بِرُّ الوَالِدَيْنِ» قَالَ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: «الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» (بخاري ج ۸ ص ۲ برقم ۵۹۷۰ ) ( مسلم(رسول کريم ﷺ نه پوښتنه وشوه چې دټولو نه زيات کوم عمل دالله پاک خوښ دى ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل لمونځ په خپل وخت اداء کول ،پوښتنه وشوه چې بيا ؟ وي فرمايل مور او پلار سره ښه سلوک کول ،پوښتنه وشوه چې بيا ؟ وي فرمايل دالله په لاره کې جهاد کول« او داخلق دجنت الفردوس وارثان دي نبي پاک ﷺ فرمايي

»وَثَبَتَ فِي الصَّحِيحَيْنِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ الْجَنَّةَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ، فَإِنَّهُ أَعْلَى الْجَنَّةِ وَأَوْسَطُ الْجَنَّةِ، وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ، وَفَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ" (۳) (بخاري ج ۴ ص ۱۶ برقم ۲۷۹۰) (مسلم) چې کله تاسو دالله پاک نه جنت غواړي جنت فردوس غواړئ هغه دټولو نه اعلى او اوسط جنت دى دهغه ځاى نه دجنت نهرونه راوځي او په دې دالله پاک عرش دى« فرمايي تاسو کې دهرچوتن دوه دوه ځايونه دي يو منزل په جنت کې اوبل په دوزخ کې ،کله چې څوک دوزخ ته لاړ شي نودهغه دمنزل وارث جنتي جوړ شي ،مجاهد رحمه الله فرمايي جنتي خو دخپل جنت ځاى جوړ کړي او دجهنم ځاى وغورځوي او دوزخي ددې خلاف کوي کافران چې دعبادت لپاره پيدا شوي وه عبادت يې ونکړو نوددوى لپاره چې کوم انعامات تيار کړئ شوي وه هغه ترې مؤ منانوته ورکړل شوه نو ځکه دوى يې وارثان جوړ شوه صحيح مسلم کې دي

عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ نَاسٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ بِذُنُوبٍ أَمْثَالِ الْجِبَالِ، فَيَغْفِرُهَا اللهُ لَهُمْ وَيَضَعُهَا عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى»[ صحيح مسلم ج ۴ ص ۲۱۲۰ برقم ۲۷۶۷» چې ځني مسلمانان به دغرونو برابرګناهونه راوړي چې هغه به الله پاک په يهودو او نصاراو کيږدي او دوى به وبښي»




»عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لَا يَمُوتُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ إِلَّا أَدْخَلَ اللهُ مَكَانَهُ النَّارَ، يَهُودِيًّا، أَوْ نَصْرَانِيًّا» ، قَالَ: فَاسْتَحْلَفَهُ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بِاللهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَحَلَفَ لَهُ.] صحيح مسلم ج ۴ ص ۲۱۱۹ برقم

٢٧٦٧ ] او بل روايت کې دي چې دقيامت په ورځ به الله پاک هر مسلمان ته يويو يهودي يا نصراني ورکړي چې دا ستا فديه ده دجهنم نه عمر بن عبدالعزيزچې کله داحديث واوريده نو دحديث راوي برده رضي الله عنه  ته يې قسم ورکړو نو دوی دري ځلي قسم وخوړو اودا حديث يې وويلو»
تفسير ابن کثيرسورت واقعه ٧- ٢٦ – ٣٧ ايت لاندې وَكُنْتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَاثَةً (٧) فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ (٨) وَأَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ (٩) وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ (١٠) أُولَئِكَ الْمُقَرَّبُونَ (١١) فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ (١٢) « او تاسو به درې ډلی شئ ، پس ښي لاس والا څومره ښه دي ښي لاس والا – اوچپ لاس والاڅومره بد دي چپ لاس والا او کوم چې وړاندې تلونکي دي هغه هم وړاندې تلونکي دي همداخلق الله ته نژدې دي او په باغونوکې دنعمت به وي) په تفسير کې لکيلي:
چې خلک به  دقيامت په ورځ درې قسمه شي يوه ډله به دعرش ښي طرف ته وي او دا به هغه خلک وي چې دادم عليه السلام دښی ډډې نه راوتلي وه او عملنامې به په ښي لاس کې ورکړل شي او ښي طرف ته به لاړ شي – چې دا دجنتيانو عام ټولګی دی – دويمه ډله به دعرش نه چپ طرف ته وي دابه هغه خلک وي چې دادم عليه السلام د چپ طرف ډډې نه پيدا شوي وو دوی له به عملنامې په چپ طرف ورکړل شي او چپ طرف ته به لاړ شي – داټول جهنميان دي – الله پاک دې مونږ ټول ترې وساتي امين- دريمه ډله مقربين دي دا به دالله پاک مخکې ولاړ وي دا به خاص خلک وي او داصحاب يمين نه هم زيات قدرمند او دنزديکت خاوندان  دي دوی به دجنتيانو سرداران وي په دوی کې به رسولان نبيان صديقين او شهيدان وي دوی به په شمېر کې دښي لاس والاوو نه کم وي




ثُلَّةٌ مِنَ الْأَوَّلِينَ (١٣) وَقَلِيلٌ مِنَ الْآخِرِينَ (١٤)(الواقعه) « ډير به وي له پخوانيوخلکونه اولږ به وي له ورستيو خلکو نه ) مقربين به ډير له ړومبنيو نه او لږ له ورستيو خلکو نه وي ړومبنيو خلکو کې انبياء عليهم السلام ، اهل علين، چاچې دټولو نه اول په خپل نبي ايمان راوړئ وي لکه يوشع بن نون، صاحب يس حبيب نجار، علي رضي الله عنه  او هغه خلک چې جومات ته مخکې راځي دجهاد په صفونوکې تر ټولو مخکې وي ابن جريررحمه الله دا حديث ددې خبرې دپوخوالي لپاره پيش کوي چې رسول الله ﷺ فرمائيلي مونږ وروستي يو او دقيامت په ورځ به مخکې وواو دايې هم وفرمائيل زما امېد دی چې تاسو به دجنتيانو څلورمه برخه بلکې دريمه برخه حتي نيمايې به تاسو يې اودنيم جنت مالکان

به تاسويي او باقي نيم به نورو امتونو ته ورکول کيږي او په هغې کې به هم تاسو شريک يي داحديث مسند احمد کې هم دی خو صحابه کرام بپاهم خفه وه چې يو کال وروسته دا ايت نازل شو ثُلَّةٌ مِنَ الْأَوَّلِينَ (٣٩) وَثُلَّةٌ مِنَ الْآخِرِينَ (٤٠) (الواقعه) « ډيرله پخوا نيو خلکو نه او ډير له ورستيوخلکو نه»

عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړی چې دجنت اته دروازې دې اوه يې بندې وې او يوه دتل لپاره خلاصه وي چې هغه دتوبه کونکو دروازه ده او دی ته درحمت دروازه او دمحمد الرسول الله دروازه هم ويل شوي

عن عبد الله بن مسعود -رضي الله عنه- عن النبي -صلى الله عليه وسلم- قال: (للجَنّةِ ثمانيةُ أبوابٍ سبعة مُغلقة وبابٌ مفتوحٌ للتّوبةِ حتّى تطلُعَ الشّمسُ مِن نحوه، فهذا الباب مفتوحٌ لا يُغلق حتّى طلوع الشمس من مغربها، ويُسَمّى أيضا بباب الرحمة وباب محمد -صلى الله عليه وسلم

مسند احمد کې دي چې مرغان جنتي مرغۍ دبختي اوښانو په اندازه دي او په جنت کې به څري ابوبکر رضي الله عنه وفرمايل يا رسول الله ﷺ دا مرغۍ خو به ډيري مزه دارې وي رسول الله ﷺ وفرمايل ددوی خوړونکي به ددې نه زيات ناز او نعمت والا وي – داجمله يې دري ځله تکرار کړه او بيايي وفرمايل چې زما اميد دی دالله تعالی نه چې اې ابوبکره زه اوته به هم ددې مارغانو غوښه خورو –

حافظ ابو عبدالله مصري په کتاب صفة الجنه کې ليکلي : چې درسول الله ﷺ په مخکې دطوبی ذکر وشو رسول الله ﷺ دابوبکر رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چې ته طوبی پيژنې چې څه شئ دی ؟ هغه وويل الله او دهغه رسول پوهيږي –رسول الله ﷺ وفرمائيل طوبی په جنت کې يوه ونه ده چې دهغې اوږدوالي په غير دالله نه بل چاته نه دي معلوم که دهغې ديو خاښ لاندې تيز سوار اويا کاله مزل وکړي خو بيا به هم دهغې سيوري ختم نشي او دهغې پاڼې پلني پلني دي په هغې دبختي اوښانو برابر مارغان ناست وي ابو بکر رضي الله عنه وويل بيا خو به دا مرغان ډير دنعمت والا وي رسول الله ﷺ وفرمايل زياتو نعمتونو والا به ددوی خوړونکي وي او انشاء الله زه اوته به په هغې کې يو

طبراني کې دي چې کوم جنتي په جنت کې له ونې ميوه وشکوي هلته به هسې ميوه راپيدا کيږي لکه مخکې چې وه




کوثر باره کې ابن ابي الدنيا کې دي چې درسول الله ﷺ په مخکې دکوثر ذکر وشو هغه ﷺ وفرمايل دا په جنت کې يو نهر دی چې ماله راکړل شوی اوبه يې دشدو نه سپينې

او دشاتو نه خوږې دي ابن ابي حاتم کې دي چې په جنت کې یوه مرغۍ ده چې دهغې اویازره وزرې دي په جنتي دسترخوان به هغه راځي اود هر وزرنه به يې جلا جلا شئ راوځي چې دپیو نه سپین دشاتو نه خوږ او دکوچو نه نرم وي خو داحدیث ډیر غریب دی
ابن ابي حاتم کې دي چې دکعب رضي الله عنه نه روایت شوی چې جنتي مارغان به دبختي اوښانو هومره وي چې دجنت مېوي به خوري او دجنت دنهرونو اوبه به څښي دجنتیانو زړه چې کوم مارغه ته دخوړلو کیږي نو هغه به ورله راځي او چې څومره يې زړه غواړي هغومره به خوري بیابه هغه مارغه الوزي چې څنګه اول وو هسي به بیاشي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې دجنت کوم مارغه بنده خوړل غواړي هغه به ورله وریت شوی راځي
تفسير ابن كثير د سورة واقعي د(وَأَصْحَابُ الْيَمِينِ مَا أَصْحَابُ الْيَمِينِ (٢٧) فِي سِدْرٍ مَخْضُودٍ (٢٨) (اودښي لاس خاوندان ، او دښي لاس دخاوندانو دنیکمرغۍ به څه وایې- هغوی به په بې اغزیو بېرو کې وي ) تر تفسير لاندې ليکلي: پورته حال د مقربينو بيان شو اوس د ابرارو چې د مقربينو او سابقينو نه کمه رتبه لري حال بيانيږي : دوی به په هغو جنتونو کې وي چې دبېرو ونې به وي او اغزي به نلري مېوه به يې ډيره او ښه وي په دنيا کې دبېرې ونه اغزي لري او مېوه کمه نيسي اوجنت کې برعکس تردې چې خاښونه به را کښته وي ابو بکر احمد بن نجار رحمه الله يو روايت راوړی چې داعرابيانومخامخ راتلل او درسول الله ﷺ نه دهغوی پوښتنو مونږ ته ډيره ګټه راکوله (څکه دوی رضي الله عنهم پخپله ډير سوالونه نشوه کولای) – يو ځل يو اعرابي راغی او وی ويل يا رسول الله ﷺ قرآن کې ديوې داسې ونې ذکر دی چې تکليف ورکوي – رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې کومې؟ ووي دبېرې – رسول الله ﷺ وفرمايل بيا خو تا دمخضود( بې اغزيو ) ټکئ نه دی لوستی ؟ ددې ازغي الله پاک لرې کړي او ددې بدل کې يې مېوې پيدا کړي اوهرېوه بېره کې به دوه اويا قسمه خوندونه وي چې دهغې رنګ او مزه به هم جدا وي .
ترمذي کې دي دجنت هره ونه دسرو زرو ده ابن عباس رضي الله عنه فرمايلي چې په جنت کې يوه ونه ده چې دهغې هرطرف ته دسلو کالو دلاري برابر سيوري غزيدلی جنتيان به ددې دلاندې کښني {وَظِلٍّ مَمْدُودٍ} لَا يَنْقَطِعُ، لَيْسَ فِيهَا شَمْسٌ وَلَا حَرٌّ،(سيوري اوږد – نه به قطع کيږي اونه پکې لمر شته اونه ګرمي ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي جنت کې به تل هغسې وخت وي لکه دسباون نه تر لمر ختو وخت پورې
مېوې:– په جنت کې به قسم قسم مېوې وي چې نه به سترګو ليدلې وي او نه به دهغې



صفت غوړونو اوریدلی وي نه په چرته انساني زړه کې دهغې خیال راغلی وي ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی چي لمر تندر ونبو رسول الله ﷺ لمونځ کولو دلمانځه نه وروسته لمونځ کونکو ترې پوښتنه وکړه چې مونږ تاسو مخکې او وروسته کېدونکې ولېدئ خیر خو وه؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل ما جنت ولېده دجنت یوه غنچکه شکول مې غوښتل که ما راخستي وای نو څو چې دنیا ودانه وه ترهغې به تاسو خوړله
دجابر رضي الله عنه روایت چې مسلم هم راخستي او مسند امام احمد کې دي چې یو اعرابی راغی چې درسول الله ﷺ نه یې دکوثر په حقله پوښتنه وکړه او دجنت ذکر یې هم وکړو چې ایا په دې کې به میوې وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل او- هلته طوبی نومې ونه هم ده ؟ بېا بېایې څه وویل چې ماته یاد نه دي بېایې پوښتنه وکړه چې دا ونه زمونږ په ونو کې دکومې ونې په شان ده ؟ رسول الله ﷺوفرمایل شام کې یوه ونه کېږي جوزه(اغوزیا چارمغز) ورته وایې یوه تنه یې وي او بره خوره شوې وي البته دهغې په شان وي-
ده بیا پوښتنه وکړه فَمَا عِظَمُ الْعُنْقُودِ؟ قَالَ: "مَسِيرَةُ شَهْرٍ لِلْغُرَابِ الْأَبْقَعِ، وَلَا يَفْتُرُ" چې جنتي غنچکې څومره څومره وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل چې تور کارغه یوه مپاشت والوځي دومره لوی به وي بیا یې وویل ددې ونې تنه څومره غټه ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : که ته دخپلې اوښې بچې پرېږدې اوهغه روان شي تردې چې هغه بوډا شي او راپرېوځي نوهم به دهغې ونې نه چکر پوره نکړي ده ووې په دې کې انګور هم وي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل او- ده ویل څومره به غټ غټ وي ؟ رسول الله ﷺ ورته ځواب ورکړو چې چیرې ستا پلار په رمه کې غټ او تازه او چاغ چېلی حلال کړی وي او څرمن یې ترې ایستلې وي او راښکلې یې وي او ستا مور ته یې ورکړې وي چې له دې داوبو ژئ جوړ کړه ؟ ده ووی چې او – رسول الله ﷺ وفرمایل دومره دومره دانګورو داني وي – ده ووی بیا خو یوه دانه ما لپاره او زما دکور والا و لپاره ډیره ده – رسول الله ﷺ وفرمایل بلکې دټولې کورنۍ لپاره .




عباس رضي الله عنه فرمایي چې دجنت انار به دهغه اوښ په شان وي چې کجاوه پرې ایښې وي یعنې کجاوه دار اوښ په شان غټ به وي قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: الرُّمَّانَةُ فِي الْجَنَّةِ مِثْلُ الْبَعِيرِ الْمُقَتَّبِ (القرطبي ج۱۷ ص ۱۸۶ (دا میوې به تل وي نه به ختمېږي او نه به منع کېږي او نه به یې په راخستو کې تکلیف وي او نه به یې په راشکولو کې تکلیف وي بلکې له کوم ځایه چې میوه وشکولی شوه هغه ځای کې به بله راشنه شي. دجنت دفرشونود

اندازي په هکله ترمذي يو غريب حديث را نقل کړی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: چې دفرشونو اوچتوالي به دزمکې او اسمان داوچتوالي په اندازه يعنې پنځه سوه کاله وي – ځنې اهل معاني و ويلي دي چې مطلب ددې حديث شريف نه دادی چې دفرش وچتوالی به داسمان او زمکې برابر وي يعني يوه درجه بلې درجې نه دومره وچته ده – هردوو درجو کې پنځه سوه کاله لار ده داحديث په ابن جرير او ابن ابي حاتم کې هم راغلی خو ضعيف دی–





**حورې:–** ددنيا چې ځومره بوډۍ او ډير عمر والا ښځه وي هلته به کم عمره او پيغله شي هغوی به دخپل حسن خوش اخلاقي او نرموالي او خوږوالي له وجه دخپلو خاوندانو ډيرې خوښې وي او ځنې وای چې دډير ناز او نزاکت خاونداني به وي حديث کې دي چې دا هغه ښځې دي چې په دونيا کې بوډۍ ګاني او اوس جنت ته راغلي نو دوی پيغلې کړی شوې بل روايت کې راځي چې که دا ښځې پيغلي وي يا واده ټولې به داسې راځي
يوه بوډۍ ښځه رسول الله ﷺ ته راغله او وي ويل چې يا رسول الله ﷺ ماته دوعا وکړه چې الله پاک ما جنت ته بوځي رسول الله ﷺ وفرمايل چې جنت ته به هيڅ يوه بوډي نه ځي – هغه په ژړا واپس شوه رسول الله ﷺ وفرمايل چې دا پوه کړی – مطلب دادی چې کله هغه جنت ته ځي بوډي به نه وي – الله پاک فرمايي چې مونږ به دوی په نوي طريقه پيدا کړو بيا به يې پيغلې کړو





شمائل ترمذي او طبراني کې دي چې ام سلمه رضي الله عنها فرمايي ما ووې يا رسول الله ﷺ دحور عين خبر ماله راکړې نو رسول الله ﷺ وفرمايل چې هغه به سرې سپينې وې غټوسترګو والا به وي تور او لويې لويې وېښته به لرې لکه د نسر (کرکس) ياد شاهين

وزري ماوى دلؤلؤ مكنون هكله مې خبره کړه – رسول الله ﷺ وفرمايل دورځې په شان روښانه او دمرغلرې په شان چې تازه له پوښ څخه راوتلي وي چې دچا لاس ورسره نه وي لګېدلي – ماوى دخيرات حسان څه تفسير دی ؟ وې فرمايل خوش اخلاقه او ښکلي – ماوې ببيض مكنونځه مقصد؟ وې فرمايل دهغوی ناز او نزاکت به دهګی دنري پوستکي په شان وي چې دننه پکي وي – ما دعرباً اترابا دمعنی پوښتنه وکړه نو وې فرمايل پيغلي او په خاوندانو مينې او خاوندانو سره مينه کونکي او هم عمره – ماوی يا رسول الله ﷺ ددنيا ښځې افضلې دي او که حور عين ؟ وی فرمايل ددنيا ښځې دحور عين نه داسې افضلي دي لکه د(رخت) استر نه چې مخ ښکلی وي ماوی ددې وجه ؟ وی فرمايل مونځونه ،روژې او دالله پاک عبادت الله پاک ددوی مخونه په نور سره ښايسته کړي دي او جسدونه به يې په سپين ريښم، شنه ريښم اوزير او دسرو زرو په شان کالي به يې اچولي وي دائريا به يې لاس کې وي دابه وايوَفِي الْحَدِيثِ: (إِنَّ الْحُورَ الْعِينَ يَأْخُذُ بَعْضُهُنَّ بِايدِي بَعْضٍ وَيَتَغَنَّيْنَ بِأَصْوَاتٍ لَمْ تَسْمَعِ الْخَلَائِقُ بِأَحْسَنَ مِنْهَا وَلَا بِمِثْلِهَا - نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَمُوتُ أَبَدًا، وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْأَسُ أَبَدًا، وَنَحْنُ الْمُقِيمَاتُ فَلَا نَظْعَنُ أَبَدًا، أَلَا وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ أَبَدًا، طُوبَى لِمَنْ كُنَّا لَهُ وَكَانَ لَنَا"[تفسير القرطبي ج ١٧ ص ١٨٧] دغټو سترګو والا حوري به يو له بله له لاسونو څخه ونيسي او داسې خوندور اواز سره غزلې به ووايې چې په ټول مخلوق کې چانه وي اوريدلي: « مونږ تل پاتې کېدونکې اوهيڅکله مرې کيږونه، مونږ ناز او نعمت والايو چې چرته به ځونه ، مونږ دخپلو خاوندانو نه خوشحاله کېدونکې يو چې چيرې به مروريږو نه خبردار مونږ خوشحاله يو کله هم نه خفه کيږو     خوش نصيبه دي هغه خلق چې دچا دپاره مونږ يو او خوش نصيبه يو مونږ چې هغوی زمونږدپاره دي




ما پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ ځنې ښځې دوه دوه او درې درې خاوندان وکړي دهغې نه پس هغې له مرګ راشي نو دمرګ نه پس چې دا جنت ته لاړه شي اودا ټول

خاوندان هم جنت ته لاړ شي نو دا به چاله ورکولی شي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل دې له به اختيا ر ورکړی شي چې چا سره غواړي نودا به ځان له خوښ کړي چې دې سره به يې ډير ښه سلوک کولو ـ الله پاک ته به وايي چې ای پروردېگاره ده ماسره ډير ښه تعلق ساتلې وه ما ده له په نکاح ورکړه ـ ای ام سلمه رضي الله عنها ښه اخلاق په دنيا او اخرت کې دنيکو ذريعه وي

دتفسير ابن کثير ادامه کې دشپيلی په اوږد او مشهورحديث کې دي چې رسول الله ﷺ به دټولو مسلمانانو جنت ته دبوتلو شفاعت کوي ـ چې په هغې به الله پاک ورته وفرمايي چې ستا شفاعت قبول شو اوتاله ددوی جنت ته درسولو اجازت درکړی شو ـ رسول الله ﷺ وفرمايل چې دوی به زه جنت ته بوځم په الله قسم تاسوبه داسې دخپل کور او خپلو ښځو نه واقف نه يې لکه چې څومره به جنتيان دخپلو ښځو او جنتي کورونو نه واقف او خبر وي ـ ديو جنتي به دوه اويا ښځې وي چې الله پاک جوړې کړي دي او دوه ښځې به يې دنورو ښځو نه وي چې دوی ته دعبادت په وجه په نورو ټولو ښځو فضليت حاصل وي ـ جنتي به دوی کې يوې له ورځې دا به هغه بالا خانه کې وي چې دياقوتو نه به جوړه وي په هغې پالنک کې به وي چې دسرو زرو دتارونو نه جوړ شوی وي او مرغلرې به پکې وي اويا جوړې جامې به يې اغوستې وي چې ټولې به دنريو او پرقيدونکو خالصو ريښمو نه جوړې وي ـ دا ښځې به دومره نوراني وي چې ددې په ملا لاس کيږدې او سينې طرفته ورله وګورې نو صفا به په نظر راځي ـ کيره غوښه هډوکې هيڅ شی به خند نه وي دومره صفا او دآينې په شان به وي لکه مرغلره کې سوری وکړی شي اوتار پکې واچول شي نو هغه دبهر نه ښکاري ـ دغه شان به دپنډې دننه نلی يا ماغزه ښکاري ـ داسې نوراني بدن به دهغه جنتي هم وي ـ غرض داچې دابه دهغې آئنه وي او هغه دده ـ دی به دهغې سره په عيش او عشرت کې مشغول وي

«وَيلَا يَمَلُّهَا وَلَا تَمَلُّهُ، وَلَا يَأْتِيهَا مِنْ مَرَّةٍ إِلَّا وَجَدَهَا عَذْرَاءَ، مَا يَفْتُرُ ذَكَرُه، وَلَا تَشْتَكِي قُبُلَها إِلَّا أَنَّهُ لَا مَنِيَّ وَلَا مَنِيَّة،» نه به دی سترې کيږي اونه به يې زړه مړيږي ـ کله چې يو بل ته نژدې کيږي نوپيغله به وي نه به دده خاص اندام سستيږي اونه به هغې ته په خاص اندام کې تکليف وي او خاص اوبه به هلته نه وي ـ دی به په دې کې مشغول وي چې غوږ ته به يې اواز راشي چې دا خو مونږ ته ښه معلومه ده چې نه به ستا زړه مړيږي اونه به تانه ستا دښځې ـ خوستا خو نورې ښځې هم دي ـ چې دی به ددې ځای نه بهر راشي او يوې يوې له به لاړ شي چې کومې يوې له ځي نوهغه به بې اختياره وايي چې په رب مې قسم ما په جنت کې هيڅ شئ ستا دمينې نه ښه ونه ليدو



ابو هريره رضي الله عنه دنبي عليه السلام نه پوښتنه کوي چې يا رسول الله ﷺ جنت کې به جنتيان جماع کوي ؟رسول الله ﷺ وفرمايل او قسم په هغه ذات چې زما ساه يې په لاس کې ده په ښه طريقه باندې کله چې دهغې نه جدا شي نو هغه وخت به هغه بيا يوه پا که پيغله شي – رسول الله ﷺ فرمايي مؤمن به په جنت کې دومره دومره ښځو له دورتلو قوت ورکول کيږي – انس رضي الله عنه پوښتنه وکړه چې څومره طاقت به ولري ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل دسلو سړو برابر قوت به لري – طبراني حديث دي چې سلو پيغلو له به په يوه ورځ کې ورځي – حافظ عبدالله مقدسي رحمه الله فرمايي زما په نزد دا حديث دصحيح په شرط دی والله اعلم ( البعث والنشور للبيهقي ج١ ص ٣٣٦(

تفسير ابن کثير کې دي ابن عباس رضي الله عنه د عُرُبًا أَتْرَابًا (٣٧)په تفسير کې وايي چې دابه دخاوندانو خوښې وي ابن ابي حاتم وای چې عرباء څکه ورته وای چې په عربئ به خبرې کوي – اترابا يعنې هم ځولې يعنې دري ديرش کاله به وي دترمذي په يو حديث کې دي چې دا جنتي حوري به يو ښکلي اوښه باغ کې جمع شي او ډير په مېنه په اوچت اواز به سندره وايي چې داسې خوږ اواز چيرې هم مخلوق نه دی اوريدلی او سندره به هغه وي کومه چې پورته تيره شوه ابو يعلی کې دي چې ددوی په سندره کې به داهم وي نحن خيرات حسان ، خبئنا لازواج کرام يعنې مونږ پاکې او صفا خوش شکله اوښکلې ښځې يو چې دبزرګانو او عزتمندوخاوندانو لپاره پټې ساتلی شوې يو – دسليمان داراني رحمه الله نه نقل شوی چې ما يوه شپه دتهجدو مونځ نه پس دعا غوښتل شروع کړل چونکه سخت ساړه وه لاس مې اوچتولی نه شولو دې وجه نه ما يو لاس اوچت کړو او دعا مې وغوښتله او دې حالت کې په دعا غوښتو کې خوب راغلو – خوب کې مې يوه حوره ولېده چې دهغې په شان نوراني صورت چيرې ما نه وه ليدلی هغې ماته ووې چې ای ابو سليمان په يو لاس دې دعا غوښتل شروع کړل او دا خيال نه کوې چې دپنځه سوه کالو نه الله پاک زه تا دپاره په خاصو نعمتونو پاللې يم

په بخاري او مسلم کې حديث دی چې رسول الله ﷺ فرمايي اولنئ ډله چې جنت ته ځي دهغوی مخونه به دڅوارلسمې سپوږمئ په شان روښانه وي دوی نه وروسته تلونکې ډله به دېرقيدونکو ستورو په شان وي دوی به د ډکو متيازو ، توکانو او ګرنګو نه پاک وي ددوی ګومنځې به دسرو زرو وي ددوی خولې ( عرق ) به دمشکو په شان بوي کوي




ددوی انګیتي یابنګړي به دمرغلرو وي ددوی ښځې به حور عین وي ددوی ټولو اخلاق
به یو شان وي داټول به دخپل پلار ادم علیه السلام په شکل شپیته لاسه لوړ وي – طبراني
کې دي چې جنتیان به بې ویښتو بې ږیرې او سره سپین او خوش اخلاقه او ښکلي او
تورو سترګو واله وي او ددرې دیرشو کالو په عمربه وي او اوه لاسه پلن به وي –
مضبوط بدنونه به لري –او ددنیا نه چې په هر عمر وفات شوی وي خو هلته به ۳۳ کلن
وي او دغه شان جهنمیان هم - ترمذي په یو روایت کې دي چې جنتیان به شپیته لاسه
دملائکو دلاس په اعتبار سره وي–قد دادم علیه السلام حسن دیوسف علیه السلام اوعمر
دعیسی علیه السلام یعني درې دیرش کاله اوژبه د محمد ﷺ یعني عربې به وي بې
ویښتواوغټو سترګو والا به وي دابن ابی دنیا په یو روایت کې دي چې جنت ته دداخلیدو
سره به یوې ونې ته بوتلل شي هلته به جامې ورکړل شي چې نه به زړیږي او نه به
خیرنیږي ددوی ځواني به نه ختمیږي او نه فنا کیږي ابن کثیر رحمه الله دسورة جاثیه ۳۰
ایت تر تفسیر لاندې لیکلي چې صحیح حدیث دی الله پاک جنت ته وفرمایل چې ته زما
رحمت یې زه چې چاله غواړم تابه ورکوم
دجنت په هکله مختلف اقوال مختلفو کتابونو رانقل کړي چې ځنې یې لاندې بیانیږي :

**غـــلمان :** تفسیر ابن کثیر ددې ایت په تفسیر کې چې : وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُخَلَّدُونَ
إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَنْثُورًا (۱۹)الانسان « دجنتیانو نه به ځوانان او کم عمره هلکان
ګردچاپیره ګرځي راګرځي اوچې کله ته دوی ته وګورې نو د خورو ورو مرغلرو په شان
به ښکاري » . غلمان ښایسته او ښکلي سپین نوراني مخ والا کم عمره هلکان دي دوی
دخدمت لپاره اماده باش وي دعمر په لحاظ چې په کوم عمر کې وي تل به په هماغه حالت
وي داسې نه دی چې دکال په تیریدوسره یې شکل تغیر شي ښکلی لباس او قیمتي کالي به
یې اچولي وي او په ډیر تعداد کې به یو خوا بل خواپه کارونوکې مشغول وي او کارونو ته
به په منډه منډه چالاکی او تیزی سره ځي اوچې ورته ګوري داسې به معلومیږي چې ګنې
سپیني داوبو مرغلرې په فرشونو یوخوابل خوا رغړي عبدالله بن عمر رضي الله عنه
فرمایي چې دهر هر جنتي به یویو زر خادمان وي
تفسیر القرطبي دسورة الرحمن فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ (۷۰) فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (۷۱)
تر تفسیر لاندې لیکلي:
»عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: لَوْ أَنَّ خَيْرَةً مِنْ (خَيْرَاتٌ حِسَانٌ) اطَّلَعَتْ مِنَ السَّمَاءِ لَأَضَاءَتْ لَهَا، وَلَقَهَرَ ضَوْءُ
وَجْهِهَا الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ [القرطبي ج ۱۷ ص ۱۸۷] سعید بن عامر رضي الله عنه فرمایي که دجنت
له خوش اخلاقه اوښایسته ښځو څخه یوه راښکاره شي نوټول اسمان به روښانه کړي او
دمخ تجلا به یې لمر او سپوږمی تتي کړي«
ترمذي دعلي رضي الله عنه نه نقل کړی چې عائشه رضي الله عنها فرمایي چې کله دجنت
حورې دا ووایي نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَمُوتُ أَبَدًا، وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْأَسُ أَبَدًا، وَنَحْنُ الْمُقِيمَاتُ فَلَا نَظْعَنُ
أَبَدًا، أَلَا وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ أَبَدًا، طُوبَى لِمَنْ كُنَّا لَهُ وَكَانَ لَنَا«"مونږ تل پاتې کېدونکې او هیڅکله
مړې کیږونه، مونږ ناز او نعمت والایو چې چرته به ځونه ، مونږ دخپلو خاوندانو نه
خوشحاله کېدونکې یو چې چیرې به مروریږو نه خبردار مونږ خوشحاله یو کله هم خفه

کيږونه خوش نصيبه دي هغه خلق چې دچا دپاره مونږ يو او خوش نصيبه يو مونږ چې هغوی زمونږدپاره دي»

«خَرَّجَهُ التِّرْمِذِيُّ بِمَعْنَاهُ مِنْ حَدِيثِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. وَقَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: إِنَّ الْحُورَ الْعِينَ إِذَا قُلْنَ هَذِهِ الْمَقَالَةَ أَجَابَهُنَّ الْمُؤْمِنَاتُ مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الدُّنْيَا: نَحْنُ الْمُصَلِّيَاتُ وَمَا صَلَّيْتُنَّ، وَنَحْنُ الصائمات وما صمتن، ونحن المتوضيات وما تَوَضَّأْتُنَّ، وَنَحْنُ الْمُتَصَدِّقَاتُ وَمَا تَصَدَّقْتُنَّ. فقالت عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ، عَنْهَا: فَغَلَبْنَهُنَّ وَاللَّهِ. الثَّانِيَةُ [ تفسير القرطبي ج ١٧ ص ١٨٧]

«نو ددنيا مؤمناني ښځې به ځواب ورکړي چې مونږ مونځ کونکي يو تاسو مونځ کونکي نه يي مونږ روژه نيونکي يو تاسوروژه نيونکي نه يي مونږ اودس کونکي يو تاسواودس کونکي نه يي مونږ صدقه کونکي يو او تاسو صدقه کونکي نه يي بيا عائشي رضي الله عنها وويل چې والله مونږ به پرې غالبي شو » وَقِيلَ: الْآدَمِيَّاتُ أَفْضَلُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ بِسَبْعِينَ أَلْفَ ضِعْفٍ، وَرُوِيَ مَرْفُوعًا. وَذَكَرَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: وأخبرنا رشدين عن ابن أنعم « ١ »او واي چې دبني ادمو ښځې غوره دي دحوروعين نه په اويا زره چنده»

«وَقَدْ قَالَ مُجَاهِدٌ: إِذَا جَامَعَ الرَّجُلُ وَلَمْ يُسَمِّ انْطَوَى الْجَانُّ عَلَى إِحْلِيلِهِ فَجَامَعَ مَعَهُقَالَهُ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ. وَالْمَشْهُورُ أَنَّ الْحُورَ الْعِينَ لَسْنَ، مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الدُّنْيَا وَإِنَّمَا هُنَّ مَخْلُوقَاتٌ فِي الْجَنَّةِ، لِأَنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَالَ: (لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلا جَانٌّ) وَأَكْثَرُ نِسَاءِ أَهْلِ الدُّنْيَا مَطْمُوثَاتٍ،]–القرطبي ج ١٧ ص ١٨٨

« حسن بصري رحمه الله ويلي چې حورعين داهل دنيا له ښځو څخه نه دي بلکي هغه دجنت دمخلوق څخه دي ځکه الله پاک فرمايلي چې دابه نه انسان او نه پيري رانيولې وي او ددنيا ښځې زيات مطموثات دي مجاهد ويلي دي چې کله ښځه او خاوند يو ځای کيږي اوبسم الله ونه وايي جنيات يا شيطان دده سره يو ځای داخليږي. »

# کـــــرســـي

سوال :ـ کرسي چرته ده او دهغي دغتوالي باره کې دالله نبي څه ويلي ؟

ځواب :ـ کرسي تر اووم اسمان پورته ده الله پاک فرمايي : وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّماواتِ وَالْأَرْضَ وَلا يَؤُدُهُ حِفْظُهُما وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ◯ (٢٥٥) سورة بقره ( او دهغه کرسي له اسمانونو او ځمکې څخه پراخه ده او ددې دواړو ساتل يې نه ستړی کوي او هغه ډير لوړ اولوی ذات دی ).ابن کثير رحمه الله په خپل مبارک تفسير کې داية‌الکرسي دايت لاندې ليکلي چې عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې دکرسی په هکله له نبي عليه السلام څخه پوښتنه وشوه نبي عليه السلام په ځواب کې وفرمايل : کرسيه موضع قدميه والعرش لا يقدر قدره الاالله عزوجل، دالله تعالی دکرسي څخه مراد د هغه ددواړه قدمونو ځای دی او دعرش اندازه له الله تعالی نه پرته بل هيچا ته نده معلومه

سدي رحمة الله عليه دابو مالک نه روايت کړی چې ابو مالک رضي الله عنه وايي :کرسي له عرش نه لاندې ده سدي وايي: چې: اسمان اوځمکه دکرسي په جوف يعني منځ کې ده او کرسي دعرش په منځ کې ده ضحاک له ابن عباس رضي الله عنه نه روايت کړئ چې ابن عباس رضي الله عنه فرمايي:که چېرته اوه اسمانونه او اوه ځمکې يو پر بل پسي اوارې او خورې کړای شي او بيا ټول يو بل پسي وصل کړای شي بياهم ددوی ټولو ټلن والی او لويوالی د کرسي په پرتله داسي دی لکه چې په يوه لويه او هواره دشته کې داوسپني يوه کوچنی کړی يا حلقه پرته وي

»قالَ ابْنُ زَيْدٍ: حَدَّثَنِي أَبِي قالَ: قالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وسلم: "ما السموات السَّبْعُ فِي الْكُرْسِيِّ إِلَّا كَدَرَاهِمَ سَبْعَةٍ أُلْقِيَتْ فِي تُرْسٍ"تفسير ابن كثير ج١ ص ٦٨٠ «ابن جرير ويلي دي چې زيد رضي الله تعالى عنه وويل چې رسول الله ﷺ فرمايلي يعني اوه اسمانونه دكرسی په پرتله داسې دي لکه اوه روپۍ چې په ډول (ډهل) کې واچولی شي

ابو بکر بن مردويه وايي چې : عَنْ أَبِي ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ، أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْكُرْسِيِّ فَقالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "والذي نفسي بيده ما السموات السَّبْعُ وَالْأَرْضُونَ السَّبْعُ عِنْدَ الْكُرْسِيِّ إِلَّا كَحَلْقَةٍ مُلْقَاةٍ بِأَرْضِ فَلَاةٍ، وَإِنَّ فَضْلَ الْعَرْشِ عَلَى الْكُرْسِيِّ كَفَضْلِ الْفَلَاةِ عَلَى تِلْكَ الْحَلْقَةِ وفي إسناده محمد بن أبي السري العسقلاني، ضعفه أبو حاتم ووثقه ابن معين، وقال ابن عدي: كثير الغلط.تفسير ابن كثير ج١ ص ٦٨١((ابو ذر رضي الله عنه ويلي چې ما له رسول الله ﷺ څخه دکرسی په هکله پوښتنه وکړه هغه راته وفرمايل زما دې په هغه ذات قسم وي چې دچا په لاس کې زما ساه ده اوه اسمانونه اوه ځمکې د کرسی دلويوالي په پرتله داسې دي لکه په يو پلن او لويې ډاګ کې داوسپني يوه وړه حلقه غورځولی شوې وي او همدارنګه عرش په کرسي داسې فضليت او لويوالی لري لکه څنګه چې هغه بېديا يا دشته په هغه کړی باندې لري (تفسير ابن کثيرپښتو ژباړه اول جلد ٨٤٦- ٨٤٧ صفحي« (بيهقي ليکلي چې :عَنْ أَبِي ذَرٍّ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ايما أُنْزِلَ عَلَيْكَ أَعظم؟ قالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «آيَةُ الْكُرْسِيِّ» ، ثُمَّ قالَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ، مَا السَّمَاوَاتُ [ص:٣٠١] السَّبْعُ مَعَ الْكُرْسِيِّ إِلَّا كَحَلْقَةٍ مُلْقَاةٍ بِأَرْضِ فَلَاةٍ، وَفَضْلُ الْعَرْشِ عَلَى الْكُرْسِيِّ كَفَضْلِ الْفَلَاةِ عَلَى الْحَلْقَةِ»(الاسماء والصفات للبيهقي ج ٢ ص ٢٩٩ برقم ٨٦١«

ابوذر رضي الله عنه فرمايي ما رسول الله ﷺ صلي الله عليه وسلم ته ووي کوم لوی ايت په تا سو نازل شوی هغوی وفرمايل (اية الکرسي) بيا يې وفرمايل: ای ابوذر! اوه اسمانونه دکرسي مقابل کې داسې دي لکه يوه حلقه يا ګوتمه چې دزمکې په يوه دشته کې پرته وي او دعرش لويوالی په کرسي داسې دی لکه ددشتې په حلقه«

ابن کثير رحمه الله د سورة حديد ١٢ ايت( الله الذي خلق سبع سموت ومن الارض مثلهن)تر تفسير لاندې يو حديث ليکلي : اوو اسمانونواو څه چې په دې کې دي او اوو زمکو او څه چې په دې کې دي او ددوی ټولو په منځ کې چې څه دي دکرسي په مقابله کې داسې دي لکه چې په يوه ډير اوږد او پلن ميدان کې يوه ګوتمه پرته وي

دمسند امام احمد جلد ٢ صفحه ٤٦٢کې دي : الكرسي لؤلؤ، والقلم لؤلؤ، وطول القلم سبع مائة سنة وطول الكرسي حيث لا يعلمه العالمون". "الحسن بن سفيان حل عن محمد بن الحنفية، مرسلا" ٢.(٢) ذكر ابن كثير في البداية والنهاية "١٣/١" أحاديث كثيرة فيما تتعلق بالكرسي فراجعها تجد بغيتك. ص] كنز العمال ج ٦ ص ١٥١ برقم ١٥١٩٦ «[ حسن بن سفيان او محمد بن الحنفيه نه مرسلاً روايت کړی چې کرسي مرغلرې دي –او قلم مرغلرې دي او دقلم طول اوه سوه کاله دی او دکرسی دغټوالي معلومات مخلوق ته نشته »

( تفسير طبري دسدي نه نقل کړي چې :حدثني موسى بن هاوون، قال: حدثنا عمرو، قال: حدثنا أسباط، عن السدي:"وسع كرسيه السموات والأرض"، فإن السموات والأرض في جوف الكرسي، والكرسي بين يدي العرش، وهو موضع قدميه.(تفسير الطبري الجامع البيان جز٥صفحه٣٩٨ )(الدرالمنثورفي التفسير بالمأثور٢جز ١٨ صفحه تفسير ابن ابی حاتم ٢جز ٤٩١ برقم ٢٦٠٠ «کرسي لـه اسمان او زمکې پراخه ده او اسمان زمکه دکرسي په خيټه کې دي او کرسي دعرش مخي ته پرته ده او هغه دالله پاک دقد مونو ځای دی –

»وَقالَ ابْنُ جَرِيرٍ فِي تَارِيخِهِ حَدَّثَنا ابْنُ وَكِيعٍ قالَ حَدَّثَنا أبي عَنْ سُفْيَانَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قالَ: سُئِلَ ابْنُ عبَّاس عَنْ قَوْلِهِ عزوجل وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ على اي شئ كَانَ الْمَاءُ؟ قالَ: عَلَى مَتْنِ الرِّيحِ قالَ: والسموات والأرضون ------------ قالَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ السلف بَيْنَ يَدَيِ الْعَرْشِ كَالْمِرْقَاةِ إِلَيْهِ.وَمِثْلُ هَذَا لا يكون فلكاً.وزعم أن الكواكب الثوابت مرصعة فيه لا دَلِيلَ لَهُمْ عَلَيْهِ.هَذَا مَعَ اخْتِلَافِهِمْ فِي ذَلِكَ ايضًا كَمَا هُوَ مُقَرَّرٌ فِي كُتُبِهِمْ والله أعلم. (ذكر ابن كثير في البداية والنهاية ج ١ ص ١٥» ابن جرير پخپل تاريخ كې دسعيد بن جبير له قوله ليكلي چې له عباس رضي الله عنه څخه ددې ايت چې عرش يې په اوبو وو پوښتنه وشوه چې اوبه په څه شي وې؟ هغه وفرمايل : په هوا بيا يې ووې اسمان او زمكې او څه چې په دې كې دي دبحر په واسطه احاطه شوي او دا ټول بيا هيكل (يو جسم يا ديوال يا فوسطين چې كرتى يا لباس دى )احاطه كړې او هيكل چې يې احاطه كړى هغې ته كرسي وايې او ځنو بيا ويلي چې دا اتم فلك دى خوددې دلويوالي نسبت دفلك سره نشي كيداى كه مونږ ورسره دا ومنو چې فلك دى نو كرسي په لغت كې دفلك په معنا نشي مسما كيداى لكه ځنګه چې نورو يوله سلفو بيا ويلي دي چې داد عرش مخې ته ده لكه زين پايه « وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّماواتِ وَالْأَرْضَ كلها. كل قائمة للكرسي طولها مثل السموات السبع والأرضين السبع تحت الكرسي فى الصغر كحلقة بأرض فلاة.(تفسير مقاتل بن سليمان ١جز ٢١٣صفحه « كرسي داسمانونواو زمكو نه پراخه ده او دكرسى دهرې پايې طول داوواسمانونواو اووځمكو په اندازه ده او په وركوټوالي كې داسې ده لكه په يوه دشته كې يوه حلقه« أبو كريب وسلم بن جنادة، قالا حدثنا ابن إدريس، عن مطرف، عن جعفر بن أبي المغيرة، عن سعيد بن جبير، عن ابن عباس:"وسع كرسيه" قال: كرسيه علمه [وقال آخرون:"الكرسي": موضع القدمين.(تفسير الطبري جز٥صفحه٣٩٧ « تفسير الطبري دعباس رضي الله عنه قول رانقل كړى چې فرمايې له كرسي نه دالله علم مراد دى او نور بيا وايي چې دقدمونو ځاى يې دى«

»حدثني المثنى، قال: حدثنا إسحاق، قال: حدثنا أبو زهير، عن جويبر، عن الضحاك قوله:"وسع كرسيه السموات والأرض"، قال: كرسيه الذي يوضع تحت العرش، الذي يجعل الملوك عليه أقدامهم. (تفسير الطبري الجامع البيان جز٥صفحه٣٩٨ )(الدرالمنثورفي التفسير بالمأثور٢جز ١٨ صفحه«

» تفسير الطبري او الدرالمنثوركي دي ضحاك داية الكرسي هكله ليكلي دا هغه كرسي ده چې د عرش (تخت) لاندې كېښودل كيږي چې بادشاهان كله تخت ته خيژي نو په دې قدمونه ږدي

تفسير طبري او درالمنثوركې دي چې دا دقدمونو ځاى دى – حدثنا أحمد بن إسحاق، قال: حدثنا أبو أحمد الزبيري، عن سفيان، عن عمار الدهني، عن مسلم البطين، قال: الكرسي: موضع القدمين (٢) . . . (تفسير الطبري الجامع البيان جز٥صفحه٣٩٨) (الدرالمنثورفي التفسير بالمأثور٢جز ١٨ صفحه

»عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چې دكرسى په هكله له نبي عليه السلام څخه پوښتنه وشوه نبي عليه السلام په ځواب كې وفرمايل : كرسيه موضع قدمېه والعرش لا يقدر قدره الاالله عزوجل، دالله تعالى دكرسى څخه مراد د هغه ددواړه قدمونو ځاى دى او دعرش اندازه له الله تعالى نه پرته بل هيچا ته نده معلومه

»حدثني علي بن مسلم الطوسي، قال: حدثنا عبد الصمد بن عبد الوارث، قال: حدثني أبي، قال: حدثني محمد بن جحادة، عن سلمة بن كهيل، عن عمارة بن عمير، عن أبي موسى، قال: الكرسي: موضع القدمين، وله أطيط كأطيط الرحل (١) .الأطيط: صوت الرحل والنسع الجديد، وصوت الباب، وهو صوت متمدد خشن ليس كالصرير بل أخشن. [تفسير الطبري ج ٥ ص ٣٩٨ برقم ٥٧٩٨ ] له ابي موسى رضي الله عنه نه روايت دى چې فرمايې كرسي يې دقدمونو ځاى دى او داسې اواز لري لكه درحل اوازپه

شان (رحل دکتاب دکېښودو لپاره دلرګي دوه ټوټي يو بل كې كېښودل كيږي او يا داس يا خره دبارورلو لپاره دلرګيو کته جوړوي دهغې داواز په شان يا ددروازي داواز په شان وي عَنْ أَبِي مُوسَى، رَضِيَ اللَّهُ [ص: ٢٩٧] عَنْهُ قَالَ: الْكُرْسِيُّ مَوْضِعُ الْقَدَمَيْنِ وَلَهُ أَطِيطٌ كَأَطِيطِ الرَّحْلِ. قَدْ رُوِّينَا فِي هَذَا أَيْضًا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، وَذَكَرْنَا أَنَّ مَعْنَاهُ فِيمَا نَرَى أَنَّهُ مَوْضُوعٌ مِنَ الْعَرْشِ مَوْضِعَ الْقَدَمَيْنِ مِنَ السَّرِيرِ، وَلَيْسَ فِيهِ إِثْبَاتُ الْمَكَانِ لِلَّهِ سُبْحَانَهُ [ الاسماء والصفات للبيهقي ج ٢ ص ٢٦٩ برقم ٨٥٩ ] ابي موسى رضى الله عنه فرمايى: چې کرسي دقدمونو ځاى دى او يو قسم اواز لري لکه درحل (رايل دکتابونو) او دعباس رضى الله عنه نه هم دا ذکر شوى چى کرسي دعرش يوه برخه يا ځاى دى لکه دتخت يا چپرکټ ته دختلو په وخت کى دقدمونو ځاى او په دي کې دالله جل جلاله دمکان اثبات نشته « عن عبد الله بن خليفة، قال: أتت امرأة النبي صلى الله عليه وسلم، فقالت: ادع الله أن يدخلني الجنة! فعظم الرب تعالى ذكره، ثم قال: إن كرسيه وسع السموات والأرض، وأنه ليقعد عليه فما يفضل منه مقدار أربع أصابع- ثم قال بأصابعه فجمعها - وإن له أطيطا كأطيط الرحل الجديد، إذا ركب، من ثقله" (١) . (تفسير الطبري جامع البيان جزء ٥ صفحه ٤٠٠ برقم ٥٧٩٦ )(العرش للذهبي)(تفسير الحديث ] (تفسيرطبري ليکلي چې نبي عليه السلام ته يوه ښځه راغله ووې ماته دوعا وکړه چې الله پاک ما جنت ته داخله کړي ! درب دعظمت ذکر يې وکړو بيا يې وفرمايل : کرسي يې داسمانونو او زمکو نه پراخه ده او کله چې په هغې کېني نودځلورو ګوتو ځاى هم نه پاته کيږي بيا يې ووې دا ګوتي يې سره جمع کړې او دهغې يو اواز دى لکه دنوي رحل يا کتي چې بار شي ددروندوالي نه» .

»عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ أَنَسٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ: هَذَا الْكُرْسِيُّ، هَكَذَا. فَكَيْفَ الْعَرْشُ؟ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يوم القيامة والسماوات مطويات بيمينه. ( تفسير ابن ابى حاتم جز٢ ٤٩١ «

»ابن ابي حاتم کې دي چې کله وسع کرسيه السموات والارض نازل شو وويل شوه يا رسول الله ﷺ چې دکرسي يې دا حال دى نو عرش به څومره وي ؟ الله پاک دا اياتونه نازل کړه {وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ} [الزُّمَر: ٦٧]اوقدر ونکړو دوى دالله لکه چې حق يې دى دده دقدر- او دازمکه ټوله به دده په موټي کې وي په ورځ دقيامت او اسمانونه به رانغښتى شوي وي دده په ښي لاس کې – دى پاک دى اوډير لوى دى له هغه څه نه چې دوى يې شريک جوړوي «

»عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالُوا: يَا مُوسَى هَلْ يَنَامُ رَبُّكَ؟ قَالَ: اتَّقُوا اللَّهَ. فَنَادَاهُ رَبُّهُ: يَا مُوسَى سَأَلُوكَ هَلْ يَنَامُ رَبُّكَ، فَخُذْ زُجَاجَتَيْنِ بِيَدَيْكَ، فَقُمِ اللَّيْلَ فَفَعَلَ مُوسَى فَلَمَّا ذَهَبَ مِنَ اللَّيْلِ ثُلُثٌ، نَعَسَ، فَوَقَعَ لِرُكْبَتَيْهِ، ثُمَّ انْتَعَشَ، فَضَبَطَهُمَا حَتَّى إِذَا كَانَ آخِرُ اللَّيْلِ، نَعَسَ فَسَقَطَتِ الزُّجَاجَتَانِ فَانْكَسَرَتَا فَقَالَ: يَا مُوسَى: لَوْ كُنْتُ أَنَامُ. لَسَقَطَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ فَهَلَكْنَ كَمَا هَلَكَتِ الزُّجَاجَتَانِ بِيَدَيْكَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آية الكرسي «١» ُ.[ تفسير ابن ابى حاتم ج٢ ص ٤٨٧}

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دى چې بني اسرائيلو موسى عليه السلام ته وويل اى موسى ستا رب اوده کيږي ؟ موسى عليه السلام ورته وويل له الله څخه وويريږي - بيا الله تعالى موسى عليه السلام ته وويل اى موسى بني اسرائيل له تانه پوښتنه کوي چې ايا ستا رب اوده کيږي ؟ پس دوه شيشي په دواړو لاسونو کې ونيسه او دشپي خوب مکوه بلکې ويښ ناست اوسه موسى عليه السلام همداسي وکړل سر يې په زنګنو شو خو بېرته زر رابيدار شو اوشيشي يى ټينګي ونيولې خو دشپي په دريمه برخه کې بوتلونه يې له

لاسه وغورزيدل او مات شول نو الله تعالى موسى عليه السلام ته وويل كه چېرته زه اوده شوم نودځمكې او اسمانونو نظام به لكه څنګه چې ستا دلاسه بوتلونه وغورزيدل او توټه توټه شول نو همداسې به دځمكې او اسمان نظام ګډوډ او هلاک به شي نوددې خبرې په بنا باندې الله تعالى اية الكرسي نازل كړه

إن الكرسي جسم عظيم مخلوق بين يدي العرش، والعرش أعظم منه، وهو موضع القدمين للبارئ عز وجل١.وهذا القول هو مذهب السلف من الصحابة والتابعين ومن سار على نهجهم واقتدى بسنتهم، وهذا هو ما دل عليه القرآن والسنة والإجماع ولغة العرب التي نزل القرآن بها.(كتاب العرش للذهبى ج١ ص ٣٥١ ) [ فيض القديرج ٥ ص ٦٣ برقم ٦٤٥٧ ]

»ذهبي په كتاب العرش كې ليكي چې كرسي يولوي مخلوق دى چې دعرش مخې ته دى او عرش تردې لويې دى او دا (كرسي) دالله عزوجل دقدمونو ځاى دى او دا خبره د سلفو صحابه و او تابعينو او څوک چې ددوى دسنتو پسې اقتداء كوي او په دي دلالت كوي قرأن اوسنت او اجماع او دعربو ژبه چې قرأن پرې نازل شوي

# ملائكي

« عائشه رضي الله عنها فرمايي ملائک دنور نه پيدا شوي او پريان داور له لوګي نه پيدا دي او ادم عليه السلام يې پيدا كړويه هغه ترتيب چې تاسو ته بيان شوى »(صحيح مسلم ج٤ ص ٢٢٩٤ برقم ٢٩٩٦ »

« امام احمد ليكلي : دعبدالله نه روايت دى چې وايي رسول الله ﷺ جبرايل په خپل شكل وليده او شپږسوه وزري يې درلودې چې يو وزر يې افق بندولو او دوزرو پورې يې مرغلري او ياقوت زوړند وه ».[ مسند احمد ج ٦ ص ٢٩٤ برقم ٣٧٤٨ ]

« حديث كې دي چې رسول الله ﷺ جبريل عليه السلام وليدو نو دهغه شپږ سوه وزرې وې او دهرو دوو وزرو تر منځ دمشرق او مغرب هومره فاصله وه

« له ابي هريره رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې ماته دالله جل جلاله له طرفه يوه ملائک دپيغام سره راغله بېايي پښه ځكه كړه او په اول اسمان يې كېښوده او بله يې په زمكه وه او لا اوچته كړې يې نه وه »(المعجم الاوسط ج ٧ ص ٦ برقم ٦٦٨٩، العظمة لابى الشيخ الاصفهاني ج ٢ ص ٧٢٩ )»

« دعبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چې وايي ماله رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چې فرمايي الله پاک سره يوه ملائكه ده كه چيرې ورته وويل شي چې اسمانونه او ځمكې يوه كپله كړه نو دا كار به وكړي چې دهغې تسبيح ده (پاكي ده تا لره څرنګه چې ته يې »« عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ " إِنَّ لِلَّهِ مَلَكًا لَوْ قِيلَ لَهُ التقم السموات وَالْأَرَضِينَ بِلَقْمَةٍ وَاحِدَةٍ لَفَعَلَ.تَسْبِيحُهُ سُبْحَانَكَ حَيْثُ كُنْتَ " وَهَذَا أَيْضًا حَدِيثٌ غَرِيبٌ جِدًّا * وَقَدْ يَكُونُ مَوْقُوفًا * [ الدعاء لطبراني ج ١ ص ٤٩٧ برقم ١٧٤٨ ] [المعجم الاوسط ]

# عـــرش

سوال :ــ عرش چرته او څومره لويې او غټ دى؟

ځواب :ــ [العرش للذهبى جز١صفحه ٣٢٣)]. كې ليكلي چې : فالله سبحانه وتعالى قد مدح نفسه في أكثر من موضع من كتابه الكريم بأنه صاحب العرش العظيم والكريم والمجيد، قال تعالى: {رَبُّ الْعَرْشِ

الْعَظِيمِ} -------على سعة العرش وعظم خلقه، وأما مقدار ذلك الحجم وتلك السعة فلا يعلمها إلا الله تعالى [العرش للذهبي جز ١صفحه ٣٢٣ ][الله پاک په خپل کتاب قرأن کريم کي دخپل ځان صفتونه په زيات ځايونو کي چي خاوند دعرش ، عظيم ،کريم او مجيد دی کړي لکه چي فرمايي:
فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لا إِلَهَ إِلا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ} ، اوبل ځای فرمايي{ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ  نوالله جل جلاله مونږ ته ددې اياتونو په ذريعه دخپل عرش توصيف او لويوالی بيانوي چي هغه په کائناتو او مخلوقاتو کي ډير غټ ، لوی او اوچت دی او بيا فرمايي الرحمن علي العرش استوي چي دخپل صفت يو اوچت نوم يي دعرش سره ذکر کړو او ددې مناسبت دادی چي په يو لوی مخلوق دلوی او پراخه صفت لرونکي رب استوا کيږي ځکه عرش دټولو مخلوقاتو احاطه کونکی مخلوق دی او د الله رحمت هم تر ټولو وسيع او پراخه احاطه کړي لکه چي فرمايي{وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ} [الأعراف ١٥٦]اورحمت زما تر هرشي پراخه دی  او دارنګه دابن مسعود رضي الله عنه  په روايت کې دي چي داووم اسمان او کرسي په منځ کي پنځه سوه کاله مسافه ده او دکرسئ او اوبو تر منځ پنځه سوه کاله مسافه ده چي د الله تعالی عرش ترټولو مخلوقاتو لوی او غټ مخلوق دی او دټولو مخلوقاتو سقف او يا چت دی چي ټول  اسمانونه او ځمکي او څه چي په دي کې دي دعرش لاندې دي او دعرش د ډلبوالی هيڅ اندازه نشي کيدای  لکه چي دابوذر رضي الله عنه  په روايت کې دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل يا ابوذر دا اوه واړه اسمانونه دکرسي مقابل کې داسي دي لکه يوه حلقه دګوتي چي په يوه لويه دشته کې واچوې او دعرش لويوالی دکرسئ مقابل کې داسې دی لکه ددشتې لويوالی په هغه حلقه چې وي اوبل روايت کې دي چې اوه اسمانونه او اوه زمکې او څه چې په دي کې دي دکرسي مقابل کې داسي دي لکه يوه حلقه يا ګوتمه چي په يوه لويه دشته کې واچوې او دعرش لويوالی دکرسي مقابل کې داسې دی لکه ددشتې لويوالي په هغه حلقه چې وي پس دا احاديث په دې دليل دی چي لويي مخلوق عرش دی او اندازه يي په غير دالله نه بل چاته نه ده معلومه  »
»وَذَكَرَ الْحَافِظُ ابْنُ الْحَافِظِ مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي شَيْبَةَ فِي كِتَابِ صِفَةِ الْعَرْشِ عَنْ بَعْضِ السَّلَفِ " أَنَّ الْعَرْشَ مَخْلُوقٌ مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ --------  حَمَلَةُ الْعَرْشِ ثَمَانِيَةٌ أَرْبَعَةٌ مِنْهُمْ يَقُولُونَ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى حِلْمِكَ بَعْدَ علمك ,(البدايه والنهايه لابن کثيراول جز ١٢ صفحه) تفسير ابن کثير – تفسير مظهري – تفسير خازن – تفسير سراج المنير)
. »عثمان بن ابي شيبه په صفت العرش کتاب کې له بعضوسلفونه ليکلي عرش مخلوق دی چې دسرو ياقوتو نه جوړ دی چي دډبلوالی يي  پنځوس زره کاله دی چې دالله پاک دا قول يي ذکر کړی {تَعْرُجُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ} [المعارج: ٤]چي خيژي ملائکي او جبريل ده طرف ته په يوه ورځ کي چي اندازه يي پنځوس زره کاله ده – چي د عرش او اوومي زمکي تر مبنځ مسافه پنځوس زره کاله ده–اوځينو اهل الکلام والا ( غلطي عقيدې والا )  بيا ويلي چي عرش دائروي دی او يو فلک دی او د هر ې خوا نه يي دټول مخلوق نه  احاطه کړې چي نهم اطلس يا فلک ورته وايي چي دا نظر نه دی صحيح ځکه چي په شريعت کي دا ثابته  شوې چي عرش لره قوائم يا ستنې دي چي ملائکو نيولي او فلک لره قوائم يا پايې نشته او همدارنګه  عرش دجنت دپاسه دی او جنت د اسمانونو دپاسه دی او په هغې کې بيا سل درجې دي چې دهرې دوو درجو مابين کې دزمکې او اسمان په اندازه فاصله ده پس لړيوالی هغه چې ددې او کرسي په منځ کې دی

نسبت يي ديو فلک نه بل ته نه دى – او همدارنګه عرش دبادشاهانو دتخت په معنى دى لکه سورة النمل کې الله پاک دبلقيس په هکله فرمايي (وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ) [النمل: ٢٣] دهغې يو لويې تخت دى – نو دا فلک نه دى او قرأن په عربي ژبه نازل شوى چې دعربو په ژبه کښې ته عرش وايي او دهغې پايې وي چې ملائکې يې وړي او په شان دګنبد دى چې دټولو مخلوقاتو چت جوړوي الله پاک فرمايي(الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا) [غافر: ٧] هغه ملائکې چې دعرش بارونکي دي او دهغې ګرد چاپيره دي تسبيح اوپاکي دخپل رب بيانوي او په هغه ايمان لري اوهغو خلکو ته چې مؤمنان دي بخښنه غواړي – او مخکې داوعال په حديث کې تير شول چې اتو ملائکو په خپلو شاګانو عرش ايښى چې الله پاک فرمايي: (وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ) [الحاقة: ١٧

»قال عبد الله بن عباس رضي الله عنهما: "الكرسي موضع القدمين - وقد اتفق سلف الأمة وأئمتها وسائر أهل السنة والجماعة على أن من المخلوقات ما لا يعدم ولا يفنى كالجنة والنار والعرش٣--------- {وَحُمِلَتِ الأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا(العرش للذهبي جز١صفحه ٣٢٣)( مختصر صحيح البخاري ج٣ ص ١٣٩ )) انظر مختصر العلو (ص١٠٢) . قال الهيثمي في مجمع الزوائد (٦/٣٢٣) : (رجاله رجال الصحيح «

»عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې کرسي يې دقدمونو ځاى دى - او د امت مخکښني او نور اهل سنة والجماعة په دې متفق دي **هغه مخلوقات چې نه له منځه ځي او نه فنا لري هغه جنت ،جهنم او عرش دى** له دې وجه عرش په هغې کې نه دى داخل چې قبض کيږي او رانغښتل کيږي او بد ليږي به او دعرش بقاء په کتابونواو سنتو کې شته چې دقيامت په ورځ به دده عرش اتو ملائکو نيولى وي« إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ ---(٣) سورة يونس« بيشکه ستا سو رب هغه الله دى چې اسمانونه اوزمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړل ، بيا قايم شو په عرش باندي .» تفسيرابن کثيرديورتني ايت په تفسير کې ليکلي چې : امام مالک، اوزاعي، ثوري ، ليث ، شافعي، احمد، اسحاق بن راهويه او نورو سلفو او خلفو امامانواو ددې ټولو بزرګانو مذهب دا وه چې څنګه دا ايت دى داسي دې پرېښودلى شي بغير دکيفيت نه، بغير دتشبيه نه ، بغير د مهمل پرېښودو نه ، مشبهينوچې څه په زړه کې راځي الله پاک دهغې نه لرې او پاک دى ، دالله پاک په شان په دې مخلوق کې هيڅوک نشته ، فرمان دى لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ (١١)الشورى » دهغه په شان هيڅ شئ نشته او هغه اوريدونکي او ليدونکي دى » امامانو صاحبانوچې په هغې کې نعيم بن حماد خزاعي دامام بخاري رحمة الله عليه استاد هم شامل دى فرمايي: چې کوم سړئ الله پاک دمخلوق سره تشبيه کړي هغه کافر دى او چې کوم سړئ دالله پاک ددې صفت نه انکار وکړي چې کوم هغه دخپل ځان لپاره بيان کړئ هغه هم کافر دى . خپله الله پاک او رسول الله ﷺ صلي الله عليه وسلم چې کوم ضفتونه دالله پاک بيان کړي په هغې کې هيڅري تشبيه نشته

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير القرطبي کې دسورة اعلى په تفسير کې ليکلي :

» وروى جعفر ابن مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: إِنَّ لله تعالى ملكا يقال له حزقيائيل، لَهُ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ أَلْفَ جَنَاحٍ، مَا بَيْنَ الْجَنَاحِ إِلَى الْجَنَاحِ مَسِيرَةُ خَمْسِمِائَةِ عَامٍ، --------- فَقَالَ الْمَلَكُ: سُبْحَانَ رَبِّي الْأَعْلَى، فَأَنْزَلَ

اللَّهُ تَعَالَى: سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى. فقالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اجْعَلُوهَا فِي سُجُودِكُمْ ---- [ تفسير القرطبي ج ٢٠ ص ١٣ ] روايت دى چې دالله تعالى يوه ملائكه ده چې حزقائيل ورته وايي( ١٨٠٠٠) اته لس زره وزرې يې دي ديو وزر نه تر بل وزر يې پنځه سوه كاله مسافه ده په زړه كي ورته يوه غوښتنه واچول شوه چې كولى شي چې ټول عرش ووينې ؟ نوالله پاك يې ورته وزرې دوه چنده كړې چې شپږ ديرش زره وزرې شوې چې دهر وزر مابين كي پنځه سوه كاله مسافه ده بيا الله پاك ورته وحي وكړه : اي ملائكې والوزه ! هغه شل زره كاله والوته چې دعرش دستني يا پايې سر ته ونه رسيده – بيا الله پاك ورته وزرې او قوت دوه چنده كړ او امر يې ورته وكړو چې والوزه بيا ديرش زره كاله نوره والوته چې بياهم ونه رسيده بيا الله پاك ورته وحي وكړه اي ملائكې! كه تر قيامته والوزې دوزرونو او قوت په زياتولوسره بيا هم زما دعرش پايې سرته هم نه شې رسيدلى – نو ملائكې ووې سبحان ربې الاعلى ( پاك دى رب زما چې ډير لوى او اوچت دى بيا الله پاك دا نازل كړوسبح اسم ربک الاعلى تسبيح وايه په نامه درب ستا – چې نبي ﷺ وفرمايل دا په سجدو كې وايې بل ځاى كې الله پاك فرمايي: فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ سورة التوبه ١٢٩ ايت « كه چيرې دوى بيا هم مخ واړولونو ووايه الله پاك ماله كافي دى او نشته څوک معبود بې له هغه نه او په هغه ما توكل كړى او هغه دلوى عرش مالک دى

ابن كثيرددې ايت په تفسيركي ليكلي چې عرش دټولو مخلوقاتو چت دى اسمان اوزمكه اوټول كائنات درب دعرش لاندې دي اودقرأن كريم دادوه اياتونه اخرني اياتونه دي

مسند امام احمد جلد ٢ صفحه ٤٦٢كې ليكلي چې: عن الشعبى مرسلاً العرش ياقوتة حمراء [ العظمة لابى الشيخ الاصفهاني ج ٢ ص ٥٨١ ] (عرش دسرو ياقوتوڅخه جوړ دى

»وَقِيلَ: إِنَّ أَوَّلَ مَنْ قَالَ] سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى [مِيكَائِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ. ---------- فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ حَمَلَهُ عَلَى جَنَاحِهِ، فَأَوْقَفَهُ بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ تَعَالَى، فَيَقُولُ: يَا رَبِّ شَفِّعْنِي فِيهِ، فَيَقُولُ قَدْ شَفَّعْتُكَ فِيهِ، فَاذْهَبْ بِهِ إِلَى الْجَنَّةِ:(تفسير القرطبي ٢٠ج١٣ص « ( تفسير قرطبي دسبح اسم ربک الاعلى په تفسير كي ليكلي اول چې سبحان ربې الاعلى ويلي هغه مكائيل عليه السلام وو او نبي عليه السلام جبريل عليه السلام ته وفرمايل يا جبريل څوک چې سبحان ربې الاعلي په لمانځه او يا پغير له لمانځه وايي څه ثواب يې دى ؟ هغه وويل يا محمد كه مؤمن او مؤمنه ښځه دا په سجده او يا بغير سجدې ووايي ده له به د ميزان تله دعرش ، كرسي اوددونيا له غرو نه ډيره درنده وي او الله تعالى به وايي زما بنده رښتيا ووې زه دهرشي نه اوچت يم او زما نه پورته يو شئ هم نشته اى ملائكو تاسو ګواه اوسئ ما ده له بخشش وكړواو جنت كې به يې داخل كړم او كله چې مړ شو نو مكائيل به هره ورځ دده زيارت يا ملاقات ته راځي او چې كله دقيامت ورځ شوه نو دى به په خپلو وزرو كې واخلي او دالله ومخې ته به يې اوچت كړي بيا به ووايي اي زما ربه زما شفاعت دده په هكله قبول كړه ! الله پاک به ورته ووايي ستا شفاعت قبول دى او دې جنت ته بوزه

فَالْعَرْشُ الَّذِي هُوَ سَقْفُ الْمَخْلُوقَاتِ إِلَى مَا تَحْتَ الثَّرَى، وَمَا بَيْنَ ذَلِكَ مِنْ جَامِدٍ وَنَاطِقٍ الْجَمِيعُ خَلْقُهُ، وَمِلْكُهُ وَعَبِيدُهُ وَتَحْتَ قهره وقدرته،وتحت تصريفه ومشيئته(خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَافِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى لَى الْعَرْشِ(البدايه والنهايه ج ١ ص ٨

البدايه والنهايه کې ابن كثير رحمه الله ليکلي چې عرش تر تحت الثرى' پورې دټول مخلوق چت دی او ددې په منځ کې که جامد دي که ناطق ټول مخلوق ملائکې ،بنده ګان دده دقهر او قدرت لاندې او دده دتصرف او مشيئت لاندې (پيدا کړي يې دي اسمانونه اوځمکه او په مابين ددې کې په شپږو ورځوکې بيايې استوا وکړه په عرش باندې « .

» ْن عَامِرٍ الْعُقَيْلِيِّ أَنَّهُ قَالَ" يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيْنَ كان (٢) ربنا قبل أن يخلق السموات وَالْأَرْضَ؟ قَالَ: كَانَ فِي عَمَاءٍ مَا فَوْقَهُ هَوَاءٌ وَمَا تَحْتَهُ هَوَاءٌ (٣) ثُمَّ خَلَقَ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ " ورواه عن يزيد بن هرون عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ بِهِ. .( البدايه ونهايه لابن كثير)وَلَفْظُهُ أَيْنَ كَانَ رَبُّنَا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ خَلْقَهُ؟ وَبَاقِيهِ سَوَاءٌ وَأَخْرَجَهُ التِّرْمِذِيُّ عَنْ أَحْمَدَ بْنِ مَنِيعٍ وَابْنِ مَاجَهْ عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي شَيْبَةَ وَمُحَمَّدِ بْنِ الصَّبَّاحِ ثَلَاثَتُهُمْ عَنْ يَزِيدَ بن هرون، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ حَسَنٌ.(البدايه والنهايه ج ١ ص ٩ )

»البدايه والنهايه کې ابن كثير رحمه الله يو روايت رانقل کړی چې له رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې يا رسول الله ﷺ مخکې له دې چې اسمان اوزمکه نه وه پيدا زمونږ رب چرته وو؟هغه وفرمايل په يوه حجاب، نامعلومه فضاء او خاليګاه کې وه چې دپاسه هواء وه او لاندې هم هواء وه بيا يې عرش په اوبو پيدا کړو

»وَاخْتَلَفَ هَؤُلَاءِ فِي أَيِّهَا خَلَقَ أَوَّلًا؟ فَقَالَ قَائِلُونَ خَلَقَ الْقَلَمَ قَبْلَ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ كُلِّهَا، وَهَذَا هُوَ اخْتِيَارُ ابْنِ جَرِيرٍ، وَابْنِ الْجَوْزِيِّ، وَغَيْرِهِمَا قَالَ ابْنُ جَرِيرٍ، وَبَعْدَ الْقَلَمِ السَّحَابَ الرَّقِيقَ.وَاحْتَجُّوا بِالْحَدِيثِ الَّذِي رَوَاهُ الْإِمَامُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.( البدايه ونهايه لابن كثير ج ١ ص ٩ ( او په دې کې اختلاف دی چې اول کوم شئ پيدا شوی ؟ چې ځنې ويونکې وايي قلم اول پيدا شوی چې ابن جرير او ابن جوزي او نور په دي قائل دي او بيا نرمه وريځ پيدا شوه چې دليل همدا حديث دابو داود او امام احمد نيسي«

وَالتِّرْمِذِيُّ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللَّهُ الْقَلَمُ.ثُمَّ قَالَ لَهُ اكْتُبْ، فَجَرَى فِي تِلْكَ السَّاعَةِ بِمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ " لَفْظُ أَحْمَدَ (٤) .وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[ مسند احمد ج ٣٧ ص ٣٧٨ برقم ٢٢٧٠٥ اوترمذي دعباده بن صامت رضي الله عنه نه ليکلي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې اول الله پاک چې پيدا کړه هغه قلم وه بيا يې ورته ووې ولیکه هغه جاري شو په هماغه وخت کې په هغه څه چې کيږي تر قيامته پورې او دادا‌حمد لفظ هم دی »

»وَالَّذِي عَلَيْهِ الْجُمْهُورُ فِيمَا نَقَلَهُ الْحَافِظُ أَبُو الْعَلَاءِ الهمداني وَغَيْرُهُ (أَنَّ الْعَرْشَ مَخْلُوقٌ قَبْلَ ذَلِكَ) وَهَذَا هُوَ الَّذِي رَوَاهُ ابْنُ جَرِيرٍ مِنْ طَرِيقِ الضَّحَّاكِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ كَمَا دَلَّ عَلَى ذَلِكَ الْحَدِيثُ الَّذِي رَوَاهُ مُسْلِمٌ فِي صَحِيحِهِ (٥) . .( البدايه ونهايه لابن كثير ج ١ ص ٩ «او په دې دجمهور و او ابوالعلاء او نورو بيا رايه ده چې اول شئ چې پيدا شوی هغه عرش دی او دليل د ابن عباس قول چې ضحاک رانقل کړی نيسي چې صحيح مسلم هم راخستی »

البدايه والنهايه کې ابن كثير رحمه الله ليکلي چې : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ " كَتَبَ اللَّهُ مَقَادِيرَ الْخَلَائِقِ (٧) قَبْلَ أن يخلق السموات وَالْأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، قَالَ وَعَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ [صحيح مسلم ج٤ ص ٢٠٤٤ برقم ٢٦٥٣]قَالُوا فَهَذَا التَّقْدِيرُ هُوَ كِتَابَتُهُ بِالْقَلَمِ الْمَقَادِيرَ. ----- ( البدايه ونهايه لابن كثير ج ١ ص ٩ ) (١) مسند أحمد ج ٤ / ١١ و ١٢ وفي ------ قال يزيد بن هارون: عماء أي ليس معه شئ.وهو أجود ما ذكره «عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمايي ما درسول الله ﷺ څخه واوريدل چې ويې فرمايل: الله پاک دمخلوق تقدير داسمانونواوزمکي له پيدا کيدو نه پنځوس زره کاله مخکې وليکلو او ويې

فرمایل: چې عرش یې په اوبو وه نو دا تقدیر خو په قلم لیکل شوی نو ددې حدیث نه معلوم شوه چې عرش تر قلم مخکې پیدا شوی «

»وقیل: إنهم الیوم أربعة فإذا كان یوم القیامة أمر الله تعالى بأربعة أخر كما قال تعالى: {ویحمل عرش ربك فوقهم یومئذ ثمانیة} (الحاقة: ۱۷)(تفسیر سراج المنیر سورة غافر)-----------. ویكسي العرش كل یوم سبعین ألف لون من نور لا یستطیع أن ینظر إلیه خلق من خلق الله تعالى كلها، والأشیاء كلها ( تفسیر سراج المنیرسورة غافر ج ۳ ص ۴۶۹ «

»او ویل شوي چې اوس دعرش وړونکي ملائک څلور دي د قیامت په ورځ به یې اته ملائک ونېسي او خازن ویلي دي چې په یو حدیث کې دي چې دهرېوي ملا ئکې مخ بېل دى یعنې دیوي مخ د سړي په شکل دبلې دزمري او دبلې دغوایي او دبلې دشاهین مارغه په شکل او دهرې یوې څلور وزرې دي چې دوه یې عرش ته مخامخ نیولي ددې لپاره چې عرش ته ونه ګوري چې ضعیفه به شي او په دوه نورو په هوا الوزي ددوی خبرې په غیر له تسبیح تحمید او تکبیر نه بل څه نه دي او ددوی دپښو دتلو نه تر پونډیو پورې مسافه لکه دیو اسمان نه بل اسمان ته او ابن عباس رضي الله عنه  فرمایي چې دعرش دوړونکو ملائکو دپښې دپړکیونه ترلاندې تلو دپښو پورې پنځه سوه کاله مسافه ده او روایت کوي چې ددوی قدمونه لاندې په اوومه زمکه  او ټولې زمکې او اسمانونه یې تر بدې پورې رسیږي ( ترنیمایې بدن پورې ) او دوی وایي سبحان ذي العزة والجبروت سبحان ذي الملك والملكوت سبحان الذي الحي لا یموت سبوح قدوس رب الملائكة والروح،او مېسره بن عرفه وایې پښې یې په لاند ینۍ زمکه دي او سرونه یې عرش څیري کړی وي اودوی په عاجزۍ سره ولاړې وي چې پورته نه ګوري او دوی له الله څخه داوم اسمان له اوسیدونکو نه زیات ویرېږي اوداوم اسمان مخلوق دورپسې او داسې یو دبل پسې ډېر ویرېږي او مجاهدویلي چې دملائکو اوعرش تر منځ اویا زره دنور پردې دي او  اویازره دتیارو دي اودجابر رضي الله عنه  روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل  ما ته پرېږدی چې دالله تعالى دیوې عرش وړونکې ملائک هکله مو خبر کړم چې دهغې دغوږونو دنرمیونه تر اوږو پورې اوسوه کاله مسافه ده او دعرش په صفت کې یې وویل چې دا شنه جوهر دي اودا دلوی مخلوقاتو څخه یو مخلوق دی او یو روایت کې دي  چې دعرش ستنې یا پایې دي چې دیوې نه تر بلې که یو مرغه دیرش زره کاله په سرعت سره  والوزې  فاصله ده او عرش هره ورځ اویازره رنګونو درناګانو کې ښکاري چې هغې ته دالله یو مخلوق هم نشي کتلی«عَنْ أبي هُرَيْرَة، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قالَ النَّبِيُّ (۳) صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إنَّ اللَّهَ لَمَّا خَلَقَ الخَلْقَ كَتَبَ كِتَابًا عِنْدَهُ فَوْقَ الْعَرْش، إنَّ رَحْمَتِي تَغْلِبُ غَضَبِي" (٤) صحيح البخاري [ج ٩ ص ١٢٠ برقم (٧٤٠٤)] ورواه مسلم في صحيحه برقم (٢٧٥١) تفسير ابن كثير « ابو هریره رضي الله عنه  وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل کله چې الله پاک مخلوق پیدا کړو نو دعرش دپاسه یې یو لیکنه وکړه چې زما رحمت زما په غضب ډېراو غالب دی

فزیکدانان تر اوسه دنړی په هکله دټولو معلوماتونو په برخه کې دشک او ترد د په فضاء کې ډوب دي اوهر څوک یا هر ملک چې کوم معلومات خپروي نه یې ردوی اونه یې دزړه له کومې منلې شي ځکه قصه ډېره غټه ده او دهر چا له توانه وتلې

تفسیر ابن کثیر کې دي چې امام ابن جریرددې ایت (ومن الارض مثلهن) په تفسیر کې د قتاده رضي الله عنه یو قول راوړۍ دی چې اسمان او زمکې تر منځ دڅلورو پرښتو ملاقات

وشو. خپلو کې یې پوښتنه وکړه چې تاسو دکوم ځای څخه راغلي یې ؟ یوې وویل داووم اسمان نه الله پاک رالیږلي یم او ما الله ﷻ هلته پرېښودو، دویمې وویل چې د اوومې زمکې نه الله ﷻ زه راولیږلم او الله ﷻ هلته وو، دریمې ووې چې زما رب زه دمشرق نه رالیږلي یم چېرته چې هغه وو او څلورمې ووې چې زه الله پاک دمغرب نه رالیږلي یم اودا وخت الله پاک هلته وو (خو داحدیث غریب دی)تفسیر ابن کثیرکې لیکلي : ابو هریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل کله چې الله پاک مخلوق پیدا کړو نو دعرش دپاسه یې یو لیکنه وکړه چې زما رحمت زما په غضب ډیراو غالب دی

# قـــیامـــــت

## صور(شپیلی حدیث ):

تفسیر ابن کثیر د سورة انعام دپورتني ایات په تفسیر کې لیکلي: درسول الله ﷺ ارشاد مبارک دی چې اسرافیل علیه السلام صور(شپیلی )په خپله خوله کې نیولې سر یې ټیټ کړی او دالله دحکم انتظار کوي مسند احمد کې دي چې دیو صحابي دسوال په ځواب کې رسول الله ﷺ وفرمایل صور دښکر په شان ده چې وهلی به شي ـ طبراني په مطولاتو کې دي چې نبي علیه السلام فرمایي چې الله پاک دزمکې اواسمان دپیدا کولو نه پس صور(شپیلی) پیداکړه او دا یې اسرافیل علیه السلام ته ورکړه او هغه نیولې ده او عرش طرف ته یې سترګې نیولې دي چې کله به حکم کیږي او زه به دې له پوکې ورکوم ابو هریره رضي الله عنه فرمایي ما دنبي علیه السلام نه پوښتنه وکړه چې صور څه شئ دی ؟ دوی وفرمایل یو ښکر دی ما وې هغه څنګه دی ؟ دوی وفرمایل ډیر لویې دی والله دهغه ددائرې پلنوالئ دزمکې او اسمان برابردی او په دې کې به درې ځلې پوکې وهل کیږي لمړنئ دویرولو دوهم د بیهوشی او دریم رب العالمین ته دمخامخ ودریدو اول اول چې الله پاک اسرافیل علیه السلام ته دشپیلی وهلو ووایي نو هغه به یې ووهي چې دهغې سره به دځمکې اسمان ټول خلق وویریږي خو چې څوک الله پاک ساتي دا شپیلی به تر ډیر وخته پورې دالله پاک په حکم وهلې شي غرونه به ددې داواز له وجه دوریځو په شان ګرځیدل شروع کړي بیا به شګې شګې شي په زمکه به زلزله راشي او داسې به جرقیږي لکه یوه کشتئ چې ددریاب په منځ کې دزبردست طوفان موجونه یو خوا بل خوا کوي او غوپې خوري یومَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ (٦) تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ (٧) قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ (٨) أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ (٩)[سورة نازعات] « په هغه ورځ چې وبه خوزیږي خوزیدونکې ،رابه شي دې پسې بل وروسته راتلونکی (دوهمه شپیلی به ووهل شي ) ، زړونه به په دغه ورځ درزیږي ، سترګې به ددوی ټیټې وي »

پورته ایت کې د قیامت دورځې سختې بیان شوې په دې ورځ به مېندې خپل پی خورونکي بچي هیر کړي – حامله ښځې به خپل حمل وغورځوي بچي به بوډاګان شي شیطان به دویرې او پریشانی نه تښتې دزمکې ډډو ته به راشي دلته نه به یې پرښتې په وهلو وهلو لیرې کوي خلک به پریشانه په بد حال وي دپناه ځای به نه وي یو بل له به اوازونه ورکوي

خو ټول به په خپل خپل مصيبت کې راګيروي چې ناګهانه به زمکه شليدل شروع کړي چې کله به يو ځای شليږي او کله بل ځای اوس به حالت ډير خراب شي زړونه به درزيږي او له ډيرې ويرې به سرچپه شي دومره صدمه او غم به وي چې دهغې اندازه به نه شي کيدای او چې اسمان طرف ته وګورې نوهغه هم ويلي کيږي او شليږي به ستوري به پرېوځي لمراوسپوږمی به بې نوره شي .ابوهريره رضي الله عنه سوال وکړو چې يا رسول الله ﷺ دقرآن په ايت کې چې فرمايي : {فَفَزِعَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الأَرْضِ إِلا مَنْ شَاءَ اللَّهُ} [النَّمْل: ٨٧]يعنې دزمکي او اسمان ټول خلق به ويريږي خو چې څوک الله پاک غواړي . ددې نه څوک مراد دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل شهيدان چې هغوی دالله پاک سره ژوندي دي او روزي ورکول کيږي او دوی به الله پاک له پريشانی نه بچ کړي . په دې ورځ به دومره ويره اوهيبت وي چې خلق به لکه نشه چې وي وماهم بسکري ولکن عذاب الله شديد (دوی به نشه نه وي خو د الله عذاب به ډير سخت وي ) دويرې دا حالت به تر ډيرې دوام کوي چې بيابه الله پاک اسرافيل عليه السلام ته دبيهوشی شپيلی وهلو حکم ورکړي دي پوکولو سره به ټول خلک بيهوشه شي خوچې څوک الله پاک ساتي لکه شهيدان او بيابه ټول ناګهانه مړه شي ملک الموت به الله پاک ته حاضر شي عرض به وکړي چې ای الله دځمکي او اسمان ټول خلق مړه شول !!!!!! خو چې تا څوک بچ کول بيا به سره دعلمه سوال ترې وکړي چې اوواېه اوس څوک څوک باقي پاته دي ؟ هغوی به ځواب ورکړي چې ته باقي يې ته حي او قيوم يې تالہ پناه نشته . دعرش پرښتې ، جبرائيل او مکائيل پاته دي په دې وخت کې به عرش له ژبه ورکړي او وبه وايې چې اې الله جبرائيل او مکائيل هم مري؟ الله پاک به وفرمايي ماد خپل عرش نه لاندې په ټولو مرګ ليکلی دی نو دوی دواړه به هم وفات شي !!!! بيابه ملک الموت الله پاک ته راشي عرض به وکړي چې جبرائيل او مکائيل هم وفات شوه الله پاک به سره له علمه بيا پوښتنه ترې وکړي چې اوس څوک باقي دي ؟ هغه به ځواب ورکړي بس ته باقي يې چې فناه نه لري او ستا دعرش اوچتونکي پرښتي الله پاک به حکم وکړي دعرش پرښتي به هم مري شي په دې وخت کې به داسرافيل عليه السلام نه شپيلی عرش واخلي ملک الموت به حاضر شي عرض به وکړي چې اې الله دعرش ملائک هم مړې شوې بيابه الله تعالی پوښتنه وکړي په داسې حال کې چې هغه ته ښه معلومات شته چې اوس څوک پاته دي ؟ ملک الموت به ځواب ورکړي چې يو ته چې تالہ مرګ نشته او يو ستا غلام (يعنې زه)– الله تبارک وتعالی به وفرمايي ته هم زما دمخلوق نه يو مخلوق يې او ته ما ديو کار لپاره پيدا کړی وې هغه تا وکړو اوس ته هم مړ شه هغه به هم مړ شي !! اوس به الله پاک يواځې پاته شي چې غلبې والايواځي بې موره بې پلاره او بې اولاده دی لکه څنګه چې دمخلوق دپيدا کولو نه اول يوازې وه – بيا به زمکه اسمانونه داسې راغوند کړي لکه دفترې کاغذونه چې راغونډولی شي بيابه دا درې ځلي تاو راتاو کړي او فرمايي به : زه جبار يم – زه لويی والا يم بيا به درې ځلي وفرمايي لمن الملک اليوم نن ورځ بادشاهي دچا ده ؟ هيڅوک به نه وي چې ځواب ورکړي نو بيابه خپله ځواب وکړي الله واحد او قهار- قرآن کې دي چې په دې ورځ به زمکه او اسمان بدل کړی شي الله پاک به دا خواره کړي او رابه يې کاږي څنګه چې څرمن راښکلی شي هيڅ رنګه ښکته والی او بره والی به پاته نه

شي بیا به ټول مخلوق دې بدلې شوې زمکې ته راشي بیا به دخپل عرش نه لاندې باران
ووروي څلویښت ورځې به باران وریږي تردې چې اوبه به دولس لاسه پورته ودریږي بیا
به جسمونو ته حکم وشي چې هغوی راوخیژیږي نو هغوی به لکه دسبزیو په شان
راوټوکیږي او پوره پوره جسمونه به شي لکه څنګه چې مخکې وه بیا به حکم وشي چې
زما دعرش اوچتونکې پرښتې دې ژوندۍ شي نو هغوی به ژوندۍ شي بیابه اسرافیل علیه
السلام ته حکم وشي چې شپیلۍ واخلي او خولې ته دې ونیسي بیابه فرمان وشي چې
جبرائیل او میکائیل دې ژوندي شي دوی دواړه به ژوندي شي بیابه الله پاک روحونه را
وغواړي دمؤمنانو نوراني او دکافرانو ظلا تي یاتور روحونه به راشي دا به الله پاک واخلي
او په صور یا شپیلۍ کې به یې واچوي بیابه اسرافیل ته حکم وشي چې شپیلۍ پوک کړه
نو دبعث ( اوچتیدو ) شپیلۍ به اوهلی شي چې دهغې نه به روحونه داسې راووځي لکه
دشاتو مچۍ – ټوله خلا به دهغوی نه ډکه شي بیا به رب العالمین وفرمایي زما دې پخپل
عزت او جلال قسم وي هر روح دې خپل خپل جسد ته لاړ شي چې ټول روحونه به خپل
خپل بدنونو ته دسپوږمو له لارې ننوځي لکه زهر چې څنګه په بدن اثر کوي دغسې به
روح ددوی رګ رګ ته ورسي بیا به زمکه وشلولې شي او خلق به دقبرونو نه راووځي
او دټولو نه مخکې به په مازمکه وشلیږي او خلک به په منډه رب العالمین له ځي دغه
وخت به کافران وایې نن ورځ ډیره سخته ده ټول به ناسنت او بربنډ اویا « ۷۰ » کاله په
یو میدان ولاړ وي نه به دوی طرف ته نظر کیږي او نه به ددوی فیصله کیږي خلک به په
ژړا او فریاد اخته وي تردې چې اوښکې به یې ختمې شي او وینه راوتل به شروع شي
دبدن خوله به دومره ډیره راووزي چې تر څنو پورې به ورسیږي – خپلو کې به وایې
راځي چې چاته ووایو چې زمونږ شفاعت وکړي زمونږ پروردیګارته عرض وکړي چې
هغه راشي او زمونږ فیصله وکړي نو وایې به چې ددې لایق زمونږد پلار ادم علیه السلام
نه څوک غوره دی ؟ څوک چې الله پاک په خپل لاس پیدا کړی دی خپل روح یې پکې اچولی
نو ټول به یو ځای لاړ شي ده له به ورشي او سفارش به ترې وغواړي خو ادم علیه السلام
به صفا انکار وکړي او وبه فرمایي چې په ما کې دومره قابلیت چرته دی بیا به دوی یو
یو نبي ته لاړ شي او ټول به انکار وکړي نبي علیه السلام فرمایي بیابه ټول ماله راشي زه
به دعرش مخې ته لاړ شم او په سجده به پریوځم الله پاک به ماله فرښته راولیږي هغه به
زما مټ ونیسي او مابه له سجدې نه راوچت کړي – الله پاک به وفرمایي ای محمده ﷺ
زه به ځواب ورکړم چې اي زما ربه –با وجود دعلمه به زمانه پوښتنه وکړي څه خبره ده؟
زه به ووایم یا الله تا ما سره دشفاعت کولو وعده کړې وه دخپل مخلوق په حقله زما
شفاعت قبول کړه او ددوی فیصلې وکړه رب العالمین به وفرمایي ماستا سفارش قبول کړو
زه دادی راځم او ددوی فیصلې کوم زه به واپس خلکو له راشم چې ناګهانه به داسمانونو
نه یو زورور درز واوریدل شي چې هغې سره به خلق وویریږي په دې کې به داسمان نه
ملائک راکوزیدل شروع شي چې دهغوی شمیر به دټولو انسانانوپریانو برابر وي کله چې
هغوی زمکې ته راورسیږي نو ددوی په نور سره به زمکه وفرقیږي هغوی به صفونه
جوړ کړي مونږ ټول به ترې پوښتنه کووچې ایا ستاسو رب راغلی دی ؟ هغوی به ځواب
راکړي چې نه بیابه ددغې شمیر نه زیاتې نورې راشي اخر زمونږ رب به دوریځو په

سیوري کې نزول وکړي او فرښتي به ورسره وي دده عرش به اته پرښتو اوچت کړی وي چې دا وخت دعرش پورته کونکي پرښتي څلور دي – ددوی قدمونه داخري ښکته زمکې ببخ کې دي زمکه او اسمان ددوی دنیم جسم په مقابله کې دی ددوی په اوږو عرش الهي دی ددوی ژبې هروخت دالله پاک په تسبیح لګیا وي چې ددوی تسبیح داده : سُبْحَانَ ذِي الْعَرْشِ وَالْجَبَرُوتِ، سُبْحَانَ ذِي الْمُلْكِ وَالْمَلَكُوتِ، سُبْحَانَ الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ، سُبْحَانَ الَّذِي يُمِيتُ الْخَلَائِقَ وَلَا يَمُوتُ، سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ قُدُّوسٌ قُدُّوسٌ، سُبْحَانَ رَبِّنَا الْأَعْلَى، رَبِّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ، سُبْحَانَ رَبِّنَا الْأَعْلَى، الَّذِي يُمِيتُ الْخَلَائِقَ وَلَا يَمُوتُ، [ البعث والنشور للبيهقي ج ١ ص ٣٣٦ برقم ٦٠٩ ]بیا چې الله پاک کوم ځای غواړي هلته به کرسي کیږدي او په اوچت اواز به وفرمایي اې پرېانو انسانانو ما چې تاسو په کومه ورځ پیدا کړې وی دهغې ورځې نه تر ننه زه خاموش ووم ستاسو خبرې مې اوریدي ستاسو عملونه مې کتل واوری ستاسو عملنامې به زما مخکې لوستې شي څوک چې په دې کې نیکې ومومي هغوی دې حمد وکړي او څوک چې بل څه پکې وموميي نو هغوی دي خپل ځان ملامته کړي بیابه دجهنم نه یو څټ راښکاره شي چې ګوري به – الله پاک به وفرمایي اې د ادم اولاده ما تاسو نه وعده نه وه اخستې چې دشیطان عبادت مه کوی هغه ستاسو ښکاره دوشمن دی ؟ او صرف زما عبادت کوی دا نیغه لاره ده شیطان خو ډیر مخلوق ګمراه کړی دی ولې تاسو عقل نه درلوده دادی هغه جهنم چې تاسو سره یې وعده شوي وه او چې کوم تاسو دروغ ګڼلو ای ګنهګارانو تاسو دنیکانو بنده ګانو څخه جدا شی ددې فرمان سره به بد خلق دنیکانو نه بېل شي – ټول امتونه به په ګونډو پرېو ځي لکه چې قران کریم کې دي چې ته به هر امت په ګونډو پرېوتي ووینې او بیا به هر امت خپلو عملنامو ته راوغوښتی شي بیا به الله پاک دمخلوق فیصلې کوي ړومبی به دځناورو فیصلې کیږي تردې چې بې ښکرو بیزې یا اوزې له به دښکروري اوزې نه بدل واخستل شي چې کله دچا په چا باندې څه پاته نشي نو بیا به الله پاک وفرمایي تاسو ټول خاورې شی ددې حکم سره به ټول ځناور خاورې شي دغه وخت به کافران ارمان کوي چې کاش مونږ هم خاورې شوي وای بیا به الله پاک دبنده ګانو فیصلې شروع کړي دټولو نه اول به دقتل فیصله کیږي الله پاک به په خپله لاره کې شهیدان شوي هم راوبلي ددوی په لاس قتل شوو خلکو به خپل سرونه په لاسونوکې نیولي وي حاضر به شي دړګونو نه به یې وینه بهیږي وایي به اې الله ددوی نه پوښتنه وکړه چې ده زه ولې قتل کړی ووم؟ نو باوجود دعلم نه به الله پاک پوښتنه وکړي چې تا دی ولې قتل کړی وو؟ لِمَ قَتَلْتَهُمْ؟ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ، قَتَلْتُهُمْ لِتَكُونَ الْعِزَّةُ لَكَ وَلِي.هغه به ځواب ورکړي چې ستا خبره اوچته وه او ستا عزت وه – الله پاک به وفرمایي تاسو رښتیا وایې نو هغه وخت به ددوی مخ نوراني شي لکه دلمر په شان به پرقیږي او پرښتې به دوی په خپل ټولي کې واخلي او جنت ته به یې روان کړي او ټول قاتلان او مقتولان به داسې پیش کړی شي او چې کوم نفس ظلم کړی وي دهغې بدله به دقاتل نه واخستی شي دغه شان به هرمظلوم له د ظالم نه بدله واخستل شي – تردې چې یو سړی چې په پیو کې یې اوبه ګډولې هغه ته به وفرمایلی شي چې دخپلو پیو نه اوبه جدا کړه – ددې فیصلو نه پس به یو اواز کونکې اواز وکړي چې ټول به یې واوري هر عابد به دخپل معبود پسې شي او دالله نه سوا چې چا دچا عبادت کړی وي هغوی به جهنم ته روان کړی شي واوری که دا رښتیا معبودان وي نو جهنم ته به نه داخلیدل دوی ټول به جهنم کې تل اوسي اوس به صرف ایماندار خلک پاته شي په دوی کې

به منافقان هم وي الله پاک به دوی ته چې په کوم شکل کې غواړي رابه شي او دوی ته به وفرمایې چې ټول دخپلو معبودانو پسې لاړل تاسو هم چې دچا عبادت کولو هغه له لاړشئ دوی به ځواب ورکړي چې والله زمونږ خو ځوک معبود نشته پغیر دالله نه مونږ دبل چا عبادت نه دی کړی اوس به ددوی لپاره پندۍ پرانستې شي او الله پاک به دخپل عظمت تجلی په دوی وغورځوي – چې دهغې نه به دوی الله پاک وپیژني او ټول به په سجده پرېوځي خو منافقان به سجده ونکړي دوی به اولټه او پرمخې کړی شي او په خپلو شاګانو به پرېوځي ددوی ملا به نیغه کړی شي تاویدی به نه شي بیا به الله پاک مؤمنانو ته دسجدې نه داوچتیدو ووایې او په جهنم به پل صراط کېښودی شي چې دتوري په شان به تیره وي او ځای په ځای به ازغي او کونډې ورباندې وي ډیر خویدونکې او خطر ناک به وي ایماندار خو به په دې باندې په دومره وخت کې تیر شي لکه دسترګو رپ یا لکه څنګه چې برق تیر شي او یا لکه چې تیزه هوا تیریږي یا لکه دښه تیز اس یا اوښ یا تیز منډه وهونکې انسان په څیر ځیني به صحیح او سالم تیر شي ځیني به زخمي شي او پورې به وځي ځیني به پرېوځي او جهنم ته به لاړ شي – جنتیان چې جنت ته نژدې ورسیږي نو وایې به چې څوک به زمونږ سفارش وکړي چې مونږ جنت ته داخل شو ؟ نور خلک به ځواب ورکړي ددې حقدار ستاسو پلار ادم علیه السلام نه زیات څوک کېدي شي ؟ چې هغه رب پخپلو لاسونو جوړ کړی او خپل روح یې پکې اچولې او مخامخ یې ورسره خبرې کړې نو ټول خلک به هغه ته لاړ شي او دده نه به سفارش وغواړي خو هغه به خپله ګناه رایاده کړي چې زه ددې لایق نه یم تاسو نوح علیه السلام ته لاړ شئ هغه دالله تعالی ړومبی رسول دی خلک به نوح علیه السلام ته لاړ شي او دسفارش خواست به وکړي خو هغه به هم خپله ګناه رایاده کړي او وایې به چې تاسو ابراهیم علیه السلام ته لاړ شی هغه دالله خلیل دی نو خلک به هغه له ورشي هغه به خپله ګناه راياد کړي او وبه واي تاسو موسی علیه السلام ته ور شئ چې الله پاک ورسره خبرې کړې خلک به هغه له ورشي هغه به خپله ګناه راياد کړي او وایې به چې تاسو روح الله او کلمة الله عیسی علیه السلام له ورشئ خو عیسی علیه السلام به ووایې زه ددې قابل نه یم تاسو محمد ﷺ له ورشئ رسول الله ﷺ فرمایي ټول خلک به ماله راشي زه به دالله پاک په وړاندې درې شفاعتونه کوم زه به لاړشم دجنت ددروازې کنډه به ونښسم او خوځوم به یې نو ماته به مرحبا او هرکلی وویلی شي زه به جنت ته ورشم او خپل رب ته به سجده وکړم او دهغه حمد اوثنا به شروع کړم چې هغه به چانه وي کړي بیا به الله پاک وفرمایي ای محمده ﷺ خپل سر اوچت کړه غواړه چې څه غواړې قبلولی به شي زه به سر اوچت کړم – الله پاک خو دزړونو درازونو نه خبر دی خو بیابه هم پوښتنه کوي چې څه ویل غواړې ؟ زه به ووایم چې ای الله تا ماسره زما دامت دشفاعت دقبلولو وعده کړې وه نو الله پاک به زما شفاعت دجنتیانو په هکله قبول کړي او دوی به جنت ته داخل کړي – والله څنګه چې تاسو دخپلو کورونو او خپل بال بچ نه اګاه یې ددې نه زیات به دا جنتیان د خپل ځای او خپلو بیبیانو نه خبر وي هرېو به خپل خپل ځای ته ورسي – اویا اویا حوري او دوه دوه ښځې به ورکول کیږي دادواړه ښځې به دخپلو کړو نیکېو په سبب دډیرو ښو مخونو مالکانې وي جنتي به په دوی کې هرې یوې له ورځي چې دیاقوتو په بالا خانو کې دسروزرو دجوړ شوي تخت او اویا

وريښمېن لباسونو کې ناستې وي ددوی دېنډۍ نلۍ به دغوښې او پوستکې با وجود په نظر راځي ددې زړه به دآيني په شان وي او ديو بل نه به مړيږي نه – کله چې خواله ورځي نو پيغله به وي نه به ستړې کيږي او نه به ورته تکليف وي او نه به څه مکروه څيز وي – دوی به په خپله مشغولتيا کې مزې کوي او الله خبر دی چې څومره موده به دې کې تيره شي چې يو اواز به راشي چې ومو منله نه ستاسو زړه ددوی نه مړيږي نه ددې زړه ستا نه مړيږي خو الله پاک ستاسو لپاره نورې ښېښانې ساتلي دي – اوس به دوی نورو له ورځي چې هغوی له دورتلو سره ددوی دخولې بې اختياره وځي چې په الله قسم په ټول جنت کې ستاسو نه ښکلي څه نشته زما خو دجنت دټولو څيزونو نه تاسره ډيره مينه ده – او کوم خلک چې دخپلو بدو عملونو له وجه جهنم ته تللي وي هغوی به دخپل عمل سره سم داور عذاب خوري ځينې به تر قدمونو پورې ځينې به تر پنډۍ پورې ځينې تر ګيټو پورې ځينې تر نيم بدن پورې ځينې تر څټه پورې صرف مخ به يې بچ وي ځکه چې دصورت ورانول الله پاک په اور حرام کړي دي رسول الله ﷺ به دخپلو ګنهګارو امتيانو شفاعت کوي الله پاک به فرمايې چې کوم پيژنئ هغه اوباسه ښا به داخلک دجهنم نه ازاد کړی شي تردې چې هيڅوک به پاته نشي نو ښا به دعام شفاعت اجازت ورکړی شي ټول نبيان او شهيدان به شفاعت کوي دالله پاک ارشاد به وشي چې دچا په زړه کې ديو دينار برابر ايمان وي هغه وباسی- نو دا خلک به ازاد شي او په دوی کې به څوک پاته نشي ښا به وفرمايې چې هغه هم راوباسۍ چې دديېنار دريمه حصه ايمان پکې وي ښا به وفرمايې دديېنار څلورمه حصه ايمان پکې وي هغه هم وباسۍ ښا به حکم وشي چې دچا په زړه کې داوري ددانې په مقدار ايمان وي نو هغوی هم ترې بهرکړی نو ټول به راووځي او يو به هم پاته نشي بلکې په جهنم کې به يو سړی هم داسې پاته نشي چې هغه يوه نيکې په اخلاص سره دالله دپاره کړي وي – ټول سفارشيان به سفارش کوي تردې چې دابلېس به هم امېد پيدا شي هغه به هم څټ اوچت کوي او ګوري به چې زما به څوک شفاعت وکړي ځکه چې هغه به دالله پاک درحمت دا جوش ووينې ددې نه پس به الله پاک وفرمايې چې اوس خو صرف زه باقي پاته شوم او زه خو دټولو نه زيات رحم کونکې يم نو په خپل لاس به دجهنم نه خلک راوباسي چې دهغې دشمېر علم صرف هغه ته معلوم دی دوی به دسوځيدلې کوئلې( زغال سنګ) په شان شوي وي دوی به نهر حيوان کې واچوي چې هلته به داسې راوخيژيږي لکه چې دانه ددرياب په غاړه کرلی شوي وي او را وخيژي او دلمر دلګيدو له وجه لمر واله طرف يې شين وي او سيوري واله طرف يې زيړ وي ددوی په څټونو ليکلي شوي وي چې دا درحمان ازاد کړی شوي دي ددې ليکنې نه به دوی نور جنتيان پيژني تر يوې مودې پورې خو به داسې وي ښا به دالله نه دعا وغواړي چې يا الله دا ليکل وران کړې نو الله پاک به داليکل وران کړي ( ابن کثير رحمه الله دي حديث په هکله ليکلي چې دا نور هم شته خو غريب حديث دی ځينې محدثينو ثقه ښودلی او بعضو ښا ددې ځينې لفظونه منکر ښودلي دي او بعضو ضعيف ښودلی او وايې چې ما دخپل استاذ حافظ ابو الحجاج مزي نه اوريدلي دي چې دوی امام ولېد بن مسلم سره يو کتاب ليدلئ وه چې په هغې کې ددې خبرو چې په دي حديث کې بيان شوي دي شواهد بيان شوي وه والله اعلم)

# اَللهُ جَلّ جَلالُهُ

شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لا إِلهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلائِكَةُ وَأُولُوا الْعِلْمِ قائِماً بِالْقِسْطِ لا إِلهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (العمران ۱۸)الله ګواهي ورکوي ددی خبرې چې نشته دی لایق دعبادت او بنده ګي پغیر دهمدې الله نه ( او ګواهي ورکوي ددې خبرې ملائکې او خاوندان دعلم چې په انصاف سره قایم دي چې نشته دی لایق دعبادت او بنده ګي مګر همدا الله دی چې زرور او دحکمت خاوند دی.

پورتني ایت په رڼا کې ددې ټولو کائناتو پیدا کونکی چلونکی او ساتونکی دایو زرور او دحکمت والا ذات دی او په دی خبره پخپله الله تعالی ګواه دی ملائکې ګواه دي او علماء کرام ګواه دي

نوزما ددې کتاب دټول متن دلیکلو اصلي غایه اوهدف داالله پاک پیژندګلوي او معرفت دی چې دمقدمې نه تردې عنوان پورې ټول دالله پاک د لویې او عظمت دپیژندلو صفات بیان شوي تر څو خپل رب وپیژنو او دهغه بنده ګي په صحیح معنا اوترتیب دا رنګې وکړو چې روح پکې وي، عاجزي او ویره پکې وي لکه څنګه چې اوس مونږ ته معلومه شوه چې دالله جل جلاله مخلوق دومره لوی دی نو په خپله به دده ذات مبارک څومره لوی او عظیم وي او په دې هم پوه شو چې ټول کائنات د تحت الثری نه تر عرش معلی پورې دالله پاک منونکې دي انسانان هم دهغوی له جملې څخه دي کله چې ټول انسانان په عالم ارواح کې دادم علیه السلام د شانه دسرو مږیانو په شکل کې پیدا کړی شول بیایې ورته وفرمایل {وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى} [الْأَعْرَافِ: ۱۷۲] « اوپه خپلو ځانونویې ګواه وګرځول او ورته یې وویل چې زه ستاسورب نه یم؟ هغوی ټولو اقرار وکړو چې أو» كَمَا رَوَى فِي الْحَدِيثِ الْقُدْسِيِّ: (كُنْتُ كَنْزًا مَخْفِيًا فَأَحْبَبْتُ أَنْ أُعَرَّفَ فَخَلَقْتُ الْخَلْقَ لِأُعَرَّفَ) (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)» مرقاط فی شرح مشکات باب الایمان والقدر ج۱ ص ۱۵۴ »« حدیث قدسي دی چې الله پاک فرمایي زه پټه خزانه ووم بیا مې وغوښتل چې ښکاره شم نو مخلوق مې پیدا کړو دې لپاره چې ما وپیژني »








نوواپو چې ټول دالوهیت اوخدایي صفتونه خاص هغه ذات لره دي چې اول او اخر دی ، باطن او ظاهر دی او په هر شئ عالم دی ـــ هغه اول دی له ده بل څه مخکې نه وه ، اخر دی له ده نه وروسته څه شئ نشته ، ظاهر دی له ده پاس څه نشته ، باطن دی له ده نه نور هیڅ شئ نشته ،ازلي او قدیم دی له ده مخکې هیڅ شئ نه وه موجود ، همیشه او دایم به وي باقي به وي په غیر له وخت پوره کیدواو نه به پکې جدا والی دوخت راځي اونه زوال

، دزمکې په تل کې دتور میږي په توره تیګه دشپې په توره تیاره کې دپښو په کشار پوهیږي ، دشکواوتیږو په شمار خبر دی ، هغه ډیر اوچت او لوی دی ، دهر شئ پیدا کونکی او اندازه کونکی دی ، اسمان یې پغیر له ستنو ودرولی او په ستورو یې ښایسته کړی او ځلانده لمر او رڼا لرونکې سپوږمۍ یې پکې پیدا کړې او دهغې دپاسه یې اعلی درجه بستره چې عرش عظیم دی غوړولې چې دهغې ډیرې لوی ستنې دي چې عزتمندو ملا ئکونیولي چې دهغه پاکي او لوی بیانوي ، اسمانونه یې له ملائکو ډک دي چې په څلورم اسمان کې له بیت المعمور نه هره ورځ ۷۰۰۰۰ اویا زره ملائکې طواف کوي اوبیاورته ددوهم ځل طواف نوبت نه رسیږي او تولې په لمانځه ،سلام، تکبیر، تحلیل او تحمید ویلو لګیا دي ـــ زمکه یې داوبوپه منځ کې دخوب لپاره غوړولې او دپاسه یې پرې غرونه ایښې اوبرکت یې پکې اچولی او وختونه یې پکې تعین کړه په څلورو ورځو کې مخکې داسمان له پیدا کیدو نه اودخپلو بنده ګانو دحاجتونو دپوره کولو په خاطر یې دهرشي دوه دوه جوړې پکې پیدا کړې ،او بیا انسان یې له ختو نه جوړ کړو اونسل یې له سپکو اوبو څخه په یو محفوظ ځای کې جاري کړو او بیا یې سترګې او غوږونه ورکړل پداسې حال کې چې دده هیڅ نوم او نشان نه وه او بیایې دا انسان په علم او تعلیم مشرف کړو ، ادم ( دبشر پلار ) یې په خپلو لاسونو جوړ کړو او بیا یې روح پکې واچولو او تولو ملائکو ورته سجده وکړه او بیا یې له ده ښځه بي بي حواء ( دبشر مور ) پیدا کړه او بیا یې ددوي منځ کې محبت واچولو او دواړه په جنت کې اوسیدل خپل نعمتونه یې پریمانه ورکول بیا یې زمکې ته را کوز کړل چې په دی کې دده حکمت دی اوبیا یې له دوي نارینه او جنکۍ ډیرې پیدا کړې او بیا یې تقسیم کړل څوک بادشاهان ،څوک رعیت ، څوک غنیان څوک فقیران ، څوک ازاد او څوک غلامان شول او په تولې زمکه کې یې خواره کړل ، باران ،اوبه، چینې ، کوهیان او نهرونه یې ورته مسخر کړل او هر څه یې ورته راشنه کړل ( البدایه والنهایه ج۱ ص۵ )

تفسیر ابن کثیر دقل هوالله احد په تفسیر کې لیکلي چې مسند امام احمد کې دي چې مشرکانو رسول الله ﷺ ته ووې چې دخپل رب صفتونه بیان کړه نو په هغې کې دا سورت نازل شو :قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (١) اللَّهُ الصَّمَدُ (٢) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (٣) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (٤) « وایه هغه الله یو دی ،الله بې نیازه دی، نه یې اولاد زیږولی دی او نه دی زیږولی شوی دی ، او نشته دده برابر څوک «

بخاري حدیث دی چې نبي علیه السلام خپلو صحابه وو ته وفرمایل چې تاسو نه دانشي کیدای چې په یوه شپه کې دریمه حصه قرآن ووایې صحابه کرامو ته دا ډیره سخته ښکاره شوه او ویې ویل چې اي دالله رسوله ﷺ دومره طاقت په چا کې شته نو رسول الله ﷺ وفرمایل (قل هوالله) ددریمي برخې برابر دی

په نسائي شریف کې د سورة اخلاص په تفسیر کې دي چې رسول الله ﷺ جومات ته تشریف راوړو نو ویې کتل چې یو سړئ لمونځ کوي او دوعا غواړي او خپله دوعا کې وایې

(عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ الأَسْلَمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَدْعُو وَهُوَ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الأَحَدُ الصَّمَدُ، الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ» ، قَالَ: [ص:٥١٦] فَقَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ سَأَلَ اللَّهَ بِاسْمِهِ الأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ، وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى» [ سنن الترمذي ج ٥ ص ٥١٥ برقم ٣٤٧٥ ] [ النسائی]

»نبي عليه السلام له يوه سړي څخه واوريده چې دعا يي کوله او ويل يې : اى الله زه تانه سوال کوم او ددې خبرې ګواهي ورکوم چې ستا نه پغير بل معبود نشته ته يواځي او بې نيازه يې ، نه دې اولاد شته او نه دي مور او پلار شته او نه دې دبرابرۍ او سيالۍ څوک شته – رسول الله ﷺ چې داواوريدل نو ويې فرمايل په الله قسم چې دهغه په لاس کې زما ساه ده ده په اسم اعظم سره دوعا وغوښتله اودالله پاک ددې لويې نوم سره چې دهغه نه څه هم وغوښتى شي نو ورکوي يې اوکله چې په دې نوم سره دعا وغوښتى شي نو قبلوي يې «.
مسند ابويعلى کې دي چې نبي عليه السلام فرمايي : دري کارونه دي چې څوک يې په ايمان سره وکړي نو دجنت په کومه دروازه چې دى غواړي ننوتى شي اودجنت کومې حورې سره چې نکاح کول غواړي نو کولى يې شي – يو هغه چې خپل قاتل معاف کړي او پټ قرض اداء کړي او دهر فرض لمانځه نه وروسته لس ځله سورة اخلاص ووايې . (په تفسير ابن کثير کې دسورة اخلاص ډير فضائل بيان شوي دکتاب دحجم دغټوالي له وجه مې دلته ندي رانقل کړي هيله ده هلته مراجعه وکړئ البته پښتو چاپ هم شته)
عکرمه رضي الله عنه فرمايي چې يهودو به ويل مونږ دعزير عليه السلام عبادت کوو چې دالله پاک ځوى دى او نصرانيانو به ويل چې مونږ دعيسى عليه السلام عبادت کوو چې دالله پاک ځوى دى او مجوسيانو به ويل مونږ دلمر او سپوږمى عبادت کوو اومشرکانو به ويل مونږ بت پرست يو نو الله پاک دا سورت نازل کړو چې اى نبي ته ووايه چې زمونږ معبود خو الله تعالى دى چې واحد دى احد دى نه دهغه په شان څوک شته نه وزير لري اونه شريک نه يې څوک دبرابرۍ شته اونه يې هم جنس شته او دهغه برابرهيڅوک په اولو هيت کې نشته الله پاک فرمايي( وقالوا اتخذ الرحمن ولداً)داکافران وايي چې دالله پاک ځوى دى تاسو خو ډير يو خراب څيز راوړى دى او نژدې ده چې ددې خبرې په ويلو اسمان وشليږي اوزمکه وچوي او غرونه ذرې ذرې شي حالانکه داټول کائنات ځمکې او اسمانونه مخلوق او دى يې خالق دى او ټول يې غلامان دي
الله ﷻخپل صفات په خپله د خپل کتاب په ذريعه مونږ ته ښايي چې فرمايي :
»هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ (٢٢) هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ (٢٣) هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (٢٤) [سورة حشر «[
»هم دادى الله هغه چې نشته دى هيڅوک معبود پغير دده نه، پوهه دى په پټو او ښکاره څيزونو هم دا دى بخښونکى او مهربان ،هم دا دى الله چې نشته دى هيڅوک معبود په غير له ده نه ، دى بادشاه دى، ډير پاک دى،سالم دى دټولو عيبونو نه ، امن ورکونکى دى، ساتونکى ،غالب،او ډير زبردست دى، لوى دى ، پاک دى الله له هغه څه نه چې دوى يې ورسره شريکوي ، همدا دى الله پيدا کونکى ،نوى ښکاره کونکى،صورت جوړونکى ، هم دده لپاره ښکلي نومونه دي، تسبيح کوي دده څه چې په اسمانونو کې دي اوڅه چې زمکه کې دي او همدې دى غالب او دحکمت خاوند « سورة حشر«
صحيح حديث کې دي چې الله پاک فرمايي چې عظمت زما قميص او لويې زما څادر دى او دې دواړو کې چې څوک يو هم زما نه اخستل غواړي زه به هغه له عذاب ورکړم

»عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ: أَعُوذُ بِاللهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، ثُمَّ قَرَأَ الثَّلَاثَ آيَاتٍ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْحَشْرِ، ----- [ مسند احمد ج ٣٣ ص ٤٢١ برقم ٢٠٣٠٦ ] لكن إسناده ضعيف« مسنداحمد کې دي چې معقل بن يسار نه روايت دی چې نبي ﷺ وفرمايل : څوک چې سهار درې کرته (اعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم ) ووايي او دسورة حشر اخري دا درې اياتونه ولولي نو الله پاک به دهغه لپاره اويازره پرښتې مقررې کړي چې تر ماښامه به دده دپاره رحمت ليږي او که په دې ورځ مړ شو نو دشهادت مرتبه به ومومي او چې کوم بنده ددې تلاوت دماښام کوي هغه هم پدې حکم کې داخل دی ترمذي کې هم دا حديث شته خو هغه ورته غريب ويلئ«

په سورة انعام کې الله پاک خپل توصيف بيان کړی او بيا يې دهغې په تلاوت او لوستلو دلوي مکافاتو ورکولو وعده کړې لکه چې حديث دی: وَأخرج اله ديلمي عَن ابْن مَسْعُود قَالَ: قَالَ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم من صلى الْفجْر فِي جمَاعَة وَقعد فِي مُصَلَّاهُ وَقَرَأَ ثَلَاث آيَات من أول سُورَة الانعام وكل الله بِهِ سبعين ملكا يسبحون الله وَيَسْتَغْفِرُونَ لَهُ إِلَى الْقِيَامه[الدرر المنثور في التفسير المأثور٣جلد ٢٤٥صفحه [ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل چاچې دسحر لمونځ په جمع سره اداء کړواو په خپله مصلی ناست وي او دسورة انعام اولنې درې اياتونه ولولي په ده به الله پاک اويازره ملائکې مقررې کړي چې تر قيامته دالله پاک پاکي بيانوي او ده ته به بخښنه غواړي »

دسورة انعام لمړني اياتونه چې اجر يې پورته حديث کې ذکر شو دادي : الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّورَ ثُمَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ (١) هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ طِينٍ ثُمَّ قَضَى أَجَلًا وَأَجَلٌ مُسَمًّى عِنْدَهُ ثُمَّ أَنْتُمْ تَمْتَرُونَ (٢) وَهُوَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَفِي الْأَرْضِ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ (٣)[سورة انعام ]

دالوهيت اوخدايي ټول صفتونه هغه ذات لره دي چې زمکه او اسمانونه يې پيدا کړي ، رڼا او تيارې يې پيدا کړي بيا هم هغه کسان چې دحقې خبرې نه منونکې دي نور شيان د رب سره برابروي . او دا هغه ذات دی چې تاسي يې له ختې څخه پيدا کړی ، بيايې ستاسي لپاره دژوند يوه نيټه وټاکله او يوه بله نيټه چې هغه هم دده سره له مخکې نه ټاکلې شوې خو بيا هم تاسو په شک کې لويدلي ياستئ .او همدا الله په اسمانونوکې دی او هم په زمکه کې دی ،ستاسي په ښکاره او پټو حالاتو او څه چې کوي په ټولو ښه پوهيږي«.

»عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ سُورَةُ الْأَنْعَامِ سَبَّحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: «لَقَدْ شَيَّعَ هَذِهِ السُّورَةَ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مَا سَدَّ الْأُفُقَ» هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ «فَإِنَّ إِسْمَاعِيلَ هَذَا هُوَ السُّدِّيُّ، وَلَمْ يُخَرِّجْهُ الْبُخَارِيُّ» [المستدرک علی الصحيحين للحاکم ج٢ ص ٣٤٤ « ] جابر رضي الله عنه فرمايي چې کله سورة انعام نازل شو رسول الله ﷺ تسبيح ويله بيايې ووېل چې ددې سورة سره دومره ملائک راغلي چې افق يې بند کړی «

تفسير ابن کثير دالله پاک دپيژندګلوی لپاره اية الکرسي ښه دليل وړاندې کړی چې الله پاک په خپله ژبه خپل ځان معرفي کړی

اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ (٢٥٥

الله! ، نشته دی معبود برحق مګر همدغه الله دی هغه ژوندی دی دټولو قائمونکی دی په هغه پرکالي او خوب نه راځي ده لره دي څه چې په اسمانونو کې دي او څه چې په زمکه کې دي ، څوک دی چې سفارش وکړي  هغه ته مګر دهغه په اجازت ، هغه پوهيږي په هغه څه چې دهغوی په مخکې دي او څه چې ترې وروسته دي او هغوی احاطه نشي کولای دڅه شي دهغه دعلم نه مګر څه چې هغه وغواړي ، راګير کړي دي کرسي دهغه اسمانونه اوزمکه ، او نه سترې کيږي ددوی په ساتنه او همدغه الله دی دډيرو وچتو درجو والا او ډير لويي دی« ابْنُ كَعْبٍ-أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهُ: "اي آيَةٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ أَعْظَمُ"؟ قَالَ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. فَرَدَّدَهَا مِرَارًا ثُمَّ قَالَ أُبَيٌّ: آيَةُ الْكُرْسِيِّ. قَالَ: "لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ أَبَا الْمُنْذِرِ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ لَهَا لِسَانًا وَشَفَتَيْنِ تُقَدِّسُ الْمَلِكَ عِنْدَ سَاقِ الْعَرْشِ"» « مسند احمد ج۳۵ ص۲۰۰« ابی بن کعب رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې په قرآن کې کوم ايت دډير عظمت واله دی دوی ځواب ورکړو چې الله او دهغه رسول پوهيږي ترديې چې دا دري واره تکرارشو کعب رضي الله عنه ورته ووېل ايةالکرسي رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ابو المنذ ر تاته دې ستا علم مبارک وي په هغه الله مې دې قسم وي چې زما ساه يې په قبضه کې ده چې دې ايت لره ژبه ده او شونډې دي او دالله دعرش يوې پايې ترڅنګ دالله پاکي بيانوي«

دشلمې سپارې په شروع کې الله پاک زمونږ ديوهولو په منظور له مونږ نه پوښتني کوي چې دا کار څوک کوي؟ او دا کار څوک کوي؟ يعنې د هغو کارونوپه هکله پوښتني کوي چې هغه پغير له ده نه بل څوک له سره کولی نشي لکه چې فرمايې:

»أَمَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنْزَلَ لَكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَنْبَتْنَا بِهِ حَدَائِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ مَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُنْبِتُوا شَجَرَهَا أَإِلَهٌ مَعَ اللَّهِ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ (٦٠) أَمَّنْ جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَالَهَا أَنْهَارًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا أَإِلَهٌ مَعَ اللَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (٦١) أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ أَإِلَهٌ مَعَ اللَّهِ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ (٦٢) أَمَّنْ يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ أَإِلَهٌ مَعَ اللَّهِ تَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ (٦٣) أَمَّنْ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَمَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَإِلَهٌ مَعَ اللَّهِ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (٦٤)النمل«

»ايا چاپيدا کړل اسمانونه اوزمکه اوراښکته کړي تاسو دپاره له اسمان نه اوبه پس راشنه کړل مونږ په دې سره باغونه ښايسته چې نه وه (ممکن) تاسو دپاره دا ونې را وټوکوی دهغې باغونو ايا بل څوک معبود شته دالله سره؟ (نه)بلکه داپوه ډله ده چې کاږه روان دي – اياچا جوړه کړه زمکه ځای دقرارۍ او جوړ يې کړل په مينځ ددې کې نهرونه او پيدا يې کړل په دې کې غرونه او پيدا يې کړله په مينځ ددوو دريابونو کې پرده ايا بل معبود شته دالله سره؟ بلکې اکثر ددوی نه پوهيږي –ايا څوک دی چې ځواب ورکوي محتاج ته چې کله هغه وغواړي او لرې کوي تکليف او جوړوي تاسو نائبان «بادشاهان » په ځمکه کې  ايا بل معبود شته دالله سره ؟ ډير لږ تاسو نصيحت حاصلونکي يې – ايا څوک دی چې تاسو ته لاره ښايي په تيارو کې دبيابان او درياب او څوک رالیږي هوا ګانې زيرې ورکونکې مخکې له رحمت (باران)خپل نه ايا بل معبود شته دالله سره؟ ډير لويې دي الله دهغه څه نه چې دوی يې شريک نيسي – ايا څوک دی چې په اول ځل مخلوق پيدا کوي بيا به يې دوباره پيدا کوي هغه ، او څوک رزق درکوي تاسوته له اسمان او ځمکې نه ايا بل معبود شته دالله سره؟ ورته ووايه راوړی خپل دليل که چيرې تاسو رښتني يې  «.

الله پاک د ټولو کائناتو خالق مالک او رازق دی چې ددې په پیداکولو، رزق ورکولو او ددې په ساتلو کې هیچا ته محتاج نه دی  د کائناتو جوړونکی ،دټولو پیداکونکی ، ټولو له روزي ورکونکی ، دټولو حفاظت کونکی ، دټول جهان تدبیر نیونکی صرف الله دی دا اوچت اسمانونه  دا پرقیدونکې ستوري هغه پیدا کړي دا درنده زمکه او په هغې کې دا اوچت غرونه او دا خواره واره مېدا نونه او دشتې ، پټي ، باغونه او فصلونه ، مېوې او داني ، ګلونه ، دریابونه ، حیوانات ، انسانان پرېان ، اونورځناورهغه پیدا کړي {وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَهٌ وَفِي الأَرْضِ إِلَهٌ} [الزُّخْرُفِ: ٨٤]سورةالزخرف کې الله جل جلاله پخپله فرمایي: او دا الله هغه ذات دی چې په اسمان کې هم اله دی او په زمکه کې هم اله دی [داله  معنی علماؤکړی ( چې لایق دعبادت او بنده ګي ځای دخواست اودځاری په ټولو حاجاتو مشکلاتو کې اله بلل کیږي ، بل ځای کې فرمایي:يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ} كَقَوْلِهِ {تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَاوَاتُ السَّبْعُ وَالأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا} [الْإِسْرَاءِ: ٤٤»     پاکي بېانوي ده لره څه چې په اسمان کې دي او څه چې په زمکه کې دي. لکه بل ځای فرمایي : پاکي بېانوي اوه اسمانونه اوزمکه او څه چې په دي کې دي او یو شئ هم داسې نشته مګر خو تسبیح او تحمېد وایي خو تاسو دهغوی په تسبیح ویلو نه پوهیږئ یقیناً الله بردباره او ببنونکئ دی




داحادیثو په رنا کی له تحت الثری نه تر عرش مولا پوری دمخلوقاتو تمثیلی نقشه ترسیم شوی - والله اعلم

# تمت بالخیر

## یا الله دا کتاب ماته او زما ټولو خپلوانو ته بلکه ټولو مؤمنانو ته دخپلې رضاء سبب وګرځوې

## امین

# مأخـــــــــذونـــه


۱- تفسير ابن كثير ؛ مؤلف :امام ابى الفداء ابن كثير ـــ پښتو تر جمه : زاهدي احمدزی--چاپ کال ۱۳۶۷ ش پشاور
۲- تفسير القرطبي   مؤلف امام قرطبي رحمه الله
۳ ـ الفيصل مجله ۲۰۴ گڼه دنشر مدير عبدالعزيز رفاعي ـ  چاپ کال: ۱۴۱۴ هجري رياض
۴- تفسير نشاپورې
۵ ـ كبري اليقينيات الكونيه -مؤلف: الدكتور رمضان البوطي محمد سعيد ـ چاپ کال : ۱۴۲۴هـ دمشق
۶ ـــ تفسير ابن ابى حاتم
۷ ـ تفسيرالصراط المستقيم (۲ج ـ تاليف:ايت الله السيد حسين البروجردي ـ چاپ کال: ۱۴۱۹هـ ق،قم
۸ ـ قران كريم پښتو ترجمه ـــ پښتو ژباړه: قيام الدين كشاف ـــ چاپ کال : ۱۳۸۸ ش  كابل
۹ ـ  صحيح بخاري ـ سنن الترمذي- سنن ابى داود- مسند امام احمد بن حنبل رحمه الله دوهم جلد
۱۳- مشكوة الشريف پنځم جلد
۱۴- سيرة النبي صلي الله عليه وسلم    امام حسن ندوي رحمه الله
۱۵- البدايه والنهايه  ـ  مؤلف امام ابن كثير رحمه الله
۱۶- كنز العمال :  مؤلف للعلامة: علاء الدين علي المتقي بن حسام الدين الهندي البرهان فوري
۱۷- Astronomy- -- مؤلف: John  D. Fix---- چاپ کال ۲۰۰۱ م    ؛ امريكا
۱۸- Astronomy -- مؤلف: John  D. Fix----- چاپ کال ۱۹۹۹ م ؛ امريكا
۱۹- نشنل جغرافيا ۱۸۵ گڼه -------------------- چاپ کال : ۱۹۹۴م   ؛ امريكا
۲۰- لسم صنف كيميا ـ تاليف : پوهني وزارت ---- رياست چاپ کال: ۱۳۸۴ ش نبراسكا تعليمي مطبعه
۲۱ــ  جوانان چې مي پرسد ؟ --تاليف: محمد علي عالمي -- چاپ کال : ۱۳۴۹ ش  قم
۲۲- Biology Understanding Life - مؤلف: Alters - چاپ کال : ۱۹۹۶ م ،  امريكا
۲۳- زولوژي -تحت نظر: گل سليم شرافت ، احمد شاه جلال - چاپ کال: وزارت تحصلات عالي
۲۴ ـــ زيست شناسي ياخته اي : مؤلف :كلود- لوئي گالين ، ترجمه : بهروز شاهسون بهبودي ، خير النساء محرر خمامي ۱۳۷۲ کال تهران
۲۵ــــدويني فزيو لوژي : مؤلف ،دكتور ولي محمد وياړ - دچاپ کال ۱۳۹۰ ش ، كابل
۲۶ــــجمعيت وتنظيم خانواده: مؤ لف ،مهناز نخعي  --- دچاپ کال ۱۳۸۴ ش  ايران
۲۷ - تو ليد مثل ووراثت ـ مؤلف :چارلز اچ هيملر،مترجم :علي اصغرآوز- چاپ کال: ۱۳۱۴ ش تهران
۲۸- اب وفعاليت جيو لوجيكي ان ،مؤلف : اثر علمي استاد عزت الله -- چاپ کال ۱۳۷۵ش
۲۹- زمين شناسي فزيكي ، مؤلف: ليت، جورسن -----  چاپ کال ۱۳۸۲ ش . ايران
۳۰- دقرأن كريم اعجاز، مؤلف :هارون يحيى، ژباړه: محمد شفيق حقپال -دچاپ کال ۱۳۸۷ هـ ش
۳۱- انتر نت  گوگل ، ۰-- ويكپيد يا -- فلاگ فا
۳۲- عمومي هستولوژي ـ مؤلف : رحماني فضل الهي  :كندهار طب استاد: چاپ کال:۱۳۹۰ ش كابل
۳۳ - مجلۀ اطلاعات علمي، شمارۀ پي‌درپي ۳۳۱، ماهنامۀ فروردين ,۱۳۸۶
۳۴ - كتاب (كوهپيمايي:--- كوهنوردي )غلامحسين حسن‌پور،تهران،بامداد كتاب، ,۱۳۸۵
۳۵ - هربرت زيم و رابرت بيكر،"ستاره‌ها"، ترجمه محمد حيدري ملايري، انتشارات انجمن ملي حفاظت منابع طبيعي و محيط انساني، ۲۵۳۶
۳۶ - ماير دگاني، "نجوم به زبان ساده"، ترجمه محمدرضا خواجه‌پور، انتشارات گيتاشناسي،۱۳۶۹
۳۷ ـ  فهم الفلكيات / مؤلف : كاكا خيل سيد شبير احد - چاپ کال  ۱۴۳۱  هـ ق مكتبه دارلعلوم كراچي